# کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | افغانیزم |
| لیکوال | عبدالغفور لېوال |
| خپرندوی | ودان افغانستان ګوند، فرهنګي څانګه |
| د خپرولوړ | ۴ |
| کمپوز | عبدالغفورلېوال او سمسور حبیبي |
| چاپ کال | ۱۳۹۱ ل |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ټوکه |

{ {هغه کتابونه چې سمسور وو بپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر لیکه کوي،نور څوک یې پر لیکه کول اجازه نه لري } }

www.samsoor.com

# افغانيزم

پېژندنه

افغانيزم کومه پېچلې فلسفه نده ، دا په ( محور ) ورځپانه کې زما ديوه کالم سرليک دی ،چې غواړم تر دې وروسته خپل افکار پکې راونغاړم. ددې ستون ټولې ليکنې به پردې چورليز راڅرخي ، چې څنګه خپله نن او سبا پخپله جوړه کړو او له پرديو ايزمونو او اکټونو څخه ځان خلاص کړو. افغانيزم ټولو ورځپېښو ته له افغاني ليدلوري ګوري او هڅه کوي ملي ستونځو ته دافغاني فکر په ځواک په هېوادکې له موجودو امکاناتو څخه دکاراخيستنې په مټ حللارې ولټوي ، چې دولت ، ملي ځواکونه ، مدني ټولنه او شخصيتونه پرخپل ځان له اتکا څخه دملي اصلاح هڅې پيل کړي. ځينې لوستونکي به وايي چې د نړيوالتوب يا ګلوبلايزېشن په دې عصر کې نو دغه اصطلاح ( افغانيزم ) څه مانا درلودلای شي ؟ دې انديښنې ته بايد ځواب ورکړم ، موږ دافغانيزم له انددود څخه افغانستان تجريد ته نه ورټېل وهو ، بلکې غواړو له دې لارې دټولو هڅو محور دافغان او افغانستان ګټې وټاکو او هرې هغې سياسي ، ټولنيزې ، فرهنګي او ان فردي هڅې ته لومړيتوب ورکړو ، چې افغان او افغانستان ته ګټه رسولای شي. موږ که پر نړيوال پرمختيايي بهير هم ورګډېږو موخه مو بايد دافغانستان ملي ګټې وي ، که له بهره څه راوړو هم ښايي دافغان دګټې لپاره يې وکاروو ، او که له بهرنيو سره کومه سياسي هوکړه کوو ، هم ګټه يې بايد افغان او دافغان هېواد ته ورسيږي.

ايا تر اوسه داسې نده؟

نه ، له بده مرغه موږ دا ديرش کاله له بهرنيو څخه ايډيولوژۍ راپوروو ، وسلې ورڅخه راوړو ، له استخباراتو سره يې ملګرتيا کوو او بيا نو د بل ټوپک او دورور سينه ، دبل اور او دخپل بچي ښوونځی ، د پردي هوس او دخپلې تورسرې بې عزتي ، دبل ګټې او زموږ متې آن دبل په زور زموږ دروغجنه پاچايي...

ددې بهیر د سرچپه کولو لپاره، د افغانیزم پر لاره روانیدل پکار دي او هر څوک باید خپلې سیاسي هڅې پر همدې کوڅه تیرې کړي.

بېلګه :

همدا نن سبا د سولې لپاره دخبرو هنګامه توده ده ، مذاکرات دي ، پټې او ښکاره لیدنې کیږي او رسنۍ ښې ګرمې لګیا دي ،خو هیڅ څوک پوښتنه نه کوي چې د دې ټولو هڅو دابتکارمحور دچا دی ؟ او دا هر څه دچا لپاره کیږي ؟افغان او افغانستان چیرته دي ؟او بیا به دچا دګټو لپاره دا هېواد یوه نوي ناورین ته ورننوځي ؟

مذاکرات که له هر چا سره وی ، له طالبانو یا له حزب اسلامي سره، که له امریکا یا کوم ګاونډي سره ، له افغان حکومت یا له بل لوري سره ، که هدف ورڅخه دافغانستان سوله وي نو ګټوره به وي ،خو که له دې خبرو څخه هدف دځانګړیو ډلو واک ته رسیدل یا په واک کې پاتې کیدل وي او دمرکچیانو له دې تندې څخه بهرنیان خپلې ګټې پورته کوي ، نو مه دې شه او وطن به دبلې بلا خولې ته ننوځي. دیرش کاله کیږي ، چې زموږ د سیاستونو محور افغانیزم نه دی ، ځکه خو کله له شورویانو سره مذاکرات کوو، کله له امریکایانو سره ، یو ځل له پاکستانه دخبرو کولو غوښتنه کوو بیا عربي هیوادونه منځګړي کوو، کله ترکیې ته ځغلو، کله قطر ته کورنۍ باسو ، په میلیونونو کورنۍ مولاهم په ګاونډیو هېوادونو کې دهغوی د سیاسي لوبو او ګټو لپاره یرغمل دي ، ولې ؟؟ دجرګو ، سپینږیرو ،مرکو او نرخونو په دې وطن کې دومره یو پر بل باور او اعتماد نه دی پاتې ؟داځکه چې موږ پر افغانیزم باور نلرو او د سیاست وسایل او وسایط مو خپل ندي ، پردي دي. دحکومت کولو اقتصاد موخپل ندی ، خپلو مامورینو ته کله په روسي الوتکو کې دکوپون اوړه راوړو او کله په کلدارو تنخواه ورکوو ، کله یې په ډالرو چلوو او کله یې د ریالو په کڅوړو نازوو. دوطن دښتې له تندې سوزي او دوطن روان سیندونه په بیړه بهر ته روان دي ، داځکه چې زموږ سیاست افغانمحوره ندی او موږ دنورو په ایزمونو پسې منډې وهو.

دروانو خبرو اترو ستونځه هم همدا ده ،چې لاخو افغانمحوره ندي او فکر یې پر افغانیزم نه دی ولاړ ، ددواړو لوریو ( افغان حکومت اوسله والو مخالفینو ) لاسونه دنورو تر ډبرو لاندې دي ، دواړه لوري هغو نړیوالو او سیمه ییزو ځواکونو ته احتیاج دي ، چې ددوی دسیاست او واک اقتصاد یې په ګورت کې دی ، ډیره اندیښنه او دهځو اصلي موخه هم د کم وزیات اته ویشتو میلیونو افغانانو دژوند او مرګ په اړه نده ، لویه اندیښنه داده چې کومه ډله به ځوځوکۍ راخپلې کړي او په راتلونکي کې به یې واک څومره وي او یا هم ښایي په دې هم چنې وهل کیږي ، چې ددوی دبهرنیو انډیوالانو برخه به څنګه شي ،هغه انډیوالان چې دوی یې لاتراوسه د ډالرو او کلدارو په سیرومونو ژوندي ساتلي دي؟

افغانیزم پر خپل اقتصاد دخپلو خلکو دګټو لپاره د خپل فکر پر اساس دسیاستونو پر مخ بیولو ته وایي او نور ټول لوري او څیزونه یې وسایل دي. له بهرنیانو سره دوستي او دښمني ، له نورو سره سیاسي اړیکي او په خپلو کې روا سیالۍ ښایي د افغانانو د ګټو لپاره وسایل وي ، نه داسې اهداف چې دافغان ماشوم اوافغانې میرمنې وینه یې دتر لاسه کولو لپاره وبهول شي.

همدا ده دافغانیزم ساده پېژندنه ، راځئ !ددې لړۍ په لوستلو او عمل ته په راو ستلو سره یې زما او زماد ملګرو ملارا وتړئ.

# سحر گله او افغانستان

په دې ورځو کې رسنۍ ، دمظلومې سحرګلې په اړه ،پرخواشينوونکيو خبرونو ډکې دي. داکوشنۍ ناوې په پيسو خرڅه شوې ده او بيا يې په بغلان ولايت کې د خاوند په کور،پر همدې دنيا دوزخ ليدلی دی، رسنۍ وايي چې سحرګلې د خپل عزت دساتلو لپاره دا ټولې شکنجې پر ځان زغملي دي ، مرګ يې په سترګو ليدلی خو خپله حيا يې ساتلې ده ، دخاوند دکورنۍ له خوا( دپيسو په وړاندې بدلمنۍ ته داړايستلو لپاره) په مياشتو مياشتو زنداني شوې ده ، ويښتان يې پرې شکولي دي، نوکان يې ترې ايستلي دي ، غوښې يې ورڅخه په امبور شکولي ، دومره يې وهلې ده چې څېره يې دپېژندلو نده او نور نو خپل او پردی نه پيژني ، ګاونډيو پرې پوليس خبر کړي او اوس په روغتون کې ده ....

دافغانستان دغه لور دخپلې هيوادنۍ مور په څېر ده ، هو ! افغانستان هم هغې ته ورته دی ، افغانستان هم خپلو ځينو بچو په پرديو پلورلی و اوبيا يې دخپلې کورنۍ نورو غړيو لوټ کړی و ، شتمنۍ يې ترې وړې وې ، شل او شوټ کړی يې و ، بدرنګه کړی و ، ويښتان او نوکان يې ترې ايستلي وو ، تاريخ او فرهنګ يې ترې لوټلی و او.....

پر افغانستان هم پردي رابرابر شول او له خپلو څخه يې وژغوره ( ! )،خو اوس هم افغانستان او هم سحر ګله دنورو لاس ته پاتې دي ، سحرګلې ته هم دروغتون کټ د مرګ وژوند پوله ده او افغانستان ته هم د پرديو رحم د مرګ او ژوند برخليک ټاکي ، سحر ګله له خپل خاوند ، خواښې او خسرګنۍ څخه پردي ډاکتران او پوليسان ښه ګڼي او نامحرمه نارينه او ښځې ورته دژغورنې پرېښتې ښکاري ، افغانستان هم د خپلو بچو د بېرحميو ، وژنو او تالان له لاسه دپرديو کافرو خيرات ته احتياج دی او دهر يوه رحم ته په تمه دی. سحر ګلې هم دخپلې حيا او عزت ساتنه کوله چې ټولو ښځمنو ته د ملالې او ناهيدې( چې له مکروريانو يې ځان راوغورځاوه ) په څېر يو بل تاريخ پرېږدي او افغانستان هم خپله خپلواکي ساتله او دنړۍ د ټولو مظلومو ملتونو دخلاصون لپاره يې خپله وينه بهوله. سحر ګله د پلارګنۍ او خسرګنۍ د بېرحمۍ ، حرص او ورېسترګۍ قرباني شوه او افغانستان هم د ختيځ او لويديځ

د حرص ، لویې غوښتنې او ښکېلاک سیالیو وخوړ او لاېې هم خوري. د سحر ګلې په ژغورلو سره هم ډېرو کسانو ستوني وپړسول او د افغانستان تش په نامه ژغورونکیو هم د خپلو ګټولپاره کڅوړې وپړسولې، ځوریدلې سحر ګله ، په روغتون کې ، هماغومره د بېلابېلو چاړواکو شور او ځوږ ، د کمرو فلشونو او مایکونو په عذاب کړې ده .لکه افغانستان چې د لویدیځوالو کنفرانسونو ، تبلیغاتو او بې ګټې هیاهو ستومانه کړی دی ، سحر ګلې ته به هم د خواخوږیو دغه سخاوت له څو ورځو ډیر دوام ونه کړي او افغانستان هم تر ابده د نورو په ډالري سیروم ژوندی نه شي پاییدلای ، زموږ اداري او سرکاري وضعیت داویره رامنځته کوي ، چې سحر ګله یوځل بیا د خسرخیلو لاس ته ونه غورځیږي او د افغانستان برخلیک هم دې ابهام ته ورنږدې کیږي ، چې د ګاونډیو لیوانو رحم ته پاتې نشي؟! دواړه حیران دي او دواړه به فکر کوي چې څه به پیښیږي ؟

سحر ګله باید له رغیدو سره سم د خپل راتلونکي ژوند په اړه په خپله پریکړه وکړي: هغه زړه وره او غیرتي افغانه چې خپل عزت ساتلای شي باید خپل ژوند هم پخپله جوړ کړي ، دې نامرادې ناوې د خپل ولس په خبر خپله حیا ساتلې خو نن باید د خپلې ډوډۍ او کور غم پخپله وکړي ، هغه هیڅ ریښتینی خواخوږی نلري ، مور و پلار و پلورله او خسرګنۍ د مرګ میچنې پرې وګرځولې.... خو یوه بله سحر ګله وزیږیده دهغې په ځان کې ، دهغې په روح کې دا سحر ګله به د ټولو مظلومو ښځو د ژغورنې جنډه پورته کړي او ......

افغانستان هم ریښتینی خواخوږی نلري ، هیڅ سیاسي دوست یې نشته ، هر څوک تر خپله مطلبه یاردی ، هر نړیوال ځواک او هر ګاونډی په خپلو ګټو پسې راغلی دی.

د سحر ګلې ولسه ! پخپل لاس د خپلې ډوډۍ ګټلو او پر ځان د رحم کولو سبق پیل کړئ ، له دې پرته بله لاره نشته. هغه ولس چې د خپلې ملي حیا د ساتلو لپاره یې هرڅه له لاسه ورکړل دا شرم څنګه زغملای شي، چې خدای مکړه خپلو لوڼو ته یې د سوال لاس نیولی وي او تر قیامته د سوالګر ولس په توګه پېژندل کیږي؟؟

ژوندۍ دې وي سحر ګله ، ودان دې وي افغانستان !

# سیاسي اراده

دجمهوریت د منطق پر بنسټ ، دټولنې اکثریت یا دحساب وړ خلک هاغه دي ، چې خپله سیاسي اراده کاروي . په بله مانا ، له ټولو وګړیو څخه سیاسي جمهور ( دحساب وړ اکثریت ) دسیاسي ارادې خاوندانو ته وایي. په هره ټولنه کې چې دسیاسي ارادې کاروونکي ډیر وي هلته جمهوري بنسټونه او ولسواکي پیاوړې وي او په کومه ټولنه کې چې سیاسي اراده دیوه ځانګړي قشرله خوا کاریږي ،نو هلته همدغه شمیر خلک پر نورو بې ارادې وګړیو حاکمیت چلوي او که دخلکو له غبرګون څخه ونه ډار شي، نو هغه ډول واک چلوي ،چې زړه یې وي.

موږ افغانان په شکایت کولو کې تر ټولو تکړه خلک یو ، شکایت مو دادی چې په وطن کې ټول امتیازات ټوپکوال ، زورواکي ، زر واکي او فاسد وګړي اخلي ، ولې دوی پر موږ رحم نه کوي او لاموهم په دې او هغه نامه وژني ؟ددې شکایت او پوښتنې ځواب دادی ،چې دغه لږه کی ( اقلیت ) زورواکي او ټوپکوال تر نورو تکړه دي ، ځکه خپله سیاسي اراده کاروي او واک چلوي ، دا بېله خبره ده ،چې دوی خپله سیاسي اراده په منفي بڼه کاروي ، خبره په ښه یا بده اراده کې نده ، زموږ بحث پرارادې والا او بې ارادې وګړیو ده ، په هغه ټولنه کې چې اته ویشت میلیونه بې ارادې وګړي د څو سوو ، یا ورځه څو زرو ، ارادې والا خلکو پر وړاندې په ګونډو شي او دغه څوزره کسان یوازې دخپلې ګټې اوځواک په اړه فکر کوي ، حالت به همداسې وي. زموږ یوه ملي ستونزه داده چې زموږ خلک دخپلې سیاسي ارادې پرکارونه یا سمه کارونه ندي خبر ، یا یې پروړاندې بې تفاوته دي ، یاهم نه پرېښودل کیږي او یا ...

حاشا او باخبر !چې سیاسي اراده دې ته نه وایي ،چې سوټی یا توره راواخله او ویني وبهوه ، څه کوې چې سیاسي اراده کاروم. نه !هوښیار ملتونه خپله سیاسي اراده په سوله ییزه او د خپلې ټولنې د وګړیو دانساني ژوند دښه کولو لپاره کاروي .

ښه ، زموږ بحث ورو ورو يوې په زړه پورې پايلې اخيستنې ته ورنږدې کيږي او هغه دا چې له دغه ټولنيز ناورين ( جګړې ، بې وزلۍ ، پرديو لاسوهنو ، استبداد ، فساد او پاشلي وضعيت ) څخه هغه وخت ځان خلاصولای شو ، چې خلک دسياسي ارادې کارولو ته وهڅوو ، دسياسي ارادې کارولو ته په مثبته ، ژغورونکې او رغښتيزه ( اصلاحي ) روحيه ، هڅوونه د روښانفکرانو ټولنيز مسئوليت دی.

سياسي اراده څنګه کارول کيږي ؟ ډيره سخته نده ، له اسانه چارو يې پيلوو ، دبېلګې په توګه:

هر افغان دې دخپل کور مخه پاکه کړي ،

هر افغان دې خپل اولاد ښوونځي ته وليږي ،

هر افغان دې درايې مرکز ته ولاړ شي او دخپل ژوند دژغورلو لپاره دې(ښه ) کانديد ته رايه ورکړي ،

هر افغان دې ، په خپل ورځني ژوند کې د فساد مخه ونيسي او هر افغان دې دهر منفي حرکت په وړاندې دپوليس دنده تر سره کړي.

هر افغان دې ددې مخه ونيسي چې څوک يې دهېواد ملي ګټې پر نورو وپلورلای شي.

او هر افغان دې له خپل سياسي حق څخه دکار اخيستلو پريکړه همدا نن وکړي ، همدادی چې جمهور ( ښه او مثبت اکثريت ) به پر لږشمير انحصارګر پوړ بريالی شي او هېواد به وژغورل شي.

تاسو به واياست چې دا خو اسانه کار ندی ، او زما کرښې به د ببغمه زړه نصيحت درته ښکاره شي ، دا به هم عجيبه درته ښکاري ، چې داسې غوښتنه نو څنګه له يوه لرې پراته، بې خبره او نالوستي کليوال افغان څخه کولای شو ؟ مګر يو څه تم کېدل پکار دي ،
دسياسي ارادې دکارولو لپاره داکثريت راويښول او پوهول ، عمل ته راوستل او سمه پايله اخيستل بايد له يوځايه پيل شي ، يو څوک يې پيل کړي او همدا نن يې ښايي پيل کړو ، له لږه کې مستبد پوړ څخه دخلاصون جمهوري لاره همداده.

په ریښتینې مانا سیاسي ګوندونه همدا کارکوي ،خلک ،د مثبت بدلون لپاره، پرخپلې سیاسي ارادې کارولو ته قانع کوي او هڅوي يې. موږ ګورو چې د یوه هېواد او ټولنې ژغورل او پرمختګ وربښل نه کوډې دي او نه هم ناشونی کار، له همدې ځایه پیل کیږي.

دا په یاد ولرئ: هربې ارادې اکثریت دبا ارادې اقلیت ترمرییتوب لاندې راځي ،نن سبا شمېر پر سرونو نه دی ، پر شعور او ارادې دی.

وړاندیځ :

روښانفکره ، ژمن او زړه سوانده نسل ، چې وکړای شي د خلکو باور خپل کړي ، ښايي د خلکو د سیاسي ارادې د کارولو لپاره، پر افغاني لیدلوریو او روشونو ولاړ فکري او عملي میکانیزمونه طرحه کړي او بالاخره دملي ژغورنې او اصلاح هغه کار اوس پیل کړي، چې باید ډیر پخوا مو پیل کړی وای.

# افغانان دګودو په تمه

( دګودو په تمه ) ډرامه ساموئل بکت دریشپېته کاله پخوا لیکلې وه ، ددې ډرامې لنډیځ دلته نشم لیکلای ، خو پر دې به رڼا واچوم ،چې ډرامه دڅه په اړه ده؟ ستراګون او ولادمیر دیوه خیالي ژغورونکي (ګودو ) په تمه دي ،چې راشي او ددوی لپاره یوه روښانه او سوکاله راتلونکې جوړه کړي ، په ډرامه کې یو بل کس (پوتزو ) ،چې ستراګون او ولادمیر دهغه دلاس خیرات ته ناست دي ،بیخي بل ډول کرکټرلري ، پوتزو هیڅا ته په تمه نه دی ، پخپله پریکړه کوي او پخپله په کار او زیار لګیا دی ، ځکه نو پر ټولو باداري کوي ، هغه هلکی چې د ګودو استازی دی ، له ګودو څخه عجیب او غریب خبرونه راوړي ، ګودو راروان دی خو دخپل راتګ لپاره شرایط لري او هغه ته په تمه وګړي باید داشرطونه پوره کړي ، شرایط سخت نه دي ،خو معجزې ته په تمه خلک باید دهغو دتر سره کولو لپاره دخپل اختیار او جبر تر منځ منطقي برید وپیژني او د هرجبر پروړاندې له خپل اختیار څخه کار واخلي.

دډرامې لیکوال غواړي ټولو خلکو ته سبق ورکړي ، چې ګودو ته دانتظار پرځای باید پخپله لاس پرکار شي ، دګودو پیغامونه او لارښوونې ، دهغه ته په تمه ، خلکو لارښود ګرځي او په پای کې خلک پوهیږي ، چې ګودو نشته ، خو اوس نو ناوخته شوې ده ، دوی هرڅه بایللي او پوتزو ،چې خپل اختیارې کارولی و ، خپلو ټولو غوښتنو ته یې ځان رسولی دی.

آیا موږ هم (ګودو ) ته په تمه یو؟ موږ افغانان چا ته په تمه یو ، چې راشي او دکوڅې خځلې مو راپاکې کړي ، یا مو لاس ونیسي چې پر سړک د څنګ بوتل ونه غورځوو ، پر خپلې لور او خور ظلم ونه کړو .... او بالاخره حکومت راته جوړ کړي او لکه یو لوی جادوګر په یوه چوف زموږ ټولې ستونځې راحل کړي ؟

ګودو به رانه شي ! ! ! خو نظر دډ رامې اتلانو ته يوه بدمرغي ، چې موږ يې لرو ، هغه د ګودو درغوونکو پيغامونو او لارښوونو نشوالی دی ، چې زموږ خپل ټولنيز اختيارته ورپام کړي او له هغه څخه د کار اخيستلو لارې چارې راوښيي.

هو ! موږ لاهم يوه ژغورونکي ( ګودو ) ته په تمه يو ! !

راځئ په افغانستان کې د داسې روښانفکره ، ژمنو ، زړه سواندو او پاکو کادرونو لټون پيل کړو ، چې د غايب (ګودو ) رول ولوبوي او خلک د منظمو طرحو په رامنځته کولو سره ددې ټولو راپېښو ټولنيزو جبرونو په وړاندې ، خپل اختيار کارولو ته وهڅولی شي.

موږ د ځان ژغورنې ټول وسايل لرو ، خو کارولی يې نشو . بهرنيانو له موږ څخه زموږ اختيار غلاکړی دی. نه ! توبه، نه يې دی غلاکړی ، موږ وربښلی دی ، ځکه يو شمېر کسان ، چې خپل اختيار کارولی شي، هغوی را څخه پرديو اخيستي دي ، زموږ ملامتي همدا ده چې دبهرنيانو له خوا په جادو شويو کسانو پسې منډې وهو او خپل اختيار مو هېر کړی دی. (ګودو ) به پخپله راولو او بيا به غوږ ورته نيسو ، چې څه وايي؟

( ګودو ) وايي:

موږ هم په فردي ژوند کې او هم په ګډ ټولنيز ژوندانه کې له ډېرو لويو جبرونو سره مخامخ کيدای شو ، جګړه ، ولږه ، فساد ، دپرديو ناځواني ، وزګاري او ...... خو له هرجبر سره د مقابلې لپاره لوی خدای(ج ) يو څه اختيارات او وسايل هم راکړي دي ، دبېلو بېلو افرادو او ټولنو تر منځ توپير په دې کې دی چې څوک څومره کولای شي دغه اختيارات او وسايل په معقوله توګه وکاروي ؟ موږ او جاپانيان همدومره توپير لرو ، چې هغوی تر لويې نړيوالې جګړې او اتومي چاودنوزغملو وروسته خپل اختيارات اووسايل تشخيص کړل ، وېې کارول او جاپان يې د نړۍ دوهم ستر اقتصاد کړ ، خو موږ لا هم ( ګودو ) ته په تمه يو ، چې راشي او داکار راته وکړي ، خو خدای خبر؟؟

وړاندیځ :

راځئ په رهبری او هغو عملي طرحو فکر کول پیل کړو ،چې پربنسټ یې افغانان دټولو موجودو جبرونو پر وړاندې ودرولای شو او دخپلو اختیاراتو او په لاس کې وسایلو کارول ورپه یاد کړو ، بیا یې ګام پر ګام پرمخ بوځو او بالاخره یې د (ګودو ) دډرامې د کرکټرونو په څېر د انتظار له حالته راو باسو .

زما ګران لوستونکي او ځیرمن دوستان ، چې دداسې طرحو او فکرونو په اړه کوم نظر یا وړاندیځ لري ، کولای شي ،دهمدې ورځپاڼې له لارې یې، تر موږ او ټولو هېوادوالو پورې راورسوي ، دا یوه اقتراح وګڼئ او په دې اړه خپل فکرونه سره شریک کړئ ، دملي ژغورنې لپاره د هڅو یولو مړنی ګام له همدې ځایه پیلیږي.

# دفساد پر ضد فساد

زما فکري ملگری ، ډاکتر درمل ، وايي: که انتي بايوتيکو درملو مېکروب لاپسې پياوړی کاوه او يا يې ننوتيو وايرسونو ته معافيت وربانېه ،نو ښايي د درملنې بله لاره وسنجول شي. ډاکتر يار مې داهم ورزياته کړه ، چې دا فورمول په ټولنيزو چارو کې هم د تطبيق وړدی. خبره يې ريښتيا ده ، زموږ په ټولنه کې ، په تيره بيا په وروستيو لسو کلونو کې ، د اداري فساد مېکروب له خپلو ښکرونو او لکيو سره لروبر کيږي او ددې پر ځای چې د راپيل کړې مبارزې له برکته کمزوری شي ، ورځ په ورځ پياوړی کيږي ، يو دليل يې دادی چې دفساد پر وړاندې مبارزه او تبليغات هم په فساد اخته شوي دي. څه موده مخکې مې له راډيو څخه يو عجيب ببښليد (گزارش ) اوريده ، پېښليد په کابل کې د کوڅه ډبو سپيو د ډيريدو په اړه و ، او دا ويره يې ښودله چې ددې سپيو د ليوني کيدو شونتيا ډيره ده او کيدای شي يوه لويه ښاري ستونځه رامنځته کړي ، خبريال دښاروالي ياکوم بل مسئول ارگان له کوم چارواکي سره په دې اړه مرکه کوله چې ولې دا کوڅه ډبي سپي له منځه نه وړئ، هغه غريب په ډيره بېچاره گۍ وويل ، د سپيو لپاره مو کوچوله ( د سپيو زهر ) راوغوښته چې د کوڅه ډبو چاره پرې وکړو ،خو هيڅ تاثير يې ونه کړ، ځکه وروستيو څېړنو وښوده ،چې کوچوله تقلبي وه او په قرارداد کې يې فساد شوی و ، دې کوچولې سپي ونه وژل ، بلکې لا يې پياوړي کړل. دفساد او فاسد ضد کوچوله هم تقلبي وختله او په افغانستان کې يې تاثير سرچپه راوخوت.

دفساد په اړه ټول مبصرين نه ښيېم ، خو يو شمېر يې يوازې شعار ورکوي ، خپله غوسه ښيي او زړه يخوي خو پر حل لاره خبر هم نه وي او چاره يې نه شي سنجولی. يو نيم خو ،چې په سرکار کې څوکۍ له لاسه ورکړه، نو په سبايې په تلويزيونونو کې راشين شو او خوله يې خلاصه کړه، بس بل څه نه ،همدا پرله پسې يې تکراروله ، چې دا فاسد حکومت او دا فاسد حکومت.... تش په نامه سياسي اپوزيشن هم په همدې ناروغۍ اخته دی ، نه کومه

سیاسي ـ اقتصادي طرحه لري او نه هم کومه فکري برنامه او ان دفساد دله منځه وړلو چل یې هم نه زده ، بس نارې وهي ، چې فاسد نظام او فاسد حکومت....

... او په دې توګه په نظام کې فسادکوونکي هره ورځ ددې غړونو په وړاندې معافیت اخلي او پیاوړی کیږي.

دا به ساده ګي وي که ووایو ، چې فساد نشته ، خبره له فساد سره په مبارزه کې ده . که یو ثوک پرمهمه ثوکۍ ناست وي او تر غوږونو په فساد کې ډوب وي خو چې له کاره وشړل شو او بیا فساد ضد ناري وهي ، نو دخلکو غبرګون به څه وي؟ که یو ثوک غواړي مقرر شي او د فساد په روان بخور بخور او بزن بزن کې ځان ورګډ کړي او ددې لپاره چې سرکار ته ځان ورپه یاد کړي ، یا هم فشار پرې راوړي ، نو په مېډیا کې فساد ، فساد ناري وهي نو اوریدونکي به څه فکر کوي؟؟

بېچاره ولس ، کله یوې خولې او کله بلې خولې ته ګوري او اوس د فساد او فسادضد فساد په فوټبال کې لکه توپ دېخوا او هاخوا سرګردان دی.

وړاندیځ:

تر هرڅه مخکې باید پر علمي بنسټ د موجود فساد دعواملو تشخیص وشي ، دا مېکروب څه ډول شی دی او له کومه راغلی دی؟ بیا ددې ښکارندې ( پدیدې ) د ورکولو لارې چارې څه دي ، په دې کې باید حکومت څه وکړي ؟ کارپوهان څه وکړي ؟ مدني ټولنه څه وکړي ؟ سیاسي جوړښتونه، مخور شخصیتونه ، دیني علما او ولس څه کولای شي ؟ فساد په سمندر کې د کنګلین غره په څېر دی ، موږ یې یوازې د څوکې یوه برخه ،چې له اوبو څخه راوتلې ده، وینو ؛ دا چې غرلاندې څومره دی ،پرې نه یو خبر ، آیا دا فساد ، لکه ددې دورې ډیموکراسي ، له بهر څخه ډیزاین شوی او راوارد شوی نه دی؟ که هو ، نو چاره یې څه ده؟

يو هغه کار، چې افغانان يې بايد پخپله د ځان لپاره وکړي ، پر داسې مهمو ملي مسئلو باندې فکر او کار کول دي. آيا موږ په ملي سطحه د زړه سواندو ، ژمنو ، هوښيارو او بېپرې روښانفکرانو داسې اصلاحي فشار ډله نشو رامنځته کولای چې دولس او حکومت تر منځ عمل وکړي، پورته وړانديځ شوې پوړۍ ګام پر ګام ووهي او بيا پرته له دې ،چې پخپله څه وغواړي ، احساسات وښيي ، کنځلې وکړي او خلک سرګردانه کړي ، دمعقولو او عملي طرحو په وړاندې کولو او عمل ته راوستلو سره داصلاح لوري ته لاره پرانيزي؟

زه فکر کوم داسې فشار ډله به هومره زوروره وي چې په نظام کې به يې هيڅ فاسد وګړی په وړاندې ځان ټينګ نه شي کړای او تر زرګونو شعارونو او چيغو څخه به يې اغېز ډير وي.

زما دډاکتر ملګري هغه خبر چې (( ... نو ښايي ددرملنې بله لار وسنجول شي. )) همداسې يوه چاره ده.

هيڅ ټولنيز مېکروب پخپله له منځه نه ځي ، اخلاق دومره پياوړي نه دي ،چې يو څوک دې دناسم کار کولو پر مهال دشرم احساس وکړي ، او بله دا چې لويه برخه ناسم کارونه په مجبوريت کې رينښه لري ، په هېواد کې د فساد يوه لويه برخه جرړې په مادي فقر کې دي ، احتياج اخلاق وژني. که يو څوک له تندې څخه دمرګ په حال کې وي او کوم ګېلاس او به پيدا کړي ، پرته له دې چې بل چا ته يې ست وکړي نو دژوند بچ کولو لپاره يې څښي ، په دې بيا وروسته فکر کوي ، چې اوبه پاکې وې که ناپاکې ، له مشروع لارې ترلاسه شوې وې که له نامشروع ؟ موږ ډير فکر په دې کوو ، چې فساد څنګه کيږي ؟دې پوښتنې ته ځواب نلرو، چې فساد ولې کيږي ؟

راځئ په معقولو لارو چارو د فساد زمينه وپيژنو ، د ټولو لپاره د مادي فقر علاج وکړو ، هله به له دې ټولو ستونځو څخه د خلاصون افق ته کړکۍ پرانيستل شي.

په دې اړه ستاسو قدرمنو لوستونکيو دغبرګون په هيله.

# فعال او منفعل سیاستونه

ولې زموږ سیاستونه ددې پرځای ، چې( فعال ) وي ، (منفعل ) دي ؟ولې مو سیاستونه سمې پایلې نلري ؟ دفعالو او منفعلو سیاستونو ترمنځ توپیر همدا دی ، چې فعال سیاستونه تولید لري، مثبت بدلون او پرمختګ راولي ،خو منفعل سیاستونه توپیرونه او بدبینۍ زیاتوي او ګټور نه دي. فعال سیاستونه دعقل ، تفکر ، علمي بنسټونو او منظمو برنامو پر بنسټ طرح کیږي ، خو منفعل سیاستونه د احساساتو ، سلیقو او ړندو تقلیدونو پر بنسټ رامنځته کیږي. منفعل سیاستونه د افراط او تفریط لامل ګرځي او همدا چې موږ په هرڅه کې له افراط او تفریط څخه نه خلاصیږو ، لامل یې دا دی ، چې سیاستونه مو منفعل دي. موږ یو ځل د ښځو دحقونو په اړه دومره عقده یې تفسیر رامنځته کړ ،چې روغتون ته موهم نه پرېښودې او نږدې و ، چې دهغوی له شر څخه دخلاصون لپاره ټولې ووژنو ، پر لوڅ مخ خو یې لاڅه چې په ښار کې یې پر ګرځېدوهم بندیز و ، بل ځل مو ددوی دآزادیو او حقونو داسې ډنډورې راسر کړې ،چې دبدخشان ښځو ته ددرملو او دبامیان وپکتیکا ښځو ته دډوډۍ ، تعلیم او انساني ژوند برابرولو پرځای مو په وزیراکبرخان مېنه او نوي ښار کې د نایټ کلپ او په هلمند کې د ښځینه حمام جوړولو شعارونه ورکړل ، او دې ته وراخطا وو ، چې ښځه دې دمیړه خبره هم نه مني او که ښځې سګرېټ له ډبلي څخه راویوست نو مېړه باید له وخته ورته لایټر لګولی وي او کنه د ښځو حقونه یې تر پښولاندې کړي او ښځه باید ژر دبشري حقونو کمیسیون ته عریضه وکړي

( نه بدان شوري یی شوري نه بدین بې نمکي ) افراط او تفریط. دا ځکه چې منفعل سیاست دفعال سیاست پرځای حاکم و او لا هم دی. دحزب دیموکراتیک په وخت کې کوم محصل په لیلیه کې پر بل محصل عریضه کړې وه چې له ده یې اجازه نه وه غوښتې اوددہ چپړقې (پلاستیکي څپلۍ ) یې پښو کړې دي ، معروض محصل ورته ځواب ورکړی و ، چې وروره کمونیستي نظام دی ، اشتراکیت دی ،خصوصي ملکیت نشته ته حق نلرې چې ووایې ( زما

چپړقې) ، نو دعارض بېچاره خوله له حيرانۍ وازه پاتې وه ، بل ځل چې امريکايي ډيموکراسۍ راغله ،نو دهمدې نظام (آزاد بازار) داسې ډنډورې راسر شوې ، چې يوه سلاکار وزير خپل ګوښه شوي چپړاسي ته په عذر د پرايويټايزيشن (خصوصي کيدو) شرحه ورکوله او ويل يې: ولاړ شه دکوم مالداره سړي په کور کې چپړاسي شه ځکه په نوي نظام کې هرڅه خصوصي دي. په هرڅه کې يې همداسې درواخله ، بهرني سياستونه مو هم همداسې دي ، دوست او دښمن مو نه دی معلوم ، دسليقو او احساساتو ياهم فردي تړاو او ګټو پربنسټ مو يو هېواد سهار ورور او دوست دی او مازيګرته بياخوني دښمن ، دعقل او ملي ګټو پر بنسټ فعاله ديپلوماسي نلرو.

موږ ولې پر منفعلو سياستونو لګيا يو؟ دنورو ټولنپوهنيزو ، فرهنګي او شعوري دلايلو سربېره يو بنسټيز لامل يې دادی چې موږ بېړه لرو ، موسمي سياست کوو او غواړو هره سياسي هڅه مو ژر حاصل راکړي ،په داسې بېړنيو شرايطو کې احساساتي شعارونه او دخلکو له عقدو څخه بيړنۍ ګټه اخيستنه له يوې خوا دمنفعل سياست لوبغاړي پړسوي او له بلې خوا ددوی دګټو بازار تود ساتي ، کاذبه کاريزما وربښي او دروغجن شهرت ته يې رسوي.س

له بده مرغه زموږ برخورد دلويو ، ملي مسالو په اړه هم منفعلانه دی ، دکادرونو د انتخاب په اړه مو هم ستونځه عاطفي او احساسي ده، نه عقلي. په اداره کې مو چې څوک پر سليقوي بنسټ خوښ شو ، نوهغه هم هوښيار دی ، هم له فساده پاک ، هم متخصص او هم فعال ، دا ځکه چې دقضاوت معيار دفعاليت پر بنسټ د توليد څومره والی او څرنګوالی ندی ، بلکې هغه انفعالي برخورد دی ،چې موږ يې له افرادو سره لرو.

منفعلو سياستونو د هېواد بيخ ويوست او ملت يې تباه کړ ، خو لايې هم چا په هکله بحث ونه کړ او چاره يې چا ونه لټوله.

وړاندیځ :

ټول سیاستونه باید پر عقلي بنسټ فعال شي. هدف باید ملي وي ، افغانستان ته دګټې رسول او دافغان دانساني ژوند دشرایطو ښه کول. اوس نو دې موخې ته درسیدلو لپاره باید خوځښت پیل شي ، ددې خوځښت فکر ، میکانیزمونه، تکتیکونه او وسایل په ټولیزه توګه ستراتیژي جوړوي. دداسې ستراتیژیو دعملي کولو لپاره فعال سیاستونه وضع کیږي. سیاستونه به هغه وخت فعال ، تولیدي ،پایښنده او ګټور وي، چې پر علمي بنسټ ولاړ وي. او دا هغه وخت شونې ده ،چې له پوهانو او ریښتینو متخصصینو څخه دعیني شرایطو ، امکاناتو ، وسایلو دپیژندلو په چاره کې ګټه پورته شي. اپلاتون په خپل جمهور کې د فیلسوفانو پر حاکمیت ټینګار کوي. موږ نه غواړو دوزره کاله وروسته دهغه پیښې وکړو ، داپلاتون موخه هم ښایي همدا نه وه چې خامخا دې فیلسوفان واک ته ورسوي ، بلکې ښایي موخه یې دا وه چې د تخصص پر بنسټ د هرې چارې لپاره دقانونمنده میکانیزمونو رامنځته کول شوني کړي. همداسې یوه ناسمه پوهېدنه زموږ سرکارهم له متخصصینو څخه دکاراخیستنې په اړه لري ،چې یونیم ډاکتر(پي اچ ډي) یا ماستر دلته او هلته مقرر کړي او ووایي: وروره !دادې هم متخصص. له همدې بحثه به پوه شوي یو ، چې زموږاند ښښنه یوازې دفعالو سیاستمدارانو په اړه نده ،بلکې د فعالو سیاستونو په اړه ده ، چې بیا یې دغه فعال سیاسیون عملي کړی شي. موږ په اقتصادي ، ټولنیزو ، فرهنګي ، حقوقي او سیاسي برخو کې ملي ، علمي او عملي ستراتیژیو ته اړتیا لرو ، چې دعقل ، عیني شرایطو ، مادي اوفرهنګي وضعیت او تخصص پر بنسټ رامنځته شوي وي ، نه داسې لنډمهاله او بې ارزښته سیاستلوبو ته، چې( ان جي او ) یي منیجرانو له انګریزي څخه راژباړلي وي او موډل یې یا برازیل وي یا هم سویډن. تقلیدي ، شعاري او افغانانو ته مبهم سیاستونه انفعالي حرکتونه زیږوي، چې ولس او هېواد ته هېڅ راز ګټه نشي درلودای، نن جوړیږي اوسبا هیریږي.

ددغو مقولونور تفسیر او تعبیر پر تاسو قدرمنو لوستونکیو.

# زموږ فېشن

عجیب خلک یو ، ډیرې سیالۍ مو ناسمې دي ، ددفترونو اهمیت په دې معلوملوای شئ ، چې څو مره لوی او لوکس دی، دفتر والا په څه ډول موټر کې ځي او ددفتر والا لیدلو ته څو ورځې انتظار ایستل پکار دي ؟ ددفترونو ارزښت له دې څخه نه شئ معلوملوای چې د څومره افغانانو مشکل پکې حل کیږي ؟ یا څومره خدمات وړاندې کوي؟ او یاهم څومره تولید لري؟ زه، په وروستیو کلونوکې ډیرو بهرنیو هېوادونو ته ولاړم ، له خاورینې ځمکې څخه راتاوشوم ، لوی ،واړه ، پرمختللي ، غریب او مخ پر وده هېوادونه مې وکتل خو هیڅ ځای مې دومره فېشن ونه لیده ، دهیڅ هېواد وزیران او چارواکي مې دومره بوخت ونه لیدل ،چې تولید یې نه وي معلوم او په کنډکپرسړکونو مې دومره لوکس موټر تر سترګو نه شول.موږ سړکونه نلرو ، خو قیمتي موټر ښه ډیر لرو ، دکار خبرې نه کوو ، خوډیر فیشني موبایل ټیلیفون دګڼوخلکو په جیب کې دی ،کار او تولید نه کوو ، خو دفترونه مو تر ګردې نړۍ لوکس دي ، داولې؟ په افغنستان کې دډلمشرانو ، کوماندانانو ، وزیرانو ، ریسانو او مهمو ښاغلیو دباډیګاردانو شمېر د سویس دټول هېواد دپولیسو یونیم برابر دی ، زموږ د درې سوو مهمو ښاغلیو دموټرو قیمت د هندوستان دنیمې وچې د ټولو دولتي ګاډو له قیمت سره برابر دی ، خو زموږ د یوولسو مهمو ښاغلیودکار تولید د بنګله دیش دیوه مدیر له تولید سره برابر دی. زموږ د یوه ښاغلي پخواني وزیر ددریشیو قیمت د ښو ونځیو د اته زره زده کوونکیو لپاره یونیفورم جوړولای شي او دیوه بل زورور ښاغلي د بزکشۍ داسونود خوراک لپاره د هر سهار هګۍ او کیلې دکابل ټولو سپندیانو او د موټرو ښیښه پاکوونکیو ماشومانو ته درې وخته ساده خواړه جوړولای شي.....

ستونزه همدومره نده ، په ودونو کې د ښځو د جامو او ګاڼو له بېځایه سیالۍ څخه سپمېدلې پیسې دپینځه زره معیوبینو لپاره دلاسي کارونو کارځای برابرولای شي او په یوه ځانګړې ورځ پر سړکونو او کوڅوکې رازوړنده دشعارونو او بیرغونو ټوکر دټول

باميان مغاره مېشتو ماشومانو او ښځو ته، په سخته يخنۍ کې، دځان پټولو جامې ورکولای شي.

فېشن تر ژونده ډېر ارزښت لري ، موږ په داسې يو هېواد کې ژوند کوو.

بله ستونځه:

څوکۍ ته درسېدو لپاره دهڅو او تېل ماتېل لامل پنځوس په سلو کې همدا په فېشن کې دسيالۍ ليونتوب او جنون دی، تاسو يوه وزير ته يو سالم او دکار وړ کرولا موټر ورکړئ ، په وطني ټغرو فرش کوټه ، چې دوطني پوزي څوکۍ په کې پرتې وي ، يوازې يو ډرايور او يو سکرتر ( هغه هم مسلکي او دکار لپاره ) ، دومره معاش ،چې دی او کورنۍ يې چا ته احتياج نه وي او ديوې کورنۍ دمنځنۍ کچې ژوند پرې وشي ،اوددې په وړاندې دورځې پرلپسې لس ساعته توليدي کار ورڅخه وغواړئ ، چې هره ورځ بايد دخدماتو په وړاندې کولو کې دپرمختګ راپورهم ورکړي ، بيا به وګورئ چې څوکيو ته دور رسېدلو دليونتوب تبه څومره راټيټيږي؟ ډېر خلک او ډلې ددې لپاره وزارتونه او معينيتونه ( په هره رسوايي ) غواړي ، چې ښه موټرونه ، کش وفش او اخ وډب پکې دی.

په دې برخه کې داصلاحاتو لپاره هندوستان ښه موډل دی ، وزيران او ټول مهم چارواکي په هندوستاني ګاډو کې ګرځي ، چې ارزښت يې زموږ د يوه کوماندان د تعقيبې ډاټسنې له ارزښته دوه ځله کم دی ، په ايران کې دبهرنيو چارو وزارت په مېلمستون کې اوسېدم ، مېلمه پال دخبرو په ترڅ کې راته وويل: ښاغليه په دې مېلمستون کې پرته له دغه يوه جاپاني ټلويزيون څخه نور هرڅه ايراني دي ، بل ځل چې راځې انشاالله ، نو دلته به تلويزيون هم ايرانی اينبی وي ، موږ خو بل افغاني توليد نلرو ، خو لږ تر لږه ترټولو ارزانه خو کلک او بادوامه توکي ، چې فيشن ونلري له پاسه رانيولې تر کوزه يې بايد وکاروو ، او ملي هوډ مو بايد دا وي چې دهرې ورځې په تيريدو سره دا توکي افغاني شي ، ددې پرځای بايد دکار خدماتي او توليدي ارزښت ته ملا وتړو ، دلوکسو موټرو داخيستو پر ځای خپلو

عادي او کارو ړ موټرو ته ښه سړکونه جوړ کړو او خپلو دفترونو ته د عطروالا ایرکنډیشن پرځای د دفتر تر څنګه پراته کثافات پاک کړو . او په پاریس او لندن کې د دریشۍ دفرمایشونو پرځای ، راځئ ! یوازې له افغاني کتان یا بل ټوکر څخه ددولتي یونیفورم اغوستلو یوه مقرره جوړه کړو.

د اسلام ستر پیغمبر(ص) دلومړني جومات د جوړولو پرمهال په مدینې منورې کې دکجورو(خرما ) ونو څخه ستنې وتراشلې او دهغو له څانګو اوپاڼو څخه یې د چت په جوړولو کې کار واخیسته ، پخپلو مبارکو لاسونو یې کار وکړ او دیوه ستر نړیوال اخلاقي- ټولنیز نظام بنسټ یې کیښود .

مهاتما ګاندي لوی هندوستان رهبري کړ، خو په خپل لاس داوبدلې خامتا لنګ یې نوی نه شو او دخپلې روزلې اوزې شیدې یې خوراک و ، دهمدې لپاره یې پلویان اوس هم له بېځایه فیشن څخه ځان ساتي او (( سارې جهان سې اچها ، هندوستان همارا )) نارې وهي.

په نړۍ کې هیڅ داسې ستر انسان نه شئ موندلای چې دفیشن په زور یې پر زړونو واکمني کړې وي او نړیوال شهرت یې ګټلی وي. بېځایه فیشن یوازې د مستبدو ، لیونیو ، ځانپرستو او بېکاره واکمنو شوق و اودی ، چې بل څه یې له وسه نه وي پوره .

وړاندیځ :

دبېځایه فیشن په وړاندې د ملي مبارزې یوه عملي کړنلاره پکار ده . چې له سرکاري دفترونو څخه راپیل شي او ورو ورو ،دعامه پوهاوي په یوه بهیر کې ، دټولنې منځ او کورنیو ته هم ورورسول شي . ددې پر ځای باید دکار ، خدماتو او تولید سیالي پیل شي او دسرکاري څوکیو ارزښت او اهمیت باید د افغانانو د انساني ژوند دشرایطو په ښه والي کې د ونډې څومره والی وي، نه فیشن.

دا به دريږ کتې ولري:

۱- دبې ځايه لګښت مخه به ونيول شي. او دادارو خدماتي او توليدي ورتيا به لوړه شي

۲- دملي اخلاقو بنسټ به رامنځته شي او دفيشن دجنون ناروغي به ورسره ختمه شي.

۳- پر څوکۍ باندې به دغه انډوخر اودسپين سترګۍ تر بريده دبزکشۍ لوبه پای ته ورسيږي او کار به اهل کار ته وسپارل شي.

# ژوند د کار لپاره که کار دژوند لپاره ؟

د پولند په پلازمېنه وارسا کې خپلو کوربنو هغه میوزیم ته بوتلم ، چې د نړیوالې دوهمې جګړې پرمهال یې د ورانیو او تر جګړې وروسته بېرته دودانولو نښې او یادګارونه په کې ساتلي وو ، دوی دې میوزیم ته د وارسا د بیا راپاڅېدنې یادګار هم ویل. په جګړه کې وارسا ، تر پېنځه اویا په سلو کې، ډېره ویجاړه شوې وه ،لوټه لوټه پر خاورو پرته وه . دمیوزیم لارښودو او زما کوربنو ویل د پولندیانو دوه نسلونو خپل ژوند دهمدې ورانیو دبیاودانولو لپاره ځانګړی کړ ، هغوی کاروکړ ،چې د پولندیانو درارو انو نسلونو ژوند هوسا شي ، دا زما لپاره په زړه پورې مسئله وه ، له ځانه مې وپوښتل: موږ افغانان خو نه کار دژوند لپاره کوو اونه هم ژوند د کار لپاره ، ایا دادواړه رانه ورک ندي؟ ښایي دواړه نلرو ، ښایي دواړه یودبل لازم او ملزوم دي ، نو چې یو نشته بل به له کومه شي ؟ یو ظریف او شوخ ملګری لرم ، یو ځل مې هسې ترې وپوښتل: ژوند څنګه دی ؟ ویل یې تیریږي... خو ژر یې خبره تر غاښ لاندې کړه ویې ویل ، نه !نه !نه تیریږي ، بلکې تیروو یې. ما ویل دا دواړه څه توپیر لري؟ ځواب یې راکړ ، ښه ژوند تیریږي خو ستونځمن ژوند باید په لوی لاس تېر کړو ، هغه ژوند چې دنورو دخیر لپاره تولید پکې وي هغه دخوشالۍ ژوند دی او ښه تیریږي ، خو وزګار ژوند باید لکه دزهرو جام تېر کړای شي. افغانان په ژوند کې سرګردانه دي، غواړي دومره څه وګټي چې څوورځې او شپې یې پرې تېرې شي ، خو هغه څو ورځې او شپې یې بیا په دې اندېښنه تیریږي ، چې بل ځل به څنګه دومره څه ګټي چې بیا یو څو ورځې پرې تېرې کړي ، په ژوند کې دکار اندېښنه او په کار کې دژوند اندېښنه ،لکه یوه باطله کړۍ همداسې څرخي او ددې هېواد بېچاره وګړي سره پیچي ، له زوکړې څخه تر مړینې پورې سر بداله او له هرڅه محروم. ژوند کار ته په درد نه خوري او کار ژوند ته ، په دې منځ کې یو ډېر ارزښتمن پر مختګ ورک دی ، نشته ، نه یې پیژنو او له ارزښته یې نه یو خبر او هغه ددواړو دښه کېدو لپاره تدبیر ، اراده او هوډ دی. نه یې په ټولنیزه سطحه لرو او نه یې هم په فردي کچه. حکومتونه مو ټول ( یا لږ ترلږه دا دیرش کاله )

پر همدې فکر وخواري کوي ، چې څنګه همدا موجود ټولنيز ژوند وساتي اوله فردي پلوه ګڼ افغانان پر دې فکر کوي چې څنګه همدا نيمزاله ژوند وژغوري.

ستونځه چېرته ده؟

يوه ډېره وحشتناکه تشه ، دلا ښه ژوندانه لپاره د هڅې او پرمختګ نوښت نشته ، داسې باورنلرو چې ژوند بايد له نن څخه سبا ته ښه شي او دزوی ژوند له پلاره او دلمسي هغه تر زويه څو واري بايد ښه وي ، داباور بايد هم په ټولنيزه سطحه رامنځته شي او هم د وګړيو په روان کې ښايي وروزل شي ، دا زموږ دخلکو حق دی او ښايي ورسره مرسته وکړو ، چې له دې وضعيته ووځي. داسې موخې ته درسېدو لپاره بايد په لومړيو کرښو کې وړاندې شويو پوښتنو ته يو روڼ ځواب ووايو او هغه ځواب دادی: کار دژوند لپاره !

ټولې هڅې د ژوند دشرايطو دلاښه کېدو لپاره ، نن دپاکو اوبو بمبه په کور کې ، سبا دتودو اوبو امکان په يوه ښه تشناب کې او بله ورځ ښايي سونا حمام دخپل کور په يوه کونج کې. افغان انسان په دې نړۍ کې ددې هر څه درلودلو حق لري.

يوه رواني فرضيه:

که ژوند دکار لپاره ځانګړی شي ، نو دکار کيفيت خرابوي ، ځکه دلاښه والي لپاره رواني انګيزه نه شي درلودلای ،مګر که کار او هڅه دژوند لپاره ځانګړي شي دوه رواني انګيزې رامنځته کيږي: لومړی دا چې دژوند دشرايطو د ښه والي لپاره بايد دکار شرايط هم ښه شي ، توليد ډېر شي او دکار کيفيت ورځ تر بلې لوړ شي. دوهم دا چې دوړاندې منل شوي منطق پر بنسټ د ژوند ښه والی وروستۍ موخه ده او ددې لپاره پرلپسې نوښتونه هم په ټولنيزه سطحه پنځونه (خلاقيت) لوړوي او هم پر وګړنيزو توانمنديو او استعدادونو مثبته اغيزه کوي. دبدبينۍ ، يوازيتوب (اندويدياليزم) ، پرځان بې باورۍ ، شرم او خپګان جرړې له منځه وړي او ټولنه دسالمو او فعالو وګړيو په يو ې مجموعې بدلوي.

یو شمېر څېړونکي فکر کوي، چې ژوند محوره کار زېښناک ، لټی او د پانګې ډېرېدو په صورت کې عیاشی ته لاره هواروي ، خو ګڼ نور دا نه مني او دداسې اند ښښنو دمخنیوي لپاره ځواکمن ټولنیز سیستم جوړول اړین ګڼي او دعقیدوي ، قانوني او اخلاقي بنسټونو او ارزښتونو د پیاوړي کولو سپارښتنه کوي.

وړاندیځ:

دکار پنځولو بهیر باید دکار دټاکنې (انتخاب )تر بریده ورسول شي. له دې سره هممهاله دعامه پوهاوي له ټولو وسایلو ( پوهنه ، رسنۍ ، مدني ټولنه ،اغیزمن وګړي ، هنري- فرهنګي پروګرامونه ، لیکنې ، بحثونه او نور ) ښایي ددې لپاره وکارول شي چې ټولې ټولنیزې هڅې ژوند محوره شي او دافغان انسان دژوند دشرایطو لپاره دټولیزو فعالیتونو لپاره میکانیزمونه او پر علمي بنسټونو استوار ګامونه پورته شي.

دافغانانو پر ځانباورۍ او آن یو پربل باور لپاره ددوی تر منځ دکاري اړیکو ټینګول مرسته کوي ، چې دګډو هڅو په مزیو سره وتړل شي ، دهر افغان کار او هڅه ، که دبل افغان دژوند دشرایطو په ښه والي کې مرسته وکړای شي ،ټولیز صمیمیت ډېروي او ټولنیز بافت پیاوړی کوي.

ملي یووالي ته درسیدو یوه ریښتینې لاره همدا ده،چې وګړي دا احساس کړي ، چې دهر یوه کار دټولو دژوند دشرایطو ښه کېدو ته لاره هواروي. ملي یووالی په شعارونو نه رامنځته کیږي.

# زموږ يوازيتوب

تر دوهمې نړيوالې جګړې وروسته اروپايانو ځان يوازې احساس کړ ، په ټولنيزه اروا پوهنه کې دې ته اندويديواليزم ( وګړنيزه ) غوټه هم وايي. په جګړه کې د(بل )په وړاندې د وګړي اړيکه حساسه شي ، چې دوه لوی لاملونه لري:

۱- وګړی ( فرد يا اندويديوال ) فکر کوي چې دجګړې عوامل د (بل ) ګڼه ده ، دجګړې لوری هم ( بل ) دی او ( بل ) يعنې (زما ) ستونځه، (بل ) يعنې زما مرګ او ( بل ) يعنې هر منفي خوځښت. ځکه خو وګړی پرځان راتاويږي ، پر( بل ) باور له لاسه ورکوي او ځانمرکزيت ته دوګړي ورځښېدل پيليږي. ژان پل سارتر ،دخپل يوه قهرمان له خولې ليکي: انسان دانسان دوزخ دی !

۲- وګړی ګوري ، چې دهر درد او ناخوالې پر مهال يوازې دی ، هيڅوک د چا درد نه شي نيمولای او هيڅوک دچا دزخم شريکه نه شي کرارولای، (هيڅوک خپله ډوډۍ له وږي سره نه نيموي ، ځکه ډاريږي ، چې سبا به دی وږی پاتې شي ) او هيڅوک دبل لپاره په سترګو کې اوښکې نلري.

په پايله کې څه کيږي:

اخلاق ،چې ټولنيزه ښکارنده ده ، کمزوري کيږي. دټولنيز ژوندانه اړيکي سستيږي ، قانونواکي کمزورې کيږي ، ځکه قانون پخپله يو ټولنيز قرارداد دی، په فردي روان کې ګوابنمنې غوټې ( عقدې ) رامنځته کيږي ، چې حتی دعمومي بېرحمۍ تر پولې رسېدای شي او کله کله ساديستي يا ماسوخيستي تمايلات هم رامنځته کوي ، فردي عواطف زيان ويني او بدبيني اوشک پياوړی کوي. ددوهمې نړيوالې جګړې ګوابن زموږ تر جګړې کم او کمزوری و ، يو خو هغه جګړه لنډه وه او موږ افغانان داروپايانو په پرتله شپږ ځلې زيات په جګړه کې پاتې شوي يو. دوهم تو پير دادی ، چې په نړيواله جګړه کې يو هېواد دبل هېواد په

وړاندې جنګېده ، مانا دا چې ملتونه سره نښتي و ، دې پېښې د دښمن ملت په وړاندې د دریدلي ملت وګړي یو بل ته سره نږدې کول او د ملي نږدې کېدو او یو ډول نشنلستي افکارو دودې لامل ګرځېده ، ان تر دې چې د شوروي په څېر یو انترناسیونال ځواک یې په روسي والي سیاست راوپېچه ، مګر له بده مرغه زموږ جګړه تر ډیره خپلمنځي وه ، افغان د افغان پر ضد جنګېده او دې کار پرعکس ،د اندویدیالیزم عقده پیاوړې کوله. د ډیرو رواني ستونزو تر څنګه ،دې جګړې، موږ له ګڼو ټولنیزو نېمګړتیاوو سره مخامخ کړو ، چې یوه یې هم د یوازیتوب او تجرید شدیده عقده ده ، زموږ داوسمهاله نیمګړتیاوو بنسټ او لامل همدغه شدید ( یوازیتوب ) دی، یو پر بل باور نلرو ، دګډ کار پر ارزښت نپوهیږو ، ډله ییز مشر توب نه شو زغمی او ټول عمر مشرتوب د ځان یا د خپل ملګري لپاره غواړو ، په همدې ورځو کې مې له یوه خواږه ملګري سره د ډله ییز مشرتوب پر ښېګڼو بحث کاوه ، هغه راته خندل او تقریبا دخبرو مانا یې دا وه ، چې دانو څنګه ممکنه ده چې یو غورځنګ یا فکري بهیر دې دڅو تنو له خوا رهبري شي ؟

زموږ مشرانو به یوه اصطلاح کاروله ( یوازیتوب یوازې له خدای ج سره ښایي ) دا ریښتیا ده ، انسان ټولنیز موجود دی او که د ټولنې ( په اوسمهاله ژبه تمدن ) له ځانګړنو سره سم ژوند غواړي نو له (بل ) سره داړیکې څرنګوالی ډیر ورته ارزښتمن دی ، موږ دټولیزې اصلاح لپاره له (بل) او ( نورو ) سره د(زه ) داړیکو یوې ملي فورمولبندۍ ته اړتیا لرو .

موږ باید ، کله چې پخپله اوبه ورڅخه اخلو ، ژر دنل اوبه بندې کړو ، چې ( بل ) هم ګټه ترې واخیستلای شي ، موږ باید ځکه دخوړو پاتې شوني ، له موټر څخه پر سړک ونه غورځوو ، چې ( نور ) په تکلیف نشي ، او موږ باید په اداره کې له ( بل او نورو ) سره قانوني برخورد او سم چلند وکړو ، چې سبابیا ( بل ) هم له ما سره قانونمند او سم چلند وکړي. موږ باید له شدیدې وګړنوالې ، تجرید ، یوازیتوب او یوازې دځان په ګټه له هرڅه کولو څخه لاس واخلو او دټولو ، ټولنې ، هېواد او (نورو ) دګډو ګټو په اړه هوښیار او سو . دیوې سالمې ټولنې د ودې او پرمختیا بنسټ همدغه باور جوړوي.

وړاندیځ :

هر ګوند ، سیاسي جوړښت ، ټولنیز بنسټ او یا فرهنګي بهیر چې د افغانستان د رهبرۍ پریکړه لري ، ښایي دې ته پام وساتي ، چې د ټولنې فکري بنسټ تر همدې علمي اصل لاندې ورغوي. د دا سې هڅې شعوري بنسټ هم دادی ،چې (تر هغو چې ټولیزه هوسا یینه رامنځته نشي فردي نېکمرغي ته نه شو رسېدلای ) زموږ د ټولنیزو هڅو بنسټ باید همدغه علمي قاعده وي. د عقیدې ، اخلاقو او قانون هڅوونکي ځواکونه په دې برخه کې مرسته کولای شي. تر نړیوالې دوهمې جګړې وروسته اروپایانو دې ته ډېر پام وکړ ، چې څنګه د غه نیمګړتیا له منځه یوسي، اروپایانو د اعجاز تر بریده وکړای شول همدغه پر اندویدیالیزم اخته ولسونه دومره په ګډه او ټولنیزه روحیه سمبال کړي او داسې یې یوپر بل باور ته و هڅوي چې ورانه ویجاړه او لوټه لوټه شوې اروپا یې په ګډه سره ورغوله او ډېر ژر یې ښېرته د نړۍ پر اقتصادي ځواک بدله کړه .

حکومت ، فرهنګیان ، لیکوال ، رسني او هنرمندان ( د ټولپوهاوي له ټولو وسایلو څخه په کار اخیستلو سره ) مکلف دي ، چې پر ټولیزو او ټولنیزو ارزښتونو ، ګډو هڅو او د جمعي هوسا یینې پر ارزښت کار وکړي ، خلک د خپل هېواد دودانولو لپاره راوخوځوي او دیوازیتوب او تجرید شدیده ناروغۍ وځپي ، ټولیزې ناروغۍ ټولیزه درملنه لري او موږ باید د ټولیزې بې تفاوتۍ له دې حالته ووځو ، یوځل بیا یې په یاد ولرئ ،چې ( زه ) یا ( ته ) به تر هغو نېکمرغه نشو ، چې د ( موږ ) لپاره کار پیل نکړو .

# داسې هېواد چې نه تعریفیږي

دنړۍ په یوه معتبر پوهنتون کې مې د سیاسي علومو په بحثونو کې دولسواکۍ پرلور دتللو (دیموکراتایزشن) دباب تدریس ته ګونډه وهلې وه ، پرفیسور مو هوښیار او ظریف سړی و ، هغه ورځ یې پردې خبرې کولې ،چې څنګه دکولتوري ، ټولنیزو او جوړښتي بنسټونو تر څنګ اقتصاد هم د یوې ډیموکراسۍ دشکل او جوړښت په ټاکلو کې بنیادي ونډه لري. هغه ورځ اقتصادي پروسه دغو څلورو-پینځو پړاونوته رالنډه شوې وه: سرچینې ، بشري ځواک، پروسس ، تولید او مصرف(استهلاک) . ددغې اړیکې له مخې یوه ټولنه او هېواد پیژندل کېدل ، ما چې هر څومره فکر وکړ دافغانستان پېژندنه پکې نه وه ،په دې بحث کې نه دافغانستان ټوپک او جنګونه یاد شول ، نه یې زړور ټوپکوال او نه هم سیاستوال یوازې یو ځل یې دکوکنارو پر تولید یو لنډ مکث وشو او بس. دلکچر پر مهال مې د پوښتنې زړه ونه کړ ، خو چې درسي ساعت پای ته ورسېده ،استاد ته ورغلم او په دې بحث کې مې دافغانستان ځای ورڅخه وپوښت ، استاد لږ ومسل ، له لاسه یې ونیولم او د پوهنځي په اوږده دهلیز کې راسره روان شو ، په لاره یې راته یوه ترخه خبره وکړه ، ویل یې له دې اړخه ستاسو هېواد یو واضح تعریف نلري ، ستاسو هېواد یو مصرفي هېواد دی ، خو هیڅوک نپوهیږي چې دالګښت څنګه وارزوي ، دالګښت هغه وخت ارزول کیدای شي چې سرچینې ، دتولید او پروسس لارې او ګټه یې وپېژندل شي. داستاد دې ځواب نور هم ګنګس کړم ، استاد دا هم پسې کنجوغه کړه ، چې په داسې یوه بې تعریفه اقتصاد کې حکومتوالي، قانونمندي، ولسواکي اونور مدني ارزښتونه ریښې ځغلولی نشي او په دې توګه ټولنیز نظم هم ټینګیدای نشي. پروفیسور په پوره بېرحمۍ لګیا و ، او پر دې یې فکر نه کاوه ،چې زه خپه کیږم او پر خپل هېواد مې زړه سوزي..... مګر استاد پر ما او افغانستان زړه نه سیزه.

موږ سرچینې لرو ، بشري ځواک لرو ، خو پروسس او تولید نلرو ، او بیا لګښت هم ښه پریمانه لرو ، عجیبه ده ! په کراماتو چلیږو. داقتصاد علم سخت دی ، خو دغه پیژندنه یې دومره سخته نده ، ددې پروسې هغه مهم توکي چې سرچینې او بشري ځواک دی باید د یوې عقلي-میکانیکي عملیې په مرسته پروسس او تولید ته لاره هواره کړي او بیا تولید شوي توکي مصرف او استهلاک شي. دبېلګې په توګه،زمکه او اوبه سرچینې دي، دبزګر زیار بشري ځواک دی ، غنم له ریبلو نیولې تر ژرندې پورې له یوه پروسس څخه تیریږي او اوړه تولیدیږي ، اوړه په کورنیو کې مصرفیږي، بله بېلګه: کوچی میږې او اوزې روزي ، وروسته یې کاریګر له پوستکي څخه بوټ جوړوي او دا بوټونه ددې هېواد یو اوسیدونکی استهلاکوي ، موږ ځمکه او اوبه لرو ، بزګر هم لرو ، خو اوړه له ګاونډیو راوړو ، ولې ؟ددې لپاره چې سیاستوال مو د اوړو دتولید په اړه فکر نکوي، بلکې دهغه لپاره سیاست دپردیو خبرلوڅو ادارو سره داندیوالۍ جوړولو یا ډغرو وهلو په مانا دی. په موږ کې لکه چې همدغه عقلي او میکانیکي ځواک نشته ، چې دا مو حال دی. میکانیکي او عقلي عملیه د حکومتونو ، ګوندونو ، سیاسي-ملي شخصیتونو ، علمي بنسټونو ، او پانګوالو په ګډه هڅه رامنځته کیږي ، په نوره دنیا کې د سیاست وسایل همدا دي ، دتولید وسایل او افکار سیاستونه رامنځته کوي ، خو زموږ په هېواد کې همدغه ځای تش دی ،له موږ نه د سیاست وسایل غلط شوي دي ، دلته د سیاست وسایل خلکو ته د اقتصادي سرچینو او بشري ځواک په مرسته د مصرفي او استهلاکي توکو دتولید دډیرولو سالمه سیالي نده ، دلته د سیاست په فرهنګ کې نورنومونه دیوې منفي سیالۍ وسایل دي: ټوپک، له عقیدې څخه سیاسي ګټه اخیستنه ، مافیایي کړنې ، ویره اچونه ، فساد او په بهرنیو خبرلوڅو ادارو پورې تړلتیا.

هغه څه ،چې په ټوله دنیا کې د سیاست وسایل دي، دلته هېر دي ،خو بیا هم داوطن چلیږي ، په کراماتو چلیږي.

وړاندیځ :

پورته یاده شوې علمي او عقلي پروسه باید دموجودو کاذبو وسیلو ځای ونیسي ، او خلک یې ښایي وپیژني. په عامه ذهنیت او دخلکو په باورونو کې ښایي د سیاسي وسایلو ریښتینې پېژندنه د دروغجنو هغو ځای ونیسي ، حکومت ، ریښتیني سیاسي ګوندونه ، اغیزمن ملي شخصیتونه ، رسنۍ ، او دعامه پوهاوي ټول اسباب ښایي خلکو ته دغه شلېدلې کړۍ وروپیژني ، چې دسرچینو ، بشري ځواک ،معقول فعالیت ، پروسس، تولید او مصرف ترمنځ د معقول فعالیت ځای نورو ناولیو وسایلو نیولی دی او په دې توګه ، هېواداو ولس نه خپلې اقتصادي سرچینې پیژني ، نه دبشري ځواک دکارولو په څرنګوالي خبردی ، نه پروسس او تولید شته یوازې او یوازې مصرف شته او بس.

مونږ باید دخپلو پټېوله سبو څخه او دچورګوړو له کوډیو څخه مخامخ د ولسمشرۍتر څوکۍ پورې یوه معقوله اړیکه رامنځته کړو ، ایله به په دې منځ کې د چل ، دروهې ، ناولیو لوبو ، اوپردیو لاسونو ځای له منځه ولاړشي او په دې توګه به افغان او افغانستان دیو سم پېژند( تعریف ) خاوند شي.

# پالیسي او خدمات

یو شمېر سکتوري وزارتونه او اداري شته چې عرض و طول وضخامت يې دډېرو خدمتونو دوړاندې کولو په کچه دي ، خو چې ترې وپوښتې ؛ څه مو کړي ؟نو وايي : موږ پالیسي جوړوو ، کار باید نور وکړي. داچې پالیسي څه ده ؟او څوک باید کاروکړي؟ هیڅوک نپوهېږي.

زموږ اداري پیلمرغانې دي ،چې ورته ووايې بار یوسه وايي ( مرغ ) یم ، چې بیا دخوراک وخت شي ، وايي ( پیل ) یم. ادارو ته چې ووایې خلکو ته خدمتونه وړاندې کړئ ، وايي وروره اوس هرڅه خصوصي شوي دي ، خدمات دخصوصي سکتور کاردی ، خو چې داداري تشکیل وګورې ،نو دیوه مخ مکتوب لیکل په اتو کسانو تر سره کیږي ، مامور يې خاکه لیکي ، ټایپست یې ټایپوي ، مدیر یې ګوري ، سکرتر یې ریس ته وروړي ، ریس یې لاسلیکوي او پیاده يې بلې څانګې ته وړي ، هلته یې یو مامور صادروي او اتم کس یې بیا ارشیف ته رسوي چې له هغه ځایه خپلې مرجع ته ولاړشي ، حکومتي تشکیل دهغې زمانې دی ، چې هرڅه به دولتي ادارو تر سره کول ، خو اوس همدا لوی تشکیل وزګاردی، ځکه پالیسي جوړول دومره تشکیل ته اړتیا نلري او خدمات خو هسې هم خصوصي شوي دي، دتشکیل پرسوب دسرکار بودجه خالي کړې ده او دومره لوی تشکیل ته دکار دنرسېدو او تولید دنشتوالي له امله ډېره تنخواه نه ورکول کیږي ، سرکار دا مامورین نشي شړلی ځکه بیا خو لویه بلوا راپاڅیږي ،خصوصي سکتور خو هسې هم نشته ،چې دومره وزګارشوي کارمندان ومني ، نو مامورین هم دکمې تنخواه له امله دمراجعینو رحم ( یاناچارۍ ) ته لاس نیسي ، ځکه ماران خو ندي ،چې خاورې به خوري ددې پایله فساد او پر حکومت دخلکو ناباوري ده ، بس یوه باطله کړۍ ده داولس پکې تاوېږي راتاوېږي ، لس کاله کیږي ، چې ځینې وزارتونه او اداري یوازې پر پالیسۍ جوړولو لګیادی ،خو لاهم داسې یوه ملي پالیسي نشته ،چې دهېواد داقتصاد ، تولید ، اوبو ، اینرژۍ ، خوړو او... په اړه کومه بدلون راوستونکې پالیسي جوړه شوې وي اودزابل، بامیانو ، بادغیس ، بدخشان یا غور

دولس پر دسترخوان يې کوم بدلون راوستلی وي ، په دې توګه نه پاليسي شته او نه خدمات ، ولس له پاليسۍ څخه تر خدماتو پورې دمزله په برزخ کې پاتې دی او ديوې تيارې راتلونکي افق ته ګوري.

موږ د سرکاري خدماتو منطق له لاسه ورکړی ، خو خصوصي هغه مو ندي رامنځته کړي او ټولنه په دې منځ کې يوې تشې ته ورغورځېدلې ده.

خلک وږي دي ، خلک وزګار دي ، خلک درمل او اوبه نلري ، خلک ښوونځی او دخپلو توليداتو دپروسس لپاره امکانات غواړي ، خلک په پاليسي نه مړيږي ، خلک پر جلسو ، مېټينګونو ، ورکشاپونو او ليدنو کتنو باندې نه تېروځي ، ما د يوه لوی سيمينار کيسه په يوه کلي کې کوله ، د لوی هوټل او څوږوله ډوډۍ ، دمقالو او ويناوو کيسې مې کولې دکليوالو خولې راته خلاصې پاتې وې او په سترګو کې يې پوښتنې کولې ، چې ددې غونډې ګټه ددوی لپاره څه ده؟ د نوروز اکا دژرندې ناوه اوبه نلري او دتاويزګل ماما خره ګوډه ده ، دروپۍ ترور ټولې چرګانې ټوغکې وهلې دي... دپاليسۍ او ريښتيني ژوند تو پير همدومره دی. زموږ بهرني دوستان هم په لوکسو دفترونو کې په ميټينګونو او قهوو باندې ټينګ شول ، له افغانستان سره يې مرستې دلپټاپونو پر سکرينونو لاندې باندې شوې ،خو هيڅکله ددې لپټاپونو له خيټې څخه د روپۍ ترور دچرګانو تشې کوډۍ ته څه ونه رسېدل.

وړانديځ:

موږ بايد دخلکو دې لوېې پوښتنې ته ځواب پيدا کړو ، چې که سرکار پر پاليسي جوړولو لګيا دی ،نو خدمات به څوک وړاندې کوي؟ که دخصوصي کيدو خواته روان يو نو آيا

د تیرېدو کوم ( پړاو ) مو تعریف کړی دی کنه؟

ترهغو چې د خدماتو دعرضه کولو خصوصي سکتورونه، نه وي رامنځته شوی ، هیڅ سرکاري اداره ، نه ښایي یوازې پالیسي جوړونې ته کینې.

له خلکو سره د تفاهم او پوهاوي یوه پراخ کمپاین ته اړتیا شته ، خلک باید خپلې ادارې وپېژني ، دا د خلکو حق دی. خلک د خپل هېواد پر سیاسي حالاتو پوهیدای شي ، خلک دا درکولای شي ، چې وطن غریب دی ، سرکار څه نلري ، او ولس احتیاج دی ، خو همدغه څه باید سپینه سپیڅلې ورته وویل شي ، لږ تر لږه دومره ډاډ ورکړل شي ، چې له دې حالته دوتلو لپاره کار روان دی او په معقولو میکانیزمونو باندې فکر کیږي ، د پالیسۍ او لوکسو اصطلاحاتو تیر ایستونکي عذرونه خلک له حکومته لرې کوي. خلک له سرکاره معجزه نه غواړي ، صداقت غواړي. موږ باید خلک قانع کړو ، چې له خپل بېچاره او تشلاسي حکومت سره ملا وتړي او دا هغه وخت شونې ده ، چې د پالیسي او خدماتو یو روښانه تصویر ولرو ، خلک په دې وپوهولای شو ،چې سرکار د دوی دژوند دشرایطو دښه کولو لپاره څه په نظر کې لري؟

ټولې ادارې باید خدمتونه ورسوي ، تولید ته لاره هواره کړي ، تشکیل باید دتولید او خدماتو له کچې سره برابر شي ، هوښیار حکومتونه د خپل پاینښت لپاره په دې اړه له خلکو سره تفاهم کوي او ریښتینی سیاسي اپوزیشن ، واک ته د رسیدو لپاره دډیرو ، ښو او عملي خدماتو د رسولو داسې میکانیزمونه معرفي کوي ،چې خلک پرې باور وکړای شي.

# زموږ خوشباوري

تر ډیرشو کلونو زیاته موده کیږي ، چې پر بهرنیانو باندې زموږ خوشباوري نه ختمیږي ، په تیره بیا تېر لس کلونه ، خو یې ښه ساده ګان کړو ، له موږ سره یې د پیشو او موږک لوبه پیل کړې ده ، نه مو خوري او نه مو پریږدي. راځئ د دوی یو څو تکتیکونو ته ځیر شو او بیا د خپلې ساده ګۍ جاج واخلو ، بهرنیان له زماني پلوه زموږ زغم په منظمو دورو ویشي ، له لومړي بن څخه یې راونیسه تر ننه پورې زما په حساب دولس یا دیارلس نړیوالې غونډې شوي دي ، هرې غونډې ته په میاشتو میاشتو تبلیغ شوی دی، راډیو ګانې ، تلویزیونونه ، مرکې ، کارپوهان ، ګومانونه ، زیري ، ویرې او.... خو په عملي توګه له لومړي بن پر ته نورو غونډو د افغانانو په ژوند کې هېڅ بدلون ندی راوستلی ، همدا څو میاشتې مخکې په استانبول کې یوه غونډه وشوه ، ډول او سورنې ښه ډیر ورته ووهل شول ، خو په پایله یې که څوک پوه شوي وي ، هیله ده راودې لیکي ، خودا غونډې هسې د ګونګټې خواري هم نده ، بهرنیان ور څخه ډېر کوچ بودوي اول دا چې له یوې غونډې څخه تر بلې پورې افغانان بوخت ساتي ، د ابیچاره ولس وژل کېدل ، ولږه ، بیکاري ، او د ژوند سخت شرایط په دې تمه زغمي، چې څه نو د پاریس ، لندن ، توکیو ، کابل یا بن غونډه راروانه ده ، معجزه به وشي او د اتولې ستونزې به پای ته ورسیږي.... بهرنیان له دې غونډو بله لاسته روا ړنه هم لري ؛ د افغانانو ګډ ذهنیت معلوموي او د زغم اندازه یې اخلي ، د شعور کچه یې ګوري او همدا راز خپلو خلکو ته هم ښیي چې د افغانستان قضیه ډیره مهمه ده او دوی ( واکمنان ) سخت پکې بوخت دي. بهرنیان له یوې غونډې تر بلې پورې له افغانانو څخه د سیاسي نوښت او اصلاحاتو توان اخلي او د انتظار لمر ته یې دروي ، د افغانانو په دوو نسلونو کې یې اوس دا باور پوخ کړی دی ، چې څه کوي نو بهرنیان به یې کوي ، افغانان څوک دي ، چې څه به وکړای شي ؟ په ډیرو مجالسو کې مو ، چې پر سیاسي وضعیت بحث کېده ، اوریدلي دي؛ ته و دریږه چې خارجیان به څه وکړي ؟

اصلي ستونځه:

پر نورو زمور خوشباوري او پر ځان ناباوري ده.

دا سمه ده چې بهرنیان ځواکمن دي، پیسې او وسلې لري ، ټکنالوژي او څارګرې ادارې لري ، دا او هغه کولای شي ، خو دا په دې مانا نده چې مونږ هېڅ هم نشو کولای. زمونږ ددې خوشباورۍ او بې باورۍ لاملونه بېګڼ وي ، جګړه ، نالوستتوب ، ولږه ، خو یو اصلي لامل یې پخپله دبهرنیانو چلونه دي ، بهرنیانو مونږ له اروایي پلوه تر ښکېلاک لاندې راوستي یو ، ددوی رسنۍ شپه او ورځ دهمدې لپاره لګیادي ، رسنۍ ددوی دي ،که څه هم ژبه ، لحن او خولې یې زمونږ دي ،په ځینو برخو کې دارسنۍ مونږ ته ګټورې هم دي ، خووجودي منطق یې له رواني پلوه زمونږ ښکېلول دی. دوی ټوله پیښه هغه ډول لوبوي چې زمونږ بېباوري او خوشباوري ورځ تر بلې ډیره شي او له مونږ څخه دسیاسي نوښت او ( څه کولو ) توان اخلي ، مونږ لاهم له یوې غونډې تربلې پورې هرڅه زغمو او دوی لګیا دي ددې ټولو تر شا خپله سیاسي اجندا پرمخ بیایي. ډیر ځله مونږ په ابهام کې ورکیږو ، په یوه داسې تشه کې چې هېڅوک نپوهیږي ، څه به وشي؟ څوک څه غواړي؟ نړۍ ، سیمه او مونږ کومې خواته روان یو ، په همداسې یوه تشه او ابهام کې بهرنیان دیوې غونډې یابدلون غږ وکړي ، مونږ له هېښتیا راوباسي او پر یوې داسې پیښه پورې مو وتړي ، چې ګټه یې بیا دوی ته رسیږي. تر هرڅه وړاندې باید له همدې ښکېلاکه ځان خلاص کړو.

وړاندیځ:

مونږ باید له خپلو خلکو سره د حقیقتونو دښنني او سپیناوي خپل وسایل او امکانات ولرو ، او دهغو په مرسته خپل نظر وویلای شو.تاسو به وایاست ، چې په دې اوسنیو رسنیو کې خو هم خپل نظر ویلی شو ، هو ! داسمه ده مونږ یوازې خپل نظر ویلی شو خو عامه ذهنیت نشو بدلولی ، مونږ د بهرنیانو د سیاستونو په اړه داسې اراده نشو رامنځته کولای چې دڅه کولو او بدلون راوستلو نوښت زمونږ شي. دا په دې مانا نده ،چې له بهرنیانو سره خپل

اړیکي خراب کړو، نه هېڅکله نه ! بلکې دامناسبات باید پخپله ګټه راوڅرخوو او داسې لوبه وکړو ، چې ددوی له امکاناتو ، ټکنالوژۍ ، پیسو او حضور څخه ددې هېواد په ګټه کار واخیستلای شو او له بېځایه خوشباورۍ څخه ځان وباسو . په لسو کلونو کې په دولسو یا دیارلسو نړیوالو غونډو کې هېڅ ونشول، نور نو دنړیوالو په ورا او خوړه کې څنې اچول ندي پکار او په هره پېښه کې باید دخپلو ګټو او تاوانونو جاج واخیستلی شو، دلومړي ځل لپاره ښایي روښانفکره ، لوستي ، اغیزمن افغانان په ګډه سره داسې دریځ خپلول زده او عملي کړي ، چې دوه پایلې ولري:

۱- دنړیوالو له رواني ښکېلاک څخه خلاص شو او پخپله دفکر کولو ، دفکر کولو پر بنسټ عمل کولو او په ګډه له عمل کولو څخه دپایلې اخیستلو افغاني بهیر بشپړ کړای شو. په دې توګه به له بېځایه خوشباورۍ ، بېباورۍ او بیا بیا تېروتلو څخه ځان خلاص کړو ، پر نورو شک له همدې ځایه ریښه اخلي ، چې( نور ) زموږ دخیر لپاره ځان نه په عذابوي او دا موږ یو چې باید دځان دخیر لپاره هڅه وکړو.

۲-دوهمه ګټه به یې داوي ،چې بهرنیان به دپیشو او موږک له دې ستومانوونکې لوبې څخه لاس واخلي ، او یوځه به پر عملي بدلون راوستلو فکر وکړي ، دغه ملي ویښتیا ددې لامل ګرځیدلای شي ،چې بهرنیان لږ تر لږه له موږ سره داسې چلند وکړي ، چې له نورو باارادې او ویښو ملتونو سره یې کوي.

په دې اړه د عامه ذهنیت درهبرۍ ریښتیني ( ریالیستیک ) وسایل ، فکرونه او منظمې هڅې حکومت ، ریښتینې ملي- سراسري ګوندونه ، اغیزمن شخصیتونه ، فرهنګیان ، علما او ژمنې ملي رسنۍ ترسره کولای شي.

# معاصر غیرت

غیرت یو رواني-غریزي حس دی ، چې د خپل حریم د ساتلو لپاره بالقوه توان بالفعل غبرګون ته بدلوي.

د دې پېژندنې پر بنسټ د غیرت په اړه بحث هغه وخت د پوهاوي وړ دی ، چې و پوهېږو وګړنیز (فردي ) یا ټولیز ( جمعي ) حریم له کوم ګواښ یا ګواښونو سره مخامخ دی ؟ په دې بحث کې دا هم مهمه ده ، چې پوه شو ( حریم ) څه دی ؟

دګواښونو لاملونه کیدای شي فزیکي وي یا معنوي او یا هم فکري-رواني یا انګېرنه او یاهم تصورات، همدارااز حریم هم فردي ، جمعي ، معنوي ، مادي ، فکري او رواني ډولونه لري ، چې د غیرت د غبرګون څرنګوالی په دې دوو اړخونو پورې تړلی وي. د غیرت پر بنسټ د عمل یا غبرګون ډولونه هم توپیر لري ، چې عقلي او احساساتي یې دوه مهم ډولونه دي.

له تاریخي پلوه افغانستان پر داسې یوه څلورلارې پروت دی ، چې ډېر ځله د لویو ځواکونو او ښکېلاکګرو واکمنو له بریدونو سره مخامخ شوی دی ، چې دافغانانو د غیرت ځینې ځانګړي معیارونه یې ټاکلي دي، کله چې د دوی د ژوند ، کورنۍ او اقتصاد حریم تر یرغل لاندې راغلی نو افغانان یې د خپلو دغو ارزښتونو د ساتنې لپاره حساس کړي دي ، د همدې لپاره د جګړې وسایل مهم شوي دي او زړورتوب ، مېړانه او توره د غیرت وسایل ګڼل شوي دي ، دګواښ څرنګوالي احساساتي غبرګون راپارولی دی او دموډو په اوښتلو سره دا د دود او فرهنګ یوه داسې برخه ګرځیدلې ده، چې د یوه فردي او ټولیز څنډن عادت په توګه هم منل شوی دی.

دافغانانو اقتصادي-ټولنیز ژوند هم داسې و ، چې د تولید وسایل یوه ناموسي ارزښت ته رسېدلي دي نو ترکورنۍ وروسته کور ، زمکه ، ویاله او نور معیشتي ارزښتونه هم په هغو

حریمونو بدل شوي دي ،چې په اړه یې غبرګون په غیرت پورې تړل کیږي ، چې له بده مرغه د تربور ګلوي پر بنسټ دښمني یې یوه ناوړه بڼه ده. غیرت په بشریت کې دیوه رواني حس په توګه عمومي دی ، خو دغبرګون، ګواښونو او حریم له نظره توپیر لري. همدا راز په هغو ټولنو کې چې عامه شعور ورده کړې ده دغیرت کولو پر مهال غبرګونونه عقلي او د ګڼ شعور د سطحې دټیټوالي په صورت کې غبرګون احساساتي وي. زه دلته په دې نه غږیږم چې د ( غیرت ) په نامه زموږ کوم غبرګونونه احساساتي دي او کوم عقلي. زه غواړم دلته په دې تم شم چې دغیرت او سمهالې ( معاصرې ) ځانګړنې څه دي ؟ پرمختللې بشریت تر ډیر فکر وروسته دخپلو ټولو حریمونو لوی دوښمن وپیژانده ، دادوښمن دی( احتیاج). په دوهم ګام کې یې د احتیاج له امله خپله کمزوري وپیژندله ، ددې لپاره چې له دې کمزورۍ څخه خلاص شي ، نو له احتیاج څخه یې دځان ژغورلو هڅه پیل کړه او په دې توګه یې له خپلو حریمونو څخه د( ځان پیاوړي کولو ) کلک دیوالونه راتاو کړل ، د ځان پیاوړي کولو هڅه له کارکولو څخه پیل کیږي.په حقیقت کې همدغو ولسونو تر ټولو لوی غیرت وکړ او په دې اړه یې غبرګون عقلاني و. له بده مرغه موږ افغانانو ، چې ځانته ډیر غیرتي ولس هم وایو ، په دې برخه کې څه ندي کړي ، لاهم اړ ( احتیاج ) یو ، ځکه نو کمزوري یو او نشو کولی د ریښتیني غیرت ډیره دعوا وکړو ، دمعاصر غیرت تقاضا داده ، چې دخپلو حریمونودساتلو وسایل رامنځته کړو ، او ځان پیاوړی کړو چې دځان ، کورنۍ ، هېواد او مانیزو ارزښتونو دخوندي ساتلو توان ولرو ، ایله هلته به یو ریښتیني غیرتي ملت اوسو. راځئ دمعاصر غیرت حریم ، ګواښ او دعقلي غبرګون ځانګړتیاوې وپیژنو:

(کار) دمعاصر غیرت د ساتلو اصلي وسله ده، هغه ملتونه او وګړي دخپل غیرت او حریمونو ساتنه کولای شي ، چې کار کوي.

حریمونه شریک دي ، ځان ، کورنۍ او ټولنه (له معنوي ، فزیکي او رواني ډولونو سره ).

ګواښونه دا دي چې یو وګړی، هېواد یا ټولنه بې ( کاره ) شي، دبېکارۍ په پایله کې احتیاجه شي او د احتیاج پر بنسټ دومره کمزورې شي ،چې بیا یې حریم ته ورننوتل اسانه

وي او په دې توګه یې د غیرت غبرګون هم دومره احساساتي وي ، چې ځانته یې له ګټې څخه تاوان ډیر وررسیدلای شي.

ځواکمن او هوښیار ښکېلاکګر په دې لټه کې دي ، چې د په نظرور ټولنه کې د غیرت لپاره غبرګون دا احساساتو پر بنسټ وي نه د عقل پر بنسټ. له همدې امله لومړی ګام اخلي او له ښکېلېدونکي ولس څخه کار ، دکار وسایل، دکار سرچینې ، دکار فکر او پوهه او بالاخره دکار ارزښت غلا کوي.

وړاندیځ:

رسنۍ ، فرهنګي فعالین ، کورنۍ ، حکومت ، او د پوهنې د چارو بنسټونه باید د غیرتي غبرګون په عقلاني کولو کې د یوې ملي پروسې د پیلولو لپاره عامه پوهاوی پیل کړي. په دې اړه باید زموږ په فرهنګي عادتونو کې بدلون راشي او موږ باید د معاصر غیرت ځانګړتیاوې په دې بڼه خلکو ته وروپیژنو :

د غیرت ساتلو وسله نه توره ده نه احساسات ، بلکې د غیرت ساتلو ریښتیني وسایل کار او پوهه دي. موږ د ځان ، د خپلې کورنۍ ، د خپل ټبر ، د خپل هېواد د حریمونو د ساتلو غیرت باید ولرو ، خو د دې غیرت د ترسره کولو لپاره باید:

۱- کار او له عقله کار اخیستل پیل کړو

۲- د خپلو حریمونو لپاره د ګواښ ریښې او عوامل وپیژنو

۳- تر ټولو لوی ګواښ زموږ احتیاج او کمزوري ده

۴- د احتیاج او کمزورۍ د له منځه وړلو لپاره باید پرعقل او عمل تکیه وکړو

۵- یوازې هغه وخت به په ریښتیا غیرتي ولس وګڼل شو ، چې خپله ډوډۍ وخورو ، په خپله ځمکه په خپلو خواریو غنم وکرو ، خپلې اوبه ورکړو ، ملي غیرت له همدې ځایه پیلیږي.

# پر دلایلو باور ، که دباور لپاره دلایل؟

کابل ښاروالۍ او سره میاشت غواړي، د خلکو په چندو او بسپنو ، دکابل درې تاریخي
سترې ماڼۍ بیاورغوي ، ښه هڅه او ښه نیت دی ، خو دادرې واړه ماڼۍ بهرنیانو ندي
ورانې کړې، ددې ماڼیو ورانوونکي همدلته دي او لا هم پر لویو څوکیو پراته دي ، ددې
کار لپاره ددوی ځواب څه دی ؟

راځئ یو څوک پیدا کړو ، چې ددې ماڼیو له ورانوونکیو څخه وپوښتي ، چې دا مو دکوم
ملي ارزښت او هیوادني ارمان لپاره ورانې کړې ؟ عجیبه داده ،چې دوی هریو ددې
پوښتنې لپاره ځوابونه لري ، دجګړو دوه ، درې یا تر دې ډیر اړخونه شته ، چې دا ماڼۍ یې
ورانې کړي دي او ښایي هریو یې دخپل دې کار لپاره زرګونه دلایل وویلی شي ، په دې پسې
ډیر نه ګرځي ،چې خلک دا دلایل مني که نه ؟ خو دوی ځان نه بندوي او که چا دلایل ونه
ومنل نو نورې لارې هم شته چې...

زموږ سیاسي منطق سرچپه راڅوړند دی ، موږ اول باور کوو او بیا دخپل باور لپاره دلایل
لټوو ، که دا باور ناسم وي ،نو هرڅه ورانوي او زیان یې نورو ته رسیږي ، هوښیار
سیاستوال داسې نه کوي ، دوی فرضیه ټاکي ، بیا یې دلایل پلټي او په پایله کې ځان سم
باور ته رسوي ، همدا دی، چې کار یې سمه پایله راوړي او په خلکو کې یې محبوبیت ورځ
تر بلې زیاتیږي. زموږ سیاسي باورنه پر دلایلو ندي ولاړ ، بلکې موږ تل هڅه کړې ده ، چې
دخپلو ناسمو باورنو لپاره دلایل ومومو. زموږ سیاسي باورنه دخپلو ګټو ، ځانغوښتنې او
ځواکغوښتنې پر بنسټ رامنځته کیږي او دا چې دداسې باور پر بنسټ اعمال څه پایله
درلودای شي ؛ ددرې واړه ماڼیو ننني حالت ستاسو ځواب درکوي.

په افغانستان کې ستونځه دا ده ، چې د سیاست لومړی ګام دځان له ګټو پیل کیږي ، بیا
خپلرنګه کسان او په ګټو کې شریکان پالل کیږي او ډیره توره ،چې وکړي بیا دقومي
سیاست شعار پر تندي نیسو ، زموږ سیاسي باور دهمدې ګټو له خوندي ساتلو څخه

راپیلیږي ،بیا نو خپل ټول استعداد په دې لګوو ، چې څنګه دخپلو باورونو لپاره دلایل پیدا کړو او پر نورو یې ومنو.

علمي سیاست بل ډول دی:

دهېواد لویې ګټې ، دخپل هېواد دټولو اوسېدونکو دانساني ژوند دشرایطو دښه کولو لپاره مبارزه او دټولنې له هوساینې سره هممهاله خپله هوساینه غوښتل یې منځګټې وي ، داسې لویو موخو او ارمانونو ته درسېدو لارې چارې هغه دلایل دي ، چې سیاستوال ځانګړیو باورونو ته رسوي او دا باورونه دسیاسي فکراو عمل میکانیزمونه رامنځته کوي.

بېلګه:

ننني ښاروالې او سرې میاشتې ددریبو ماڼیو دجوړېدولپاره فکر کړی دی، یوملي فکر ، دې فکرونو یو شمېر لاروچاروته ورنږدې کړي دي ، چې راځه له خلکو مرسته وغواړه !له خلکو سره دهېواد مینه او په ښه کار کې دنوښت دلایلو دوی دې باور ته رسولي ، چې دا کارکېدونکی دی ، او په پایله کې دوی دیوه سم سیاست ګام پورته کړی دی.

هغه ډلې ،چې دخپل ځواک او لوټ تالان لپاره یې دډېرو ځمکو او شتمنیو دنیولو لپاره جګړه کوله اول یې دادرې ماڼۍ او دهېواد نورارزښتونه وران کړل ، بیایې وروسته دخپلو ګټو دخوندي ساتلو لپاره هڅې پیل کړې او دخپلو ورانیو دتوجیه کولو لپاره یې دلایل ولټول ، دا دی سرچپه او ناسم سیاست.

وړاندیځ :

حکومت ، ګوندونه ، سیاسي شخصیتونه او د سیاست مینه وال ځوانان باید په ، هېواد کې دود شوې سرچپه سیاستلو به راسته کړي او په ریښتینې سیاسي مبارزه یې بدله کړي. موږ باید د خپل هر سیاسي خوځښت او پر مختګ لپاره پر ریښتینو دلایلو ولاړ باورونه ولرو او د هغو اسې باورونو پر بنسټ خپل سیاسي تګلار او تګلوری وټاکو ، موږ باید ، له خپلو سیاسي ملګرو سره ، د ګټو او امتیازاتو پر ځای پر علمي دلایلو ولاړ باورونه شریک کړو او خلک پردې باورونو راټول کړو. د خپلو ګټو په خاطر د اسې څه کول چې سبا یې د (ولې؟) ځواب ونلرو او دروغجن دلایل ورته لټوو ، کولای شي موږ د دریېو ماتېو د ورانوونکیو په برخلیک واړوي.

زموږ د ناسمو دلایلو په وړاندې به زموږ همزولی نسل چوپ پاتې شي ، خو تاریخ هېڅکله چوپ نه پاتې کېږي.

کېدای شي ، ځینو خلکو ته د خپلو ګټو د خوندي ساتلو په وړاندې د تاریخ قضاوت هېڅ ارزښت ونلري ، مګر د ټولنیز شعور له ودې سره سم همزولی نسل پر خپل وخت قضاوت او عمل کوي ، ځکه نو دنن او سبا سیاستونه باید مخامخ خلکو ته د ځواب ورکولو توان ولري.

د هېڅ سیاسي عمل لپاره دروغجن دلایل مه لټوئ ، بلکې د ریښتینو باورنو پر بنسټ سیاسي ګام پورته کول پیل کړئ ، چې هېواد مو پر ماتېو ښکلی شي.

# له تاریخ سره موږ چلند

ما تل فکر کاوه هغه خلک، چې د خپل هېواد ګټې یې په پردیو پلورلي ، په دې او هغه نامه یې خلک وژلي ، هېوادیې وران کړی ، ملي شتمنۍ یې لوټلي او دهېواد پر پېغلو یې تیری کړی ، هېڅ د تاریخ د قضاوت پروا نلري. ما ویل دوی به له ځانه سره وايي: زه بابا ! تاریخ یې لا چا راایستلی دی ، اوس مزې کوه ، تاریخ به بیا خپل کار کوي او... مګر ځینې پېښې داسې ښیي ، چې دوی تر دې هم زورور دي ، او ډېر ځله یې زړه غواړي ،چې تاریخ هم په زوره هغسې مسخ کړي ، چې دوی یې غواړي ، زه لا هم نپوهیږم ، چې دوی د تاریخ له رېښتیني قضاوته ویره لري ، که نه، غواړي خلکو ته وروښیي ، چې ګورئ موږ ته دا د تاریخ قضاوت ډېر نبغ نبغ مه کوئ ، که غوسه مو راغله نو د تاریخ قضاوت به هم په زوره په خپله ګټه مسخ کړو ، په پیسو به یې واخلو او که نه کېده نو وبه یې وژنو...

د تاریخ لیکنې مېتودولوژي حکم کوي ،چې د تاریخ علمي روایت او ثبت غوره دی نه دثبتوونکي یا راوي قضاوت ، پېښې باید له خپلو عواملو او څرنګوالي سره ثبت شي او دښه او بد حکم له قیدونو څخه پرته دلوستونکیو قضاوت ته وړاندې شي ، په بله مانا تاریخ نه نقاشي کیږي ، بلکې عکاسي کیږي. په تاریخ لیکنه کې د لیکونکي تخییل ، وهم ، ګومان ، احساسات ، پلوي ، ښکنځلې او ستاییني ځای نلري. رېښتینی سیاستوال ددې پر ځای ،چې د تاریخ د مسخ کولو هڅه وکړي باید خپل اعمال سم کړي.

ستونځه ،

ستونځه دا ده چې زموږ ګڼ سیاستوال د تاریخ پر تولید ، خوندي کولو او مصرف سم نپوهیږي ، دخپلو اعمالو پر مهال یې د تاریخ قضاوت هېر وي ، خو همدا چې وګوري له ظلم ، تیرې ، هېواد ورانولو او وژنو پرته کوم ویاړ نلري نو د تاریخ پر مسخ کولو پیل کوي

او بالاخره چې تاریخ مخې ته کیږدي هم ، پند او عبرت نه ورځخه اخلي او تیرې تېروتنې بیا تکراروي. راځئ د تاریخ تولید ، خوندي کول او مصرف وپیژنو :

۱- پېښې د تاریخ خام مواد دي ، کرکټرونه پیښې رامنځته کوي یا د پېښو ماهیت ټاکي ، پېښې په یوه ځانګړي زمان یا مکان کې پېښیږي ،چې دا یې قیدونه دي او په لوی سر کې دا ټول د تاریخ د تولید توکي دي. ټول آرشیفي مواد او د تاریخ مادي توکي د تاریخ استنادي مرستیال وسایل دي.

۲- هغه پروسه چې پورته تولید شوي تاریخي اسناد( پرته له لاسوهنې او مسخ کولو ځخه ) خوندي او نورو نسلونو ته یې لیږدوي ورته د تاریخ خوندي کول وایي ، د تاریخلیکنې میتودولوژي پر دې برخه ډیر ټینګار کوي ، چې د تولید شوي تاریخ ډیره برخه سمه خوندي پاتې شي.

۳- د تاریخ مصرف ، هغه نسلونه چې تاریخ لولي او زده کړه ورځخه کوي، پند ورځخه اخلي ، خپل ملي هویت پکېویني او ښه یې تکراروي ، له بدو ځخه یې ډډه کوي ،دوی د تاریخ مصرفوونکي دي.

موږ د تاریخ د تولید پر مهال ، د خپلو اعمالو پروا نکوو ، دځواک نشه دومره زوروره وي ، چې خپل منفي اعمال هم را ته شهکارونه ښکاري ، ځکه خو د تاریخي پېښو د کرکټرونو په توګه ډیره ځله د منفي ماهیت خاوندې پېښې رامنځته کوو.

د تاریخ د خوندي کولو پرمهال خپل بد شهرت راپورې اورشي او بیا نو لستوڼي را بډ وهو او هڅه کوو ، چې تاریخ یا پټ کړو ، یا یې د استناد د کمزوري کولو لپاره مادي توکي له منځه یوسو او یا یې هم مسخ کړو ( مانا دا سې یې تحریف کړو ، چې موږ د تاریخ د مصرف پر مهال د خلکو له سترګو ځخه ځان پټ کړی وي ) .

د تاریخ د مصرف په اړه هم موږ د افراط یا تفریط ستونځه لرو ، یا دومره د تاریخي پیښو او کرکټرونو په سپینولو یا تورولو پورې ونښلو ، چې نن او سبا بیخي رانه هېره شي او یا هم تاریخ داسې هېر کړو ، چې بیا یې د ځان په اړه له قضاوت څخه ویره هم نه راپه یاد وو. تاریخ مصرفول همدومره ارزښت لري ، چې زموږ ګډ ( ملي ) هویت راو پیژني او له ښو یا بدو یې عبرت واخیستلی شو. دیوه نامتو پوه دا خبره په زړه پورې ده چې: (( هغه خلک چې هرڅه یوازې او یوازې په خپل تاریخ کې لټوي ، داسې دي لکه دوی چې په تیاره کې مخ په وړاندې روان وي، خو څراغ یې خپلې شاته نیولی وي. ))

موږ د تاریخ په اړه دوه ډوله برخورد لرو ، یا بېتفاوته یو یا هم احساساتي ، د تاریخ په اړه عقلي قضاوت نه کوو. له تاریخ سره بېتفاوتي د تاریخ دورکېدو یا ناسم خوندي کېدو او مسخ کېدو ویره رامنځته کوي . له تاریخ سره احساساتي چلند هم د مسخ کېدو ترڅنګ په تاریخ کې د ځان ورکولو ګواښ رامنځته کوي او له نن یا سبا جوړولو څخه مو غافله کوي

له تاریخ سره عقلي او هوښیار چلند همدا دی ، چې د تولید پر مهال یې خپل اعمال او پرېکړې سمې کړو ، د خوندي کولو پر مهال یې ډېره هڅه وکړو چې ریښتیني او سم خوندي شي او د مصرف پر مهال یې د تجربو او روښانه هویت د یوې لویې زیرمې په توګه داسې وکاروو ، چې د نن او سبا په رڼولو او جوړولو کې مرسته راسره وکړي. زما په نظر په ملي کچه زموږ ډېرې ګډې ستونزې له تاریخ سره زموږ د ناسم چلند له امله رامنځته کیږي. ژوندي او هوښیار ولسونه په دې پسې ډېر ګرځي ، چې او س څه لري او سبا ته باید څه ولري ، او د دې لپاره د خپلې پرون بریالۍ تجربې رااخلي او له نابریالیو یې د ماتې په توګه پند اخلي.

وړاندیځ

سرکار باید یو بېپرې علمي ـ تخصصي بنسټ وګوماري چې تاریخ د تاریخلیکنې له میتودولوژي سره سم خوندي کړي، په بله ژبه موږ باید دخپل تاریخ دنقاشي کولو پر ځای دپېښو دعکاسي کولو کمال راخپل کړو . د پوهنې ملي بنسټونه باید راهسکېدونکو نسلونو ته تاریخ هغسې ،چې دی، وروپېژني او په نصاب کې دتاریخ دسم مصرف له منطق سره سم داسې روزنیز ارزښتونه خوندي شي ، چې له تاریخ سره عقلي چلند دود کړي ، چې ورو ورو له تاریخ سره دېتفاوته او یا هم احساساتي چلند ځای ونیسي.

او تر هرڅه ډېر مهم ، داچې د تاریخ له قضاوت څخه ویره باید موږ سمو او دټول هېواد په ګټه سیاسي پریکړو ته مجبور کړي. دا باید زده کړو ، چې دتاریخ دمسخ کولو په تیزابو دخپل تور مخ دمینځلو پرځای باید هڅه وکړو تاریخ ته خپل مخ سپین وروړو ، زموږ سیاستونه باید همداسې وي ، په دې اړه یوه پراخ بحث ته اړتیا شته ، رائځ پرې راګډ شئ !

# هر کار شریف دی

دا به یو کلتوري توپیر وي ، چې په لویدیزه نړۍ کې هر هغه کار ،چې دقانون پر خلاف نه وي شریف ګڼل کیږي او هیڅ داسې قانوني کار نشته ،چې څوک دې دهغه پر ترسره کولو دشرم احساس وکړي. آن دکاستونو یا طبقاتي کلتور پر بنسټ ولاړ ټولنیز جوړښتونه هم له دې نظره نور پاشل شوي دي ، یوه ښه بېلګه یې هندوستان دی ، په دغه هېواد کې ښارونه (چې لویه برخه نفوس په کې اوسي ) نور نو دکار ارزښت پیژني او دټیټ کار یا لوړ کار پوښتنه نشته ،بلکې دکار او بېکارۍ پوښتنه تر ټولو لویه پوښتنه ده. زموږ یوه لویه ستونځه وزګارتیا ده ، خو همدومره لویه ستونځه په اصیل ( ! ) کارپسې ګرځېدل دي. تر دې لویه بدمرغي چېرته ده ، چې قوماندانې تر موچیتوبه لوړ کار ګڼل کیږي. ټوپک ګرځول ، دمخدره موادو قاچاق او رشوت خوړل تر بزګرۍ ، شپنۍ او معلمۍ ډیر دویاړ وړ ګڼل کیږي، دمیږو او وزو پالل ، دچرګانو ساتنه او دسبو کرل ترټولو ګټور کارونه دي ، خو که دهمدغو ویاړلو کارونو له فعالانو څخه وپوښتئ ، چې څه کار کوي نو ښایي یا یې پټه کړي او یا یې هم په ژوولې ژبه درته ووایي ،چې څه کار کوي، خو ددې پرځای به دمخدره موادو دمافیا غړي په ډیره کلانکارۍ دخپلو شهکارونو( ! ) کیسې خلکو ته بیانوي.

هر قانوني کار شریف کار دی او په دې توګه ټیټ کار نشته ، دارزښت له مخې دقانوني کارونو یو ډول ویش شته ،چې دکارتولیدي ارزښت او بل یې دکارخدماتي ارزښت ګڼلای شو ، ډیر ځله تولیدي کار اغیزمن کارونه ګڼل کیږي ، ځکه چې ګټه یې عامه وي ، خدماتي کار هم شریف کار دی ، خو توپیر یې دادی ، چې ګټه یې یوازې یوه یا څو کاري واحدونو ته رسیږي. دبېلګې په توګه دپیازو کرل تولیدي کار دی او ګټه یې عامه ده ، مګر له پټي څخه تر بازاره دپیازو لېږدول خدماتي کاردی. یا له منو څخه دجوسو ایستل تولیدي کار دی ، خو دجوسو پلورل خدماتي کار دی، معلمي تولیدي کار دی او ټکسي چلول خدماتي کار. کله کله په تش په نامه باحیثیته کار پسې لټه پخپله دوزګارۍ کچه لوړوي. یو ځل له ځانه

سره فکر وکړئ ، چې ښوونځي او پوهنځي دومره ډیر شول چې ټول نفوس لېسانسه یا ماستران شول او دوی ټول په لوړو ځوکیو او تش په نامه لوکسو کارونو پسې راووتل ، نو آیا موږ اته ویشت میلیونه لوړې څوکۍ لرو؟ نه ! په دې صورت کې به نو دې اته ویشتو میلیونو وزیرانو او رییسانو ته څوک ډوډۍ پخوي ؟ ځکه موږ به نانبای ونلرو. که اته ویشت میلونه وګړي ټوپک واخلي او دباډیګاردانو دګرځولو جنون یې لیوني کړي ،نو ددوی ډریوري به څوک کوي. له دې نه ښکاري ،چې دیوه ناسم ټولنیز دود له امله موږ په واهي او خیالي بڼه کارونه په ټیټو او لوړو کارونو ویشلي دي ، چې هېڅ راز ارزښتي بنسټ نلري.

همدا چې دا ذهنیت عام شو چې ټول قانوني کارونه شریف کارونه دي ، نو د کار درامنځته کیدلو لاره هوارېږي ، په هرې حرفه کې نوښت ته لاره هوارېږي او په پایله کې د انساني ژوند دشرایطو دښه والي لپاره عملي هڅې پیلیږي. زه ، په یوه علمي ـ سرکاري څانګه کې پر کارلګیا یم ، که دا کار له لاسه ورکړم ، خپل تجملي توکي پلورم پنځوس چرګې اخلم، پخپله ورته کوډۍ جوړوم ، هره ورځ چې دیرش هګۍ وپلورم دیوې کورنۍ ژوند پرې کیږي ، زه چې دیوې نیمګړې ټولنیزې پېژندګلوۍ خاوند هم یم ، هیڅکله احساس نکوم، چې پر یوه بې ارزښته کارلګیایم ، له یوه اړخه ښایي دپنځوسو چرګانو روزل زما تر اوسني کاره ډیر تولیدي ارزښت ولري ، ځکه اوس دوړې افغان لپاره دچرګو دهګیو تولید تر هغو څېړنو ډیر ارزښت لري ، چې زه اوس پرې بوخت یم. زه دخپل کار او دخپل ډریور دکار تر منځ ماهیتي توپیر پیژنم خو ارزښتي توپیر ته یې قایل نه یم ، ځکه زما ډریور او زه دواړه قانوني کارکوو او دواړه کارونه ارزښتمن دي.

وړاندیځ:

(( هر ناقانانونه کار بې ارزښته ،بلکې ناولی او ناشریفه کار دی ، که ګټه ، غرور ، باډیګاردان، موټر او زور یې هم ډیر وي هرقانوني کار شریف، ارزښتمن ، ګټور او مهم دی ،که څه هم چې ګټه یې لږه ، خواري او زحمت یې ډیر او شهرت یې کم هم وي )) دا هغه

منطق دی ،چې موږ يې بايد له اوسنۍ بد مرغۍ څخه د ځان راايستلو لپاره دود کړو ، پر هر افغان يې ومنو او ټيټ او پست کارونه هغه په ظاهره مجلل او فيشني کارونه وګڼو چې نورو ته يې تاوان رسيږي او د قانونماتوونې لامل ګرځي. د ارزښت له مخې د کار تنوع مهمه ده ،چې حکومت بايد ورته پام وکړي ، د اتو ميليونه ناروغانو لپاره پينځلس ميليونه ډاکتران ندي پکار ، بلکې د شلو ميليونه وږيو لپاره لس ميليونه بزګرانو ته اړتيا ده ،چې غنم وکري يو ميليون خدماتي فعالينو ته اړتيا شته چې دا غنم د شلو ميليونه وږيو تر ګيډې ورسوي ، ددوی تر څنګه شلو زرو سلمانيانو ته اړتيا ده چې ددوی پاکي او سليقه وساتي او دوه سوه زرو ښار پاکوونکيو ته اړتيا ده ،چې کوڅې پاکې کړي. د ښارپاکولو ارزښتمن او باحيثيته کار بايد يو څوک وکړي. ما په امريکا کې پخپلو سترګو د عامه اړيکو داسې يو ماستر ليدلی دی ، چې زموږ د کوڅې خځلې يې هره ورځ د ښاروالۍ په موټر کې وړلې ، يوه ورځ مې ترې وپوښتل ،تا ډيګري اخيستې ، ولې په خپله څانګه کې کار نکوې ؟آيا کار نه درته پيدا کيږي ؟ راته يې وخندل ، چې ولې دا کار ؟هره ورځ شپږ ساعته کار کوم او خوشاله يم ، که زه دا کار ونکړم نو څوک يې بايد وکړي ؟زه لږ وشرمېدم ، ځکه خپله پوښتنه راته بېځايه ښکاره شوه ، ايله مې دې ته پام شو چې هلته ټول قانوني کارونه د برابر حيثيت خاوند دي.

# ورک ارمان

زموږ د سرکار یوه لویه نیمګړتیا داده ،چې لوی او ګډ ارمان نلري ، ارمان مانیز ارزښت دی ، او په قانون کې نشي لیکل کیدای ، دارمان د تللو لپاره کومه ترازو هم نشته ، خو ډیر ارزښتمن څیز دی. کېدای شي سرکاري مشران ځانته ځانته ارمانونه ولري او ان کېدای شي له یو شمېر چارواکیو سره ښه او شریف ارمانونه هم وي ، خو د دوی ترمنځ دیوه سترملي ارمان لپاره د ګډو هڅو روحیه نشته. ایډیولوژیک ، فکري ، نظریاتي او پر ګډو فلسفي ارونو باورمند حکومتونه ارماني حکومتونه وي ، په تېرو دیرشو کلونو کې یو دوه ځله ارماني حکومتونه راغلل ، که څه هم ارمانونه یې ټولو خلکو ته د منلو وړ نه وو ، مګر دوی د یوه منظم دولتي د سپلین په راوستلو کې ډیر بریالي و ، همدا ،چې د دوارو نظامونو ارماني بنسټونه ونړیدل ، لږ وخت وروسته وروسته ورپسې دواړه نظامونه هم ونړیدل ، زموږ او سنی سرکار د داسې یوې نړیوالې ټلوالې په مرسته راجوړ شو ، چې یو خو یې له تیرو دوو ارماني نظامونو سره سخته ورانه وه ، او دوهم دا چې دلته یې دیوه بل ارماني نظام له جوړولو څخه ویره درلوده. د اوسني سرکار روحیه د (مارکیټ) آزادي وه ، د مارکیټ د آزادۍ منطق د خپل ځان لپاره د امکان تر بریده د ډیرې ګټې تر لاسه کول دي ، په داسې فضا کې ټول انساني ، اخلاقي ، عاطفي او ان عقیدوي ارزښتونه له منځه ځي او لوی ارمان د ډیرې ګټې تر لاسه کول وي ، ډېر ځله داسې ګټې له مشروع لارې څخه نشي ترلاسه کېدای ، ځکه خو د سیالۍ په ګرمه وینه کې د مشروعیت او نامشروعیت پوښتنه له منځه ځي ، همدا ده چې په یوه بشپړه ځانځانۍ کې د (ګټې ) لپاره هلې ځلې پیل کیږي ، تاسو به وایئ ، چې هغه نړیوال ځواکونه چې داسې بلا یې زموږ پر سرکار راوستې ده ،نو پخپله خو له داسې ستونځو سره ندي مخامخ ؛ هو دا پوښتنه سمه ده ، یو توپیر ،چې د هغوی موډل یې زموږ له موډل سره لري، دا دی ، چې هلته قانون په بشپړه ځواکمنۍ حاکم دی ،خو دلته ندی. پخوا چې زموږ په هېواد کې قانون کمزوری و ، نو پر ځای یې عقیدې ،عاطفې او پیاوړو اخلاقو حاکمیت

درلوده او دغو ارزښتونو په ټولنه کې نظم ساته ، د( ګټې ) ليوني مارکيټ دغه ارزښتونه په چارواکو کې کمزوري کړل، خو قانون يې واکمن نه شو کړای ، چې په پايله کې يې ټولنه د معنوي ارزښتونو له ګواښمنې تشې سره مخامخ کړه ،داسلام په سپېڅلي شرع کې رشوت لويه ګناه ده ، خو ولې لاهم (زموږ په عقيدوي ټولنه کې ) ديوې ښکروړې ستونځې په توګه حاکم دی؟ هر ورځ هغه ماشومان وينو چې په سړه هوا کې پخپلو چاودو لاسونو زموږ د ګولۍ ضد( زرې) موټرو ښيښې پاکوي ، خو موږ له کبره دومره هم نه ورته وايو چې بېځايه تمه مه کوه ، عاطفه چيرې ده؟ له همداسې يوه ټولنيز چاپيريال څخه،چې ستومانه شو ،نو ډيرځله دڅوشپو ساتيرۍ لپاره دوبۍ ته ځو ... اخلاق څه شول؟ او ددې ټولو په وړاندې قانون ( چې دبې ارمانه نظام لپاره دنظم دتأمين يوازينۍ وسيله ده ) هم بيخي کمزوری دی، نو ښکاري ،چې په ځنګل کې مو شپه ده. زموږ دلويد يزو اندېوالانو به دا يا تيروتنه وه اويابه يې په لوی لاس همدا غوښتل ، چې دهرډول ملي ـ فکري ارمان رامنځته کېدلو مخه يې ونيوله او دقانون بشپړ حاکميت ته يې هم لاره هواره نشوه کړای. ښه، که له دوی څخه دا تيروتنه شوې وي ، يا يې په لوی لاس دلاډيرې ګټې دمارکيټ بې قانونه پيريان زموږ پر فکري منظومه حاکم کړي وي ، هغوی يوه شه او خدای ( ج ) ، خو پوښتنه دا ده، چې زموږ مسئوليت څه شو ؟

ديوه موډل وړانديځ:

فکر وکړئ ، چې يوه ورځ زموږ د سرکار ټول لوړ چارواکي سره راټول شول او پريکړه يې وکړه ، چې راځئ افغانستان او افغان انسان له دې بد مرغۍ څخه راوباسو ، او کله چې له لويې ماڼۍ څخه خپلو وړو ماڼيو ( کارځايونو يا کورونو ) ته راستانه شول بيا يې هم پر همدې ارماني ژمنه فکر او عمل وکړ ، چې افغانستان او افغان انسان له دې بد مرغۍ څخه راباسو او په دې لاره کې د مارکيټ په آزادۍ کې هم پخپلو بې خرته ګټو پسې نه ګرځو ، نو زه ضمانت ورکوم ، چې په يوه مياشت کې وضعيت بدلون مومي او خلک خپل سرکار ته نږدې کيږي. پورته ژمنه يو ارمان دی ، چې وروسته بيا ورته عملي او علمي ميکانيزمونه رامنځته کيدای شي او د سرکار چارواکي په ګډه سره ګام پر ګام مخکې تللای شي. دملي

ارمانونو یوه ځانګړتیا داده ،چې ټولیز دي نه وګړنیز ، خو وګړي یې د ساتلو او پاللو فاعلین وي ، دګډو ، ملي او شریفو ارمانونو دتللو او ارزونې ځای له ځانه سره قضاوت دی ( چې ځینې ورته وجدان یا ضمیر هم وایي ) خو په ټولیزه توګه دریښتینو لاسته راوړنو او دنورو دانساني ژوند دشرایطو په ښه والي کې دونډې ځومره والی دی ، نه دډیرې ګټې په سیالۍ کې ځان وړاندې کول. زموږ لپاره یو داسې سرکار پکار دی ، چې دیوه ګډ ،خو شریف او ټولو ته دانساني ژوند دشرایطو دښه والي پر بنسټ ولاړ ارمان ته دهېواد درسولو لپاره کاري ټیم وي او دوو هڅو ته لومړیتوب ورکړي:

۱- دلویدیزو موډلونو په څېر دیوې قانونمندې ټولنې جوړول او په هرڅه کې قانونوا کي ته لاره هوارول.

۲- دسرکار ټیټو پوړونو ته دګډملي ارمان لېږد.

ددې لپاره چې ددې لیکنې په ټول منطق وپوهیږو ، یوه تجربه کولای شو ؛ داسې چې راځئ یو مایک او ټیپ واخلو ، په ټولو لوړپوړیو چارواکیو وګرځو ، یوه پوښتنه ورڅخه وپوښتو :

تاسو دافغانستان لپاره څه غواړئ ؟ څنګه یې غواړئ ؟ په کومو لارو چارو یې غواړئ ؟او دې ته درسېدو لپاره له نورو سره ګډ کار کولای شئ کنه ؟ ایا همدغه څه چې دافغانستان لپاریې غواړئ ،په خوب کې یې هم وینئ کنه ؟ ددې څه په وړاندې دخپل اولاد خواریدل او هېرول زغملی شئ کنه ؟.....

که ددې پوښتنو په ځوابونو کې توپیر و ، ګډ ارمان نشته ، هرکله چې ددې پوښتنو په ځواب کې دټولو چارواکیو اتفاق رامنځته شو ،په هماغه ورځ دافغانستان او افغان انسان دبدې ورځې پای له ما وغواړئ.

# دټولنيز سمون ځواک

تربحران وروسته ټولنو کې يو داسې ځواک ته اړتيا وي ، چې اجرائيوي واک ، ټولنروزنيز تفکر او مدني خپلواکي ولري. زموږ يوه لويه ټولنيزه ستونځه دفردي مسئوليتونو له پامه غورځول دي ، دداسې مسئوليتونو يوه لويه برخه اخلاقي دي ، يوه برخه يې قانوني دي اويوه وړه برخه يې اختياري دي ، راځئ دا درې ډوله مسئوليتونه وپيژنو :

۱- اخلاقي مسئوليتونه ، هغه دي ، چې اجرا يې اړينه وي ، خو له نه اجرا سره يې قانوني چلند نه شي کيداى ، دبېلګې په توګه خپل ماشومان دوطنپالنې په روحيه روزل ، دخپل چاپيريال پاک ساتل ، او له بل ( هېوادوال ) سره دمرستې داړتيا پرمهال لاس ورکول او ...

۲- قانوني مسئوليتونه هغه دي، چې فرد يې دقانون پر بنسټ پر اجرا مکلف دى او که يې ونه کړي قانوني چلند ورسره کيداى شي ، لکه: دبريښنا دلګښت پر وخت تحويلول ، خپل ماشوم ښوونځي ته استول ، دټوليز چاپيريال ساتنه او نور.

۳- اختياري مسئوليتونه هغه دي چې داجرا التزام يې پخپله دوګړي له عمدي ارادې څخه رامنځته شي ، مانا داچې داخلاقو او قانون په وړاندې هغه مهال التزام مومي ، چې سبب او لامل يې په لوى لاس د وګړي له خوا رامنځته شي. دبېلګې په توګه يو شخص غواړي دخلکو دپوهونې لپاره يوه ليکنه وکړي ، پخپله ليکنه کول دوګړي اختياري انتخاب دى ، چې کوي يې که يې نه کوي ( قانون يا اخلاق يې نه مجبوروي ) ، خو که يې اراده وکړه نو بيا مسئول شو ، چې ليکنه په غور ، پر حقايقو ولاړه او ريښتينې وليکي.

له دريواړه مسئوليتونو سره ټوليز چلند او دچلند اجرايوي ځواکونه بېل بېل وي ، په رسمياتو کې يوازې له هغو مسئوليتونو سره د مخامختيا ځواک شته چې التزام يې دقانون پر بنسټ کچ ومېچ کيږي. پوليس او نورې سرکاري ادارې د قانوني مسئوليتونو د پرځاى

کولو لپاره دنده اخلي ، خو داخلاقي او اختياري مسئوليتونو د څارنې ، روزنې او پالنې لپاره رسمي ځواک نشته، تر ټولنيز کړکېچ وروسته په ملي کچه دداسې ځواک رامنځته کول د هوښيارو حکومتونو په پام کې وي. زه ورته په دې ليکنه کې د ټولنيز سمون ځواک وايم او بايد په اوسنيو شرايطو کې رامنځته شي. دا ځواک بايد ځانګړې کاري طرزالعمل ، له مخکې ځخه جوړ شوي علمي ـ عملي روزنيز مواد او هماهنګه فعاليت وکړي ، لګښت يې د سرکار پر غاړه وي ، اداره اوڅارنه يې دريښتينې مدني ټولنې ( نه د تجارتي شرکتونو يا ګټندويه ان جي او ګانو ) مکلفيت او غړي يې له شعوري ريفورميستانو ځخه وټاکل شي.

د ټولنيز سمون ځواک به درې لويې دندې ولري:

۱- روزنه: موږ بايد يو شمېر اخلاقي او اختياري مسئوليتونه هر افغان انسان ته ورسوو ، له کارځای ځخه رانيولې تر ښوونځي ،پوهنځي ، کور او پټي پورې ، يوه ښه بېلګه يې د ديني تبليغيانو تشکيلات دي ، موږ بايد هر افغان انسان په دې پوه کړو ، چې د پاک ساتلو ځای يوازې کور نه، بلکې کوڅه، سيمه او ښارهم دي ، هر افغان انسان په دې پوه کړو ، چې له وطن سره ـ په عمل کې ـ مينه ، هېواد ته يو څه ورکول او د ملي سمون په هڅه کې برخه اخيستل ، او د فساد پر وړاندې ودريدل هغه څه دي ، چې موږ له دې وضعيت ځخه ايستلای شي. دداسې روزنې لپاره بايد د سمون ځواک منظم نصاب او تعليمي ميکانيزمونه جوړ کړي.

۲- څارنه : د ټولنيزو اخلاقو دراژوندي کولو لپاره هم داسې هڅوونکو قوانينو ته اړتيا شته ،چې که مجازات پکې نه وي نو مکافات دې خامخا ولري ، مثلا هغه وګړي ،چې خپل اخلاقي او اختياري مسئوليتونه تر سره کوي ښايي په جوايزو ، او مالي مرستو وهڅول شي ، ( د افغانستان لپاره د څه کولو ) کلنۍ لويه جايزه بايد وټاکل شي او هر هغه چا ، چې د

دخپلو اخلاقي او ارادي مسئولیتونو د پر ځای کولو له لارې افغانستان او افغان انسان ته ګټه رسولې وي په دې ملي جایزه ونازول شي ، داکار هغه وخت شونې ده چې د ټولنیز سمون ځواک په ټولنه کې دابهیر دقیق وڅاري او دهڅوونې له لارې خلک ملي سمون ته راوبولي.

۳- دملي حشرونو رابلل ، دا تر نړیوالې دوهمې جګړې وروسته داروپا دبیارغوونې موډل ته ورته هڅه ده. دهېوادني نظم او سمون په بیارغوونه کې دخلکو ونډه ګڼې ګټې لري ، یوخو په عامه شتمنۍ کې دخلکو زیار دشتمنیو دساتنې روحیه رامنځته کوي( همدا اوس موږ ځینې شتمنۍ ورانوو ، ځکه فکر کوو ،چې یاکافرو شورویانو جوړې کړي یا هم کافرو امریکایانو او ګواکې زموږ خولې ندي پکې تویې شوي ) ، دویمه دا ،چې په راروانو نسلونو کې دهېواد پالنې روحیه ډیره پیاوړې کوي ، هرهغه څه چې زموږ نیکونو په خپلو خولو جوړ کړي وي موږ ورسره عاطفي اړیکه لرو ، دریېم دا چې دخلکو ټولیز خوځښت سرکار مجبوروي ،چې خپله ونډه پوره کړي ، ځکه پر سرکار باندې تردې لوی عملي فشار بل نشته ، چې خلک دیوې ملي شتمنۍ درامنځته کولو یا رغولو لپاره په ډلو کې سره منظم شي.

د ټولنیز سمون په حشرونو کې خلک دوچو ، شعاري او بې ګټې سیاستلوبو پر ځای له هېواد او ولس سره دمرستې بدیلې لارې مومي او هېواد پرخپل بشري ځواک تکیه کوي.

داسې حشرونه د سیمو له پاکولو نیولې د سړکونو او ټولګټو بنسټونو تر جوړولو پورې ډیر څه رانغاړلی شي. دا هڅه په تېره بیا په کلیوالي سیمو کې دمعجزې تر بریده بدلون راوستلی شي.

د ټولنیز سمون ځواک هغه پولیس دي ، چې نه ټوپک لري ، نه جېلخانه ، خو دملي اصلاح په بهیر کې تر حکومت او پولیسو لویه ونډه اخیستلای شي ، دداسې ځواک دځانګړتیاوو او جوړښت په اړه دیوه هر اړخیز بحث لپاره خپل نظرونه له موږ سره راګډ کړئ.

# زموږ دسیالۍ حس

افغانان دپېغورپه وړاندې حساس دي ، دافغانانو دسيالۍ حس هغه وګړنی او ان ټولیز پوتانسیل دی،چې ددوی بالقوه ځواک بالفعله خوځښت ته راوستلی شي ،نو دوینښتیا په بهیر کې ددوی له دغه پوتانسیل څخه باید ګټه واخیستل شي. افغانان دنورو دغلام کېدود پیغور ویرې ټول عمر جګړواو قربانۍ ته اړکړي دي، خو دغلامۍ اصلي لامل او سرچینې( بېوزلۍ ) ته يې لاهم پام نشته ، چې هرځل موږ دغلامۍ تردرشله وروليي ، افغانان دهېواد دساتلو سيالي پیژني ،خو دودانولو په سيالي يې ندي خبر ، دوی دخپل ناموس دساتلو لپاره ځان وژني ،خو دناموس دنس مړولو ،پوهنې( تعليم) روغتيا او لومړنيو حقونو پيغور ورته دسيالۍ وړنه ښکاري. دلتې بهانه خو به داوي ،چې دهېواد پرمختګ ، دکورنۍ مړول او روزل سخت کار دی، خو داسې نده ځکه مخکې موو ويل ،چې داهرڅه دځان له وژلو څخه سخت او ناشوني ندي. اوس نو اساسي هڅه داده چې افغانان دهېواد ودانولو او پرمختګ پر سيالۍ ودروو ، ددوی داحتیاج پيغور ورکړو اوپه دې يې پوه کړو ،چې له دې پيغورونو څخه دځان خلاصولو هوډ او وس ددوی پخپل لاس کې دی. زموږ ډېرې تورسرې ددرملنې لپاره دهندوستان، پاکستان یا بل پردي وطن په روغتونونو کې سرګردانه دي ، ډېرې پېغلې خوېندې مو ددې لپاره چې نارينه يې موږ خپله وروژلي پرديو ته دګدايي لاس نيسي او خدای مکړه دنورې رسوايۍ ويره يې هم شته ... هغه ماشومان مو چې په سرکونو کې دپينځو افغانيو لپاره دې او هغه ته لاس نيسي ، هېڅکله دغیرت رګ نه خوځوي او په عقل مو نه راولي. ددغه ولس دعقلي پیاوړتيا لپاره باید ،ددوی له احساساتي توانمنديو او ننګونو څخه کار واخلو.

 څنګه تولیزا احساسات په یوه عقلي ګټوره پروسه بدلیدای شي؟

دهر محرومیت عوامل ، په تولیزه توګه له هغو سره دمبارزې لارې چارې او په ورته شرایطو کې دنورو موډلونو پېژندنه یې عمومي چوکاټونه دي. چې خلکو ته یې ورو پیژنو او دهغوی توانمندۍ په کار راولو. موږ په خپل تاریخ کې د پردیو پرورانديې دجهاد او ملي مبارزې د پیلولو ګڼې تجربې لرو ، زموږ د تاریخ عجیبه پیښه به همدا وي ،چې ددې ولس دجګړې او وسلوالې مبارزې ځواک په کاري او تولیدي چاره کې وآزمویو ، هر افغان چې دانساني ژوند په کوم وضعیت کې دی د پېغور ور دی ، خو په دې شرط ،چې له پېغور سره یوځای د بېوسۍ ، احتیاج او ورانۍ له ستونځو دځان خلاصولو لارې چارې هم وروښییو ، څکه یوازې پیغورونه ورکول دانسانانو د خوارولو او رواني ځپلو لامل ګرځي ، چې په انسانانو کې ګوابښمنې رواني غوټې ( عقدې ) رامنځته کوي.

راځئ حکومت او خلک پوه کړو ، چې زموږ رواني او به زموږ دګډناموس حیثیت لري او وګورئ ،چې څنګه زموږ دسیندونو ناموس دپردیو دښمنانو خاورې ته وراوړي ،خو دلته زموږ شونډې اوزموږ زمکې له تندې سوزي. راځئ افغانانو ته پېغور ورکړو ، چې هغه ولسونه چې زموږ دنیکونو په توره مسلمانان شوي وو ، اوس څنګه موږ د اسلام په نامه پخپلو کې سره جنګوي او خپل اسونه چاغوي ، راځئ افغانان وننګوو ، چې څنګه شپږ پنځوس ډوله کفار راغلي ، زموږ تورسرې تلاشي کوي ، تنکي ماشومان مو رابمباروي ،په کورونو مو رانتوځي... ددې لپاره چې موږ لوست ندی کړی، هېواد ته مو کار ندی کړی، دهمدې شپږپنځوس طایفو کفارو ډوډۍ ، ډالرو ، او تکنولوژۍ ته احتیاج یو. نو له همدې حالته دراوتلو لارې دادي ، چې لومړی پخپلو کې یو دبل له ګریوانه لاسونه راوباسو ، دخپل ملي ژوند لومړیتوبونه وپیژنو او دنوي عصر جهاد ( کار ) پیل کړو.

لاتر اوسه چې موږ څومره سندرې ، شعرونه ، شعارونه ، لنډۍ او ویناوې دجګړو لپاره ویلي اوکړي که په نیمایي یې دکار او پرمختګ لپاره وکړو ، نو عمري به ځان له هر ډول پېغور څخه خلاص کړو.

وړانديځ:

روښانفکران، ليکوال ، دعامه پوهاوي فعالين ، حکومت ، ديني علما ، اغيزمن شخصيتونه او په تيره بيا وينښې او روښانه افغاني ميرمنې کولای شي د ولس دمثبتې سيالۍ حس راوپاروي. دخلکو دژوند شرايط بايد دوی ته وروپيژندل شي او پر دې قانع شي ،چې په ټوله نړۍ کې دا يوازې افغانان دي ،چې خپل ښوونځي سوزوي ، په يويشتمه پيړۍ کې لاهم ډوډۍ او درمل نلري ، په مغارو کې ژوند کوي ، او هېڅکله يې له ښارونو څخه دسوالګرو ښځو او ماشومانو شمير کم نشو ..

. په نوره نړۍ کې ( په تيره بيا په اسلامي هېوادونو کې ) دپرمختګ لپار چټکې هلېځلې رواني دي ، عربي او نور اسلامي هېوادونه زموږ دسيالۍ هېوادونه دي ، چې که تر هغو موږ وروسته پاتې کيږو ، نو دملي شرم وړ يو .

دسيالۍ د حس دراپارولو لپاره په ملي سطحه ديوه منظم کمپاين اړتيا شته ، البته په دې ټول بهير کې ښايي خلکو ته دروانې زيان اوښتلو ګوابښ په پام کې ولرو ، موږ بايد دخلکو دسيالۍ دحس راوپښولو پرمهال هغوی دمثبت خوځښت لپاره وهڅوو ، نه داچې دهغوی روان ژوبل کړو ، ياخدای مکړه دکمترۍ په احساس يې واړوو ، په دې برخه کې منظم او پر علمي بنسټونو ولاړو ميکانيزمونو ته اړتيا شته .

# عقیدوي ارزښتونه او زموږ پیاوړتیا

ځواکمن مومن تر کمزوري هغه غوره دی. دغه اصل یوازې فردي ندی، بلکې هغه مسلمانه ټولنه ،چې پیاوړې ، پرخپلو پښو ولاړه او له نورو مسلمانو ولسونو سره د مرستې کولو وړ وي تر هغې ټولنې غوره ده ،چې کمزورې او ښوزلې وي له احتیاجه خلاصه اسلامي ټولنه ډیره د دې وړتیا لري ،چې اسلامي نړۍ ته ګټه ورسوي. له همدې پلوه ،دیوې اسلامي ټولنې ثبات ، پرمختګ ، ودانۍ او په هغې کې داوسیدونکو وګړیو دانساني ژوند دشرایطو د لا ښه کولو هڅه په دیني وجایبو کې شمېرل کیږي. افغانان دعقیدوي ارزښتونو په ساتلو او درناوي کې ځانګړې تلوسه لري ، دوی هر دیني حکم له یوه نسله بل ته سپاري او د پر ځای کولو سپارښتنه یې کوي ، ځکه خو عقیدوي ارزښتونه ددوی دټولنیز ژوندانه یو ځواکمن او سره تړونکی توکی (عنصر) ګڼلای شو. داچې څنګه کولای شو له دغه فردي او ټولنیز معنوي ځواک څخه دافغانانو دژوند دشرایطو په مثبت بدلون کې کار واخلو ، یوه دبحث مسئله ده. لومړی خو باید یو فکري ټولیز ځواک رامنځته شوی وي ، چې په ملي سطحه دافغانانو د انساني ژوند دشرایطو دښه کولو موخې ته رسېدل یې دهڅو په سر کې وي ، بیا باید همدغه ځواک ټولې معنوي وسیلې وپېژني (تشخیص یې کړي) او له هغو څخه دکار اخیستنې میکانیزمونه رامنځته کړي.

وړاندیځ:

له علمي پلوه موږ یوې داسې باصلاحیته دیني مرجع ته اړتیا لرو ،چې له دیني متونو څخه ټول هغه احکام ، روایات او مباحث راټول کړي ، چې دیوې اسلامي ټولنې داقتصاد ، علمي پرمختګ او ټولنیزوګډو هڅو په اړه ولس ته خوځښت ښښلی شي. زموږ په دیني متونو کې ډیر څه شته چې مسلمانان پرخپلو پښو دریدلو ، له احتیاجه ځان خلاصولو ، دلاښه ژوندانه لپاره هلوځلو ، کار او تولید ته هڅوي. داسلام سپیڅلی دین موږ هڅوي ، چې دلوی خدای (ج) له طبیعي نعمتونو څخه ګټه واخلو او ځان پیاوړی کړو ، په کلام الله

مجید ،مبارکو احادیثو او فقهي متونو کې ډیرموارد شته ، چې مسلمانان ورڅخه ګټه واخلي او ځان له احتیاجه وساتي.

دوهم ګام به داوي ، چې دغه برخه احکام او لارښوونې، دپوهاوي لپاره تدوین او خپراوي ته چمتو شي او ترهره کوره ورسیږي. دریم ګام به داوي ، چې دحکومت په مرسته ځانګړي دیني او مدني بنسټونه دغه احکام خلکو ته ورسوي او په دې توګه دعقیدوي ارزښتونو په مرسته ،موږ ټولنه له هغې فکري او رواني سرګردانۍ څخه خلاص کړو ، چې ددرې لسیزو جګړو او ناوړه سیاستلوبو له امله ورته پیدا شوې ده.

که یوځل خلک په دې خبر شول ، چې له احتیاجه دځان خلاصولو هڅه او دافغانستان دمسلمان ملت پرخپلو پښو ددرولو ، اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره هلې ځلې یوه دیني وجیبه ده ، نو یو ټولیز خوځښت به رامنځته شي په دې وخت کې نوباید ، په سرکاري کچه ښايي له دې خوځښت او رامنځته شوي ځواک څخه دګټې اخیستلو قابلیت وارله مخه رامنځته شوی وي.

ترهرڅه وړاندې راځئ په ملي رسنیو ،علمي کړیو او دیني بنسټونو کې دغه بحث راپورته کړو ، دا پخپله دخلکو دپام اړوونې پیلامه ده. په جوماتو او مدرسو ، ښوونځیو ،پوهنځیو اود علماوو په مجلسونو کې ددغو علمي بحثونو راپورته کول ، چې یو مسلمان ولس څنګه ځان د نورو له احتیاج ، لوږې ، لاسووهنو او ظلم څخه ژغورلی شي؟ دکرنې ، کسب ، تولید ، اقتصادي ودې او سوداګرۍ ارزښت په اسلام کې څومره دی؟ څنګه ګڼ شمېر پیغمبرانو علیهم السلام شپني ( چې دااقتصادي ودې یوه لرغونې لومړنۍهڅه ده ) کوله ، څنګه حضرت یوسف علیه السلام دخپلو فوق العاده اقتصادي طرحو له برکته دمصر تر لومړي وزارته ورسېده او دا سلام په صدر کې څومره علمي او عملي پېښې زموږ دزده کړې لپاره شته، چې مسلمانان یې ورځ په ورځ پیاوړي کول او یو مهال یې دبشریت دژغورلو لپاره یوه لویه امپراتوري رامنځته کړه ... داټول باید دخلکو تر غوږونو ورسول شي.

دداسې لاربښودو بحثونو په رڼا کې موږ باید وپوهیږو ، چې موږ افغانان نظر نورو ګڼو مسلمانو هېوادونو او ولسونو ته وروسته پاتې یو ، احتیاج یو او دخپل هېواد دپرمختګ لپاره مو کمه هڅه کړې ده. ګڼ اسلامي هېوادونه شته ، چې په دې برخه کې دسرمشق په توګه خلکو ته وروپېژندل شي. اندونیزیا دوګړشمېر له نظره دنړۍ تر ټولو ستر اسلامي هېواددی ، دغه ګڼمېشته اسلامي هېواد دنړۍ په کچه یو ستر اقتصادي ځواک هم دی ،

مالیزیا ، ترکیه او یو شمیر عربي هېوادونه یې نورې بېلګې دي ، راځئ په دې بحث پیل کړو ، چې دغو هېوادونو څنګه له خپلو ملي او عقیدوي ارزښتونو څخه کار اخیستی دی او نن سبا په نړۍ کې دځواکمنو اقتصادونو په توګه پېژندل کیږي ، دوی نورو ته له احتیاجه خلاص دي او داړتیا پرمهال له نورو مسلمانو ولسونو سره هم مرسته کولای شي. په دې برخه کې هم یوازې احساساتي ، عاطفي یا شعاري چلند ګټه نلري، بلکې دا ټول ګامونه باید دیوه منظم ، علمي او ګام پرګام عملي کیدونکي بهیر په توګه رامنځته شي.

ددې بهیر دتګلارې دټاکلو او عملي کولو لپاره ښایي مسئول بنسټونه وپېژندل شي او له هرګام سره یې روانه ارزونه او داغیز دڅومره والي کچ او مېچ هم جاري وي.

له دغه معنوي ځواک څخه د افغانستان دپیاوړتیا لپار دکاراخیستو پر څرنګوالي دبحث لپاره خپل فکرونه سره شریک کړئ.

# زموږ جنګي ذهنيت

يو ملګري مې ، په بحث کې راته وويل: ايا دې ته دې پام کړی دی ،چې موږ افغانان له جنګولو سره مينه لرو او هرڅه سره جنګوو. دې خبرې يوه ترخه حقيقت ته ورسولم ، ريښتيا هم زموږ افغانانو ذهنيت جنګي دی ، موږ له کوشنيتوبه له جنګولو يا جنګېدلو سره رالويېږو ، هرڅه جنګوو ، کاغذباد ، کوکري ، ملخان اودلوبو ځيزونه ، چې رالوی هم شو؛ سپي ، چرګان، مرزان ، زرکان او ان موټران سره جنګوو ، همدې ملګري مې وويل ، دهېواد په سويل کې دوه نامي ډريورانو خپل موټرونه سره وجنګول او دولس کسان يې ووژل.

عجيبه ده ، کوڅه ډبي سپيان په سوله کې ژوند کوي او پرته له شوخۍ څخه هېڅکله جنګ نه کوي، هېڅ داسې ندي ليدل شوي ،چې يوله بل سره يې وينې بهولي وي ،له دې نه ښکاري ،چې سپيان جنګي فطرت او جګړه ييز خاصيت نلري، خو موږ جنګي سپيان روزو ، ترو يې او عقدې ورته پيدا کوو ، بيا يې سره جنګوو ، چرګان هم موږ جنګي کوو ، زرکان په غرونو کې آزاد او سوله ييز ژوند لري ،موږ يې له پنجرو څخه راوباسو او يو دبل په وينو يې سره ولړو ... داولې ؟ داځکه چې زموږ ذهنيت جنګي دی ، له بده مرغه خشونت زموږ په فطرت کې ريښې کړې دي ، وهل، ژوبلېدل او ژوبلول مو خوښېږي ، د وينو بهولو او زخمي کولو له ليدلو څخه خوند اخلو او روحي تنده مو هلته خړوبېږي ، چې ځان يا دځان په استازيتوب کوم ځناور زورور ووينو او په دې توګه دځانغوښتنې غريزه اوتنده ماته کړو. دپياوړتيا لپاره هڅه دانسان طبيعي غريزه ده ، ټول انسانان غواړي پياوړي ښکاره شي ، خو ددغې غريزې لپاره ټاکنه( انتخاب ) توپير لري ، دپرمختللېو ټولنو انسانان غواړي خپل پياوړتوب په ورزش ، چټکې ودې ، پرمختګ ، پوهه ، هنر او ډير توليد کې څرګند کړي ،چې ګټه ولري ، خوموږ يې په جنګولو او جنګېدلو کې آزمويواو دا هېڅ ګټه نلري ، ځکه موږ دګټو په اړه فکر نه کوو. ما چې څومره ليدلي دي ، دومره ځناور چې موږ جنګوو، نور ولسونه يې نه جنګوي. کاغذبادونه په نوره دنيا کې هم پورته کيږي ،خو سره

جنګول او آزادول يې افغاني چل دی ، او د ټولنيزې اروا پوهنې له نظره د دې لامل هغه تمايل دی، چې په منفي توګه زموږ په ګډ لاشعور يا ګډ ذهنيت کې ، د خپلې پياوړتيا د ښوولو او تمثيل لپاره يې رسوب کړی ، هما غلته يې ځای نيولی او هر کله چې سر را پورته کړي نو موږ مجبور وي ، چې يو څه سره وجنګوو او د دغې تندې اور پرې سوړ کړو.

د خپلې پياوړتيا د ښوولو همدا منفي تمايل د ليونتوب تر بريده هم رسيږي او موږ بيا د انسانانو تر جنګولو پورې وړاندې ځو ، انسانان سره جنګوو ، سره وژنو يې او بيا له دې څخه هم ګټه اخلو او هم ځان پياوړی زباتوو ، بيا نو هر څوک بايد زموږ پياوړتيا ومني ،ځکه ډير خلک مو سره جنګولي وي او سره وژلي مو وي ، تر دې يې عجيبه دا ده ، چې ډېر ځله سپي او نور ځناور هم هغه کسان سره جنګوي ،چې انسانان يې سره جنګولي وي او هغه مهال چې د ټولنيز سمسمکي ( ثبات ) له امله د انسانانو جنګول ستونزمن شي نو بيا د خپل عادت له مخې بېچاره ځناورو ته مخه کړي.

دلته زما نيوکه يوازې دا نده ،چې موږ ولې ځناور جنګوو ، بلکې زما د بحث وړ پرابلم دا دی ،چې موږ ولې جنګي ذهنيت لرو؟ د جنګي ذهنيت لومړی زانګو کورنی چاپيريال دی ، مور او پلار کولای شي په ماشومانو کې د جنګي ذهنيت د رامنځته کېدو مخه ونيسي ، ماشومان بايد په عاطفي چاپيريال کې وروزل شي ، د ماشوم د پياوړتيا او زور ښوولو لپاره ښايي سالمې او ګټورې لارې او هڅې وروښوول شي پياوړی ماشوم بايد کمپيوټر ژر زده کړي ، سپورت وکړي ، ذهني لوبې او سيالۍ وکړي او خپله پياوړتيا او زور له دې لارې څرګند کړي ، په کليوال چاپيريال کې هم ماشومان د کرنې په چارو او د اسې کليوالو لوبو کې خپلو زور ازمويېلی شي ،چې د دوی له ذهني او جسمي ودې سره مرسته وکړي.

دوهم مسئوليت د پوهنې د وزارت دی ،چې په ښوونيزو متونو او فعاليتونو کې د جنګي ذهنيت د پراخيدو مخنيوی وکړي او په ملي نصاب کې د ټولنپوهنې ، فرهنګپوهنې ، اروا پوهنې او پيداګوژي له ارونو سره سمه زده کړه او روزنه ځای کړي ، چې د زده کوونکو تر منځ د پياوړتيا يوه ګټوره سيالي رامنځته شي. د ربيمه برخه کار د رسنيو پر غاړه دی ،

چې د جنګي ذهنيت پر وړاندې مبارزه وکړي ، په رسنيو کې دهغو زورورو ځپل، شرمول او خوارول د خير کار دی، چې جنګول کوي. دهغو ناسمو لوبو او دودونو مخنيوی بايد تبليغ شي ، چې جنګي ذهنيت عاموي. ديني علما ،مشران او فرهنګي کړۍ ( ادبيات، تياتر ، سينما او نور ) ښايي د جنګي ذهنيت پر وړاندې يوه پراخ ملي کمپاين پيل کړي. د ځناورو پر جنګولو بايد بنديځ ولګول شي ، په تيره بيا ماشومان او تنکي ځوانان په کلکه له دې ځخه منع شي ، چې د ځناورو د جنګولو په مېلو کې ګډون وکړي.

له جنګي ذهنيت سره ملي مبارزه د ګڼو ګټو تر څنګ د سيالۍ تمايل په مثبته ، ګټوره او جوړوونکې بڼه بدلولی شي. د عاطفي او مهربانه نسل په روزنه کې مرسته کوي او د شخړو ، تاو تريخوالي او تشدد مخه نيسي.

افغانان د سوله ييز ذهنيت د پياوړتيا تر څنګ په داسې ذهنيت کې د کار کولو ، توليد ډيرولو او يوه له بل سره نږدې کېدو ته اړتيا لري ، هرچا چې دهمداسې سيالۍ او ذهنيت په روزلو کې ډيره ونډه واخيسته نو لوی پهلوان دی ، راځئ د سپيو ، چرګانو ، زرکانو.... موټرانو او بالاخره انسانانو د جنګولو له شرموونکې اتلولۍ ځخه د ډوډۍ بودولو او افغانستان ودانولو اتلولۍ ته خپل ذهنيتونه واړوو ، د افغان کرکټ، فوټبال او نورو لوبو نړيوال برياليتوبونه ښيي ، چې دوی په مثبتو سياليو کې تر نورو پياوړي دي.

# د(باور) په ور کې پسې ...

هر کله چې د ټولنيزې اصلاح او ملي ژغورنې په کار کې له روښانفکره يارانو سره خبرې کوو ، د بې باورۍ او بې اعتمادۍ ښامار سر راپورته کوي او هغه ويښ ، دردمن او پر هېواد مين افغانان ، چې په فکرونو او زړونو کې سره ورته ارمانونه او غوښتنې لري ، نه شي کولای يو پر بل باور وکړي ، ما مخکې هم د بې باورۍ پر لاملونو او ورڅخه راولاړو شويو ستونځو باندې بحثونه کړي دي او نه غواړم دلته يې تکرار کړم، د تيرو درې لسيزو سياستلوبو ، پردي پالنو او ناوليو اړيکو خلک بې باوره کړي دي ، په دغه بحث کې غواړم ،د بې باورۍ د کمزوري کولو لپاره،پر يو څو هغو لارو چارو خبرې وکړم ، چې په دې وروستيو کې له خپلو څو يارانو سره د خبرواترو پر مهال په ګډه وروړسېدلو او زما په ګومان د ځوانو سمون راوستونکيو کادرونو او خوځښت لپاره به په زړه پورې وي. تر هر څه مخکې ښايي ووايم ،چې په افغانستان کې د ټولنيز سمون لپاره د بلنې پيلولو هڅه وګړنيزه (فردي) ده ،مانا دا چې په پيل کې ،تاسو بايد له هر افغان سره بېل بېل وغږېږئ ، د هر افغان نظر واورئ او بالاخره د عمل کولو يوه ټوليز ( جمعي ) خوځښت ته ځان ورسوئ.

د بې باورۍ يو لامل دادی ، چې هرڅوک ګومان کوي ، تاسو غواړئ ؛خپل نظر پرې وتپئ ، يا مخاطب يوه داسې مرموزفکر يا عمل ته راوبولئ ، چې هغه يې نه پېژني ،ښايي مخاطب فکر کوي ،چې تاسو ، د خپلو ګټو لپاره ، کومه سياسي سودا کړې ده او اوس غواړئ پخپله سياسي سوداګرۍ کې د مخاطب له ملګرتوب څخه ګټه پورته کړئ ، ښايي مخاطب مو فکر وکړي ، چې تاسو د ځان د ګټې لپاره د ښو فکرونو او په زړه پورې خبرو يو طلايي دام جوړ کړی او په ښکار پسې راوتلي ياست. دا ټول هغه څه دي ، چې ډېر ځله په ټولنيزو - سياسي بحثونو کې ستاسو د مخاطب ( يا مخاطبينو ) په ذهن کې ورګرځي. تاسو د پوهاوي د پياوړي مهارت ترڅنګ د يوه ريښتيني ( صادق ) کرکټر روانې ځانګړتياوو راخپلولو ته اړتيا لرئ ، همداراز ښايي د ډېر څه اوريدلو حوصله هم له لاسه ورنکړئ.

## واورئ ،چې وامو وري:

دنورو ناسم باورونه ، چلند او نظرونه وزغمئ ، ترهغو چې د سمو باورونو ، سم چلند او سمو نظرونو دوربښوولو وخت درکړي.

ښايي ستاسو ډېر اوريدونکي وغواړي چې د افغان انسان او افغانستان په ژغورلو کې مرسته وکړي ، اوددې لپاره يوه نقشه يا طرحه هم ولري ، سمه يا ناسمه ، علمي يا غير علمي ،مګر مهمه داده ،چې ستاسو اوريدونکی له خپلې ذهني او تجربوي پوهې سره سم يوې پايلې ته رسېدلی دی، هغه دې ته اړتيا لري ، چې تاسو يې طرحه واورئ ، دهغه احساس او نظر درک کړئ او بيا يې دې ته چمتو کړئ ، چې څنګه تاسو ته ګام پرګام درنږدې شي او بلاخره په ګډه يوه سم باور ، چلند او حللارې ته سره ورسيږئ. ستاسو دمخاطب دنظراوربدل لږ تر لږه دغه ګټې لري:

۱- هغه ستاسو له خوا دخپل شخصيت د درناوي احساس کوي او دټوليز سمون لپاره دڅه کولو جرئت اخلي.

۲- دا ديوه اخلاقي التزام په توګه پر ځان مني ، چې ستاسو نظر هم واوري.

۳- ددوه اړخيز باور لومړني بنسټونه رامنځته کيږي ، هم تاسو او هم ستاسو مخاطب دې باور ته رسيږئ ، چې په ډېرو ټکيو کې دواړه ګډ يا سره ورته نظريات او باورونه لرئ.

۴- دواړه لوري ، دخپلو نظرونو په نيمګړتياوو خبريږئ او يوه له بل څخه زدکړه پيل کوئ.

۵- دخپل نظر د بيانولو لپاره عقلي او نقلي دلايل بيا مومئ او داستدلال ځواک مو پياوړی کيږي. ددوه اړخيزپوهاوي ( تفاهم ) توان مو پياوړی کيږي او دډېرو مفاهيمو دبيان لپاره دژبې داقتصادي کارونې تمرين کولای شئ.

۲- په ملي سطحه د تاوتريخوالي او سکوت پرځای د خبرو اترو ( ډايالوګ ) فرهنګي عادت پياوړی کيږي ، چې همدا ديوه مدني دوران د پيلولو ځانګړتيا ده. يو دبل د زغم روحيه پياوړې کيږي او تر هرڅه غوره يې دا چې دنورو له مهارتونو څخه د شخصيتي روزنې لپاره کار اخيستنه دود يږي.

دا هڅه دباور د ورکې دبيا موندلو لومړی ګام بللای شو. هرکله ،چې زما ياران دټولنيز سمون دفکر دودولو لپاره دبيباورۍ له توري بلا څخه سر ټکوي ، زه فکر کوم چې موږ لومړنی بريالي ګامونه پورته کړي دي ، ځکه دبيباورۍ خنډ مو پيژندلی دی او ښايي ژر هغه لارې چارې هم ومومو ،چې دغه خنډ لرې کولای شي. له بيباورۍ سره افغاني مبارزه بايد پيل شي ، يوه ورځ بايد ورسره مخامخ شو ، نو څومره ژر چې وي ، ښايي په دې ميدان ورګډ شو.

له زماني پلوه ، دټولنيز سمون درې پړاوه داسې ويشلای شو:

۱- دپوهاوي ، پيژندنې او باور تشه ،

داوږدې مودې کړکيچ ، جګړې او اختناق په پايله کې موږيو پر بل دباور او پوهيدو له همداسې يوې تشې سره مخامخ يو.

۲- د پوهاوي لپاره د خبرو اترو پيل،

په تشه تياره او سړه چوپتيا کې د لومړنيو بخرکو ځل ، راځئ يو څه ووايو ، موږ ولې دا سې يو ؟ ولې مو څوک نه ژغوري؟ څوک مو بايد وژغوري ؟ خپله بايد ځان وژغورو؟ څنګه ځان ژغورلای شو؟ د ځانژغورنې لپاره ګډ کار ته اړتيا لرو ، دګډ کار لپاره يو پر بل باور ته اړيو ، څنګه بايد دا باور رامنځته کړو او يو له بل سره کار وکړو؟

دا هغه پوښتنې دي ، چې د ټولنيز سمون لپاره د باور رامنځته کولو پيل ورڅخه کيږي او په دې اړه لومړني نظرونه رامنځته کوو ، پخوو يې او عمل ته يې چمتو کوو.

۳- له نظرونو څخه عمل ته،

دادربيم پړاو دی ، دډيرو خبرواترو او ټوليز پوهاوي په پايله کې د اسې کړنلارې رامنځته کيږي ، چې د بدلون راوستونکي نسل يوه لويه برخه پرې آمنا کوي ( مني يې ) او پر عملي کولو يې ژمنه رامنځته کيږي ، دغه ځواک عمل ته ننوځي او دنظرونو پايله تر لاسه کوي.

هر لوستونکی کولای شي ، همدلته دداسې يوه ټوليز پوهاوي پر بهير راګډ شي. څنګه دګډ عمل لپاره ، يو پر بل باور کولای شو؟ ځواب يې پر تاسو.

# دیوې نوې جګړې پیلوونکي  د پنجوایي ماشومان ،

دروښاني غورځنګ مشر پیرروښان په کندهار کې روان و ، چې له یوې هېښوونکې پیښې سره مخامخ شو ، مغولو سپاهیانو یوه کندهارۍ مېرمن د ژرندې په څرخ پورې له ویښتو څخه تړلې وه او ګرده یې څرخوله ،ددې پېښې په لیدو ، پیر روښان هوډ وکړ چې د افغانانو دراوېښولو او سره یو کولو له لارې له مغولو سره یوه روښانه مبارزه پیل کړي ، دې مبارزې که څه هم، په ښکاره ، پوځي بریا نه درلوده ، خو د مغولو سیاسي بنسټ یې ولړزاوه او وروسته د هوتکي او ابدالي غورځنګونو دعملي بریالیتوبونو الهام شو.

تاریخ تکرارېږي ، د پنجوایي دماشومانو سوري سوري بدنونه او مظلوم مخونه په ښکاره نارې وهي ، چې د یو یشتمې پیړۍ روښانتیایي غورځنګ ته اړتیا ده ، چې یوه نوې جګړه پیل شي ؛ یوه متفاوته جګړه ، یوه سپېڅلې او مشروع جګړه ، یوه روښانه او له وینو پاکه جګړه ، یوه اغېزمنه او هوښیاره جګړه ، او ښایي دافغانانو په تاریخ کې یوه دعقل او معاصر غیرت پر بنسټونو ولاړه جګړه. داسې یوه جګړه چې د هېڅ افغان ټوپک او توري خوله یې دبل افغان په لوري نه وي سیخه ، بیا دژېړۍ ، ګرشک ، زرمت ، راغ ، ورس ، یا بلخ ماشومان دافغانانو په لاس ونه وژل شي ، بلکې له زرګونو هغو پرانیستو دروازو څخه یوځو یې وتړل شي ، چې ورڅخه وژونکي پردي لیوني په دې یا هغه نامه راننوځي.
د پنجوايي دماشومانو کسات اخیستل پکار دي خو دافغانستان د پیاوړي کولو له لارې.
د پنجوايي ماشومان پوښتنه کوي ، چې ولې زموږ ترونو او پلرونو ښوونځي نه لوستل ، تولید یې نه کاوه ، خپلې ځمکې یې په خپلو اوبو نه خړوبولې ... اوس به موږ احتیاج نه وای او دالیوني قاتلین به زموږ د احتیاج په دروازو نه راننوتل او نن به یې موږ داسې نه وژلو. زموږ ماشومان پوښتنه کوي ، چې ولې په اندونیزیا ،ترکیه یا مالیزیا کې خلک مسلمان ماشومان نشي وژلی؟ ځکه هغوی ځان له احتیاجه خلاص کړی دی.

د پنجوايي د معصومو ماشومانو اصلي قاتل زموږ احتياج دی ، همدې احتياج د تاريخ په اوږدو کې موږ د انګريز و چنګيز ، روس او امريکايي ، پنجابي او ايراني ټوپک ته درولي يو ، همدا د احتياج دروازه ده چې يو ترې وځي ، پينځه پرې راننوځي ، او موږ لا دغه يوه په ايستلو خوشاله يو ،چې ګورو لسو نورو ټوپک راته نيولي وي ، يامو د شينوارو واده رابمباروي ، يا مو د کونړو کاپيسا ماشومان راوژني او يامو هم د پنجوايي پر ماشومانو ټوپک تشوي.

ها ! غوږ ونيسئ ! د پنجوايي ماشومان د جنت له منارو څخه نارې راوهي ، وايي:

افغان کاکا ! افغان ماما ! افغانې تورورې ! زموږ د ژوند يو پاتې شويو خويندو او ورونړو د ژغورلو لپاره سره يو شئ ، ځان له احتياجه خلاص کړئ ، ځکه د امريکايي ډالرو سيلاو له ځانه سره د اسې ليوني هم راولي ، چې زموږ په وينو يې شيطاني خوا سړيږي ، که افغانستان له احتياجه خلاص نه کړئ دا پېښې به همداسې رواني وي ... زموږ د تاريخ تجربه ښيي ، چې په جګړو او قربانيو به اخر امريکايان او نور پنځوس ډوله کفار هم وشړو ، خو ډير ژر به نور راننوځي ، وګورئ نور د ښمنان کتار ولاړ دي ، زموږ د وينو تږي ډير دي او همداسې به وار په وار راننوځي ، بيا به يې موږ وهو او بيا به نور راځي او بيا به هم لا په شاړه ، ښوزلې او کنډوالې پنجوايي کې نور ماشومان وژني ...

له پنجوايي څخه د يوالونه راتاو کړئ ! د پوهې ، کار ، توليد ، يووالي ، ځان پياوړي کولو.. د هوښيارۍ ، ويښتيا او روښانتيا د يوالونه لوړ کړئ ، چې بيا ليوني او وينو ته تږي رانه شي زموږ نور معصوم ماشومان ونه وژني ...

کافر ليوني ځکه زړور دي او په پنجوايي کې ماشومان وژني ، چې زموږ وينه ارزانه شوې ده ، موږ خپله وينه پخپله ارزانه کړې ده ، په تيرو ديرشو کلونو کې مو پخپله دومره ډيره بهولې چې بيخي يې ارزښت ورک شوی دی ، دا ليوني وايي: هسې هم تاسو يو د بل پريمانه وينې تويوئ ، يو بل وژنئ ، يو بل لوټئ ، د خپل هېواد ارزښتونه او شتمنۍ په پرديو پلورئ

، راځئ موږ به درسره مرسته وکړو ،موږ به هم ستاسو ماشومان ووژنو او دخپل ليونتوب او جنون تنده به ستاسو له خواسره يوځای سره کړو ....

ليوني دخپل جنون او جنايت جواز زموږ له اعمالو اخلي ....

موږ ځکه وژني ، چې موږ يوبل سره وژنو...

دافغانيزم پيغام !

دادپنجوايي دماشومانو له ستوني څخه دافغانيزم پيغام دی: دپنجوايي دماشومانو دوينو بل ځراغونه رڼا راولي ، ددې ماشومانو وينه ډيره ارزښتمنه ده ، ډيره قيمتي ده ...
دپنجوايي دماشوم وينه په هيڅ صورت دنيويارک ، واشنګټن ، برلين او پاريس دماشوم له وينو څخه ارزانه نه ده ، راځه چې همدغه دعوه راپورته کړو !!!

دا دعوه هغه وخت راپورته کولای شو ، چې موږ پخپله دخپلو ماشومانو وينه تويول ودروو. موږ پخپل لاس دافغانانو وژل ودروو ، دنوې او اغېزمنې جګړې لومړی ګام پخپلو لاسو دافغانانو دوژلو بندول دي دټولو افغاني ځواکونو سره يو کول دي ، چې دا هېواد له احتياجه خلاص کړي او په هسکه غاړه ليوني وژونکي له هېواده وشړي ، او بيا نورو ليونيوته د راننوتلو ته لاره ورنکړي. ترڅو ،چې موږ احتياج يو ، ليوني به موږ ته دډوډۍ راکولو په نامه راځي او بيا به يوه سړه ډوډۍ او لس وژونکې مرمۍ ورسره وي.

دپنجوايي معصوم ماشومان دافغانستان او افغان انسان دژغورلو لپاره يوه ستره جګړه پيلوي ، ددې جګړې پړاوونه دادي:

۱- دافغان په لاس دافغان دوژلو بندول ( ددې لپاره ،چې دافغان وینه ارزښت ومومي اوددغو وينو داسانه او ارزانه بهولو لپاره پردي ليوني بهانه او دليل ونلري. )

۲- دټولو افغان لوريو سره يو کېدل او ددې ټولو بدمرغيو داصلي لامل ( ملي احتياج ) په رسميت پېژندل.

۳- له احتياج څخه دخلاصون لپاره دلوی جهاد پيل ( کار ، زمکه ، اوبه ، غنم ، ښوونځی ، توليد ... دخپلمنځي وژلو له سنګرونو څخه د ډوډۍ بودولو په خوالوری بدلول )

۴- بهرنيو ليونيو ته ښکاره پيغام ورکول ، چې وګورئ: مورږ نور دخپلو ماشومانو ، تورسرو او هر افغان انسان وينه نه تويوو ، ځکه مورږ پوهيدلي يو ،چې دا وينه دنړۍ تر ټولو قيمتي وينه ده او نور نو تاسو ته هم ددې اجازه نه درکوو ، چې زمورږ دماشومو وينو رودونه وبهوئ.

۵- پخپلو لاسونو له افغانستان څخه د ودانۍ ، مړښت ، کار ،تعليم، توليد او انساني ژوند دشرايطو دښه والي دهڅو پاخه ديوالونه راتاوول ، چې نورنو ، نه سره ليوني راننوځي نه شنه او نه هم تور. دلته دهر وينې څښونکي ليوني لاره بنده ده ،ځکه دا هېوادودان شوی دی او نورنو احتياج ندی.

داسې يوه روښانه جګړه نن وي که سبا پيليدونکې ده ، د پنجوايي د معصومو وينو ځل همدا زيری مورږ هر يوه ته راکوي. يوازې تاسو ورته پام وکړئ.

# وطن بېل، دولت بېل او چارواکي بېل دي

په یوه مجلس کې ملي سرود غږېده ، ټول ولاړ وو ، یو دوه کسان ناست وو ، اول مې ګومان وکړ ، چې له ملي سرود سره ساز ورته ناروا ښکاري او د ګناه له ویرې نه پا څیږي ، خو چې کتل مې نو نېکټایانې یې تړلې وې ، چا نه مې وپوښتل: دوی ولې ناست وو؟ را ته یې وویل: دوی ددې حکومت مخالفین دي ، خندا راغله ما ویل د حکومت مخالفین دي که د افغانستان؟ بل ځای یو چا د ښوونځي خښتې کورته وړې ، پوښتنه چې ترې وشوه ویل یې: دې فاسد حکومت ته چې دومره تاوان هم ورسیږي یوه مبارزه ده .... بل ځل چا قانون ماتاوه او د خپل دې کار دلیل یې دا ښوده ، چې په حکومت کې یې پلانی بد راځي او له بستاني څخه کرکه لري. یوه بل کاکا د افغانستان درې رنګه ملي بیرغ ددرناوي وړ نه ګاڼه ویل یې: دې بیرغ والاوو خلکو ته څه ورکړي ، چې موږ یې درناوی وکړو...

ایا دا منطق سم دی؟ موږ هر ځله ملي ګټې ددې لپاره هیروو ، چې دولتي دستګاه مو سمه نه ده ، یا له هېوادنیو ارزښتونو سره کاواکه چلند کوو ، ددې لپاره چې په حکومت کې مو اشخاص نه خوښیږي. هغوی ، چې د حکومت مخالف ذهنیت لري ښوونکی ، د پوهنتون استاد او برقي ته هم په بده سترګه ګوري ، وایي ورک یې کړه ( دولتي ) دی. دننني بحث موضوع همدا ده چې ټول ملي ارزښتونه دولتي ندي او دوهم دا چې دولت د یوه ظرف په توګه منفي ندی ، په مظروف کې به نیمګړتیاوې وي خو د یوې سپږې لپاره د پوستین سوزول نه دي پکار.

په بهرنیو کنفرانسونو کې چې زه ګډون کوم ، ځیني ښاغلي ، چې د حکومت د مخالفت ادعا کوي ، دا ور څخه هېره شي چې افغانستان او د افغانستان حکومت سره بېل نومونه او مفهومونه دي ، ښاغلی هلته پا څیږي ، خپله لمن پر سر راواړو ي او افغانستان په شرمو وشرموي ، زه چې کله ورته وو ایم وروره ! د افغانستان ژبې ، فرهنګ ، دین ، ارزښتونه ،

دودونه ، دولس سربښندنې ، ملي نښې هرڅه دې ولې په اوبو لاهو کړل ، نوراته وايي: هن ته خو هم سرکاري تنخوا خورې کنه...

زما خبره هيڅکله ددې مانا نلري ، چې څوک دې دحکومت مخالفت نکوي يا په حکومت کې دننه دااشخاصو پر نيمګړتياوو دې سترګې پټوي، زما ټينګاردادی ،چې دافغانستان دمخالفت حق څوک نلري ، هيڅوک دملي ګټو او ارزښتونو دوراني حق نلري ، په دې نامه چې له دې يا هغه سياسي جوړښت سره يې جوړه نده .

دافغانيزم يوبنسټ دادی ، چې موږ يو شمير ارزښتونه اونښې دټولو لپاره ددرناوي وړ وبولو ، دافغانستان اساسي قانون ، ملي بيرغ ، ملي سرود ، ملی شتمنۍ ، ملي پيسې او نور دهر چا دي ځکه چې دافغانستان دي ، يو پاسپورت ، يوه تذکره او يو ښاريتوب (ستيزن شپ) زموږ هويت ټاکي او ډير ځله موږ بايد ددغو ارزښتونو په وړاندې وفاداره اوسو . دټوليزې ويښتيا يو پړاو دادی ،چې دحکومتي چارواکيو ، حکومت او ملي ارزښتونو حساب سره بېل کړو. که موږ ددې هر څه حساب بېل ګڼلی نو په تيرو ديرشو کلونو کې به مو له حکومتونو سره دمخالفت په نامه ښوونځي ، پلونه ، لارې ، عامه تاسيسات ، موزيمونه ، کتابتونونه او ... نه سوزول ، ورانول يا ددښمنۍ په سترګه به مونه ورته کتل. حکومتي افراد ، اپوزيشن ، بېطرفان او خپلواک لوري دبېلابېلو سياسي نظرونو خاوندان وي ، يودبل مخالف هم وي مګر ديوه هېواد ( افغانستان ) اوسېدونکي دي ، يو ملي هويت(افغان) لري ، يو ډول تذکرې يې په جيبونو کې دي ، تر يوه بيرغ لاندې ژوند کوي ، يوه ملي سکه يې په لاس کې وي او له يوه ملي سرود سره ودريږي ، چې افغانستان ته خپله وفاداري زبات کړي ، ددې ټولو مسئوليت او صلاحيت ديوه قانون له مخې ټاکل کيږي او په ملي کړکېچ کې يو ډول ځوريږي. دبېلابېلو نظرونو تر منځ داختلاف او سيالۍ معيار هم همدغو ارزښتونو ته ډيره وفاداري وي هر لوری وايي: زه افغان او افغانستان ته ډير څه کولای شم.

دا دملي يو والي د كليشه شويو شعارونو تکرار ندی ، بلکې ديوې جدي ټولنيزې تېروتنې ستونځه ده ، چې په افغانستان کې شته. ديوه افغاني پوهنتون يو استاد همدا دنده لري ، چې ددې هېواد ځوانانو ته درس ووايي او حکومت بايد هغه ته تنخوا ورکړي ، نودغه استاد که څه هم له حکومته تنخوا اخلي خو حکومتي ندی ،بلکې ملي دی. هغه څوکۍ چې په پارک کې ايښې ده ، چې ستومانه وګړي پرې دمه وکړي ، که څه هم حکومتي ښاروالې جوړه کړې ده ، خو ماتول يې له حکومت سره دمبارزې په مانا نده.

دوهم توپير ، حکومت او دولت دواړه دخلکو داړتيا پر بنسټ رامنځته کيږي ، دحکومتيانو نيمګړتيا د حکومت دبدۍ مانا نلري ، حکومت داسې دی ،لکه يو بس موټرچې خلک په کې سپاره وي ، که ډريور داموټر په بدو لارو بيايي او خلک په تکليفوي دا ښايي له بس څخه دکرکې په مانا نه وي ، بلکې ډريور بايد اصلاح شي.

لږ تر لږه درې نيمې لسيزې کيږي ، چې دبهرنيو تبليغاتي کړيو له خوا حکومت ضد تبليغات روان دي او دې تکرار په افغانستان کې داسې يو ذهنيت عام کړی دی ،چې حکومت دکرکې وړ شی دی او حکومتي کېدل ګناه ده ، دهر چارواکي نيمګړتيا پر سيستم او ټول هېواد تپل کيږي ، دهيوادنيو ـ ملي ارزښتونو توپير يې دڅو چارواکيو له نيمګړتيا سره ګډ کړی او له حکومت سره مخالفت له همدې څخه پيليږي ، چې دولتي پول ، لاره او ښوونځي وسيزل شي ، ښوونکی ووژل شي او ان دروښانفکرانو په غونډو کې يو اکاډميک شخصيت هم دولتي وګڼل شي. که دافغانستان دګټو دساتلو خبره وکړې يا ملي بيرغ ته درناوی وکړې ، که په غونډه کې ملي سرود وغږوې يا دافغانستان نقشه په سر پورې راوځړوې نو ځينې به په کترو او کيانو درته وايي ، چې ته خو هم ددې فاسد حکومت دا او هغه يې...

وړانديځ:

په پراخه کچه بايد دملي ارزښتونو ، دولتي سيستم او چارواکيو داعمالو تر منځ توپير تبليغ شي ، دديموکراسۍ دپيژندلو الفبا له همدې ځايه پيليږي ، چې څنګه دملي سيستمونو د پياوړتيا لپاره سيالي او مبارزه وکړو . دافغانستان ټول نفوس حق لري د شته ناخوالو او نيمګړتياوو په وړاندې اعتراض وکړي ، عملي بدلون راولي ، مبارزه وکړي ، خو دهيڅ ښوونځي کړکۍ بايد ماته نشي او دهيڅ پله يوه تيږه زيان ونه ويني ، له هرې ملي شتمنۍ سره بېتفاوته چلند ملي خيانت ګڼل کيږي ، موږ بايد دحکومت د فساد په پلمه افغانستان ته زيان ونه رسوو ، ځکه دا پخپله فساد دی.

## يوه ناولې سيالي

په ديارلس سوه اويايمو کلونو کې به دې ،چې واکمنو جګړه ماروته وويل: ولې عام خلک وژنئ ؟ نو ويل يې: وروره کمونستانو کم ووژل؟ پوليګونونه يې ډک نه کړل؟ بيا وروسته ،چې نور راغلل هم ويل يې تر موږ وړاندې څه حال و ؟ اوس چې بهرنيان راغلي هم ،چې ملکيان ووژني ، نو ژر اعلاميه صادره کړي ، چې دومره فيصده ملکي خلک وسله والو مخالفينو وژلي دي (ګواکې دوی ، چې ملکيان وژلي د وسلوالو مخالفينو په لاسو تر وژل شويو يې شمېر ډيرکم دی؟ ! ! ! )

عجیبه ده؛ هغه ځوک ښه ګڼل کیږي ، چې لږ خلک یې وژلي وي. چې چاته ووایې ولې رشوت اخلې ؟ نو درته وایي: پلانیانو ټول وطن وخوړ چا څه ورته ونه ویل !

لاتراوسه سیالي داسې ده او دا ناولې سیالي ده ، سمه سیالي دا ده ، چې ځوک ووایي: په اماني دوره کې دومره ښوونځي جوړ شول ، موږ باید تر هغو ډیر جوړ کړو ، یا محمدداود خان غوښتل پینځه کلن پلانونه عملي کړي دادی موږ یو کلن ، پینځه کلن او شل کلن پلانونه جوړ کړي او انشاالله افغانستان به تر یوه شل کلن پلان وروسته لکه مالیزیا پرمختګ وکړي.

ناولې سیالي دغه ځانګړنې لري:

- شته بد حالت له تیرو بدو یا بدترینو څخه ښه ګڼل او پر همدې بسیا کېدل او تردې بدیې لادا چې نورو ته په دې بد حالت دشکر ایستلو دقناعت ورکولو هڅه.
- دنورو دلویو نیمګړتیاوو تر شا دخپلو کوشنیو نیمګړتیاوو دپټولو هڅه.
- په ماهیت پېژندلو کې داټاکنې (انتخاب) ارزښت هېرول او دمسئولیت هېرولو لپاره دتصنعي دلایلو تراشل.
- ناولې ارادې او پریکړې د تخییلي رنګینو نیتونو تر شا پټول ، عذر راوړل ، چې موږ خو داسې نه غوښتل ، خو بس وشول نو څه وکړو ؟
- دځان له ملامتولو څخه تېښته او دتاریخ په کوڅو کې ځان ورکول.

دسمې سیالۍ ځانګړنې دا دي:

- له تیرو پرمختګونو زده کړه او دهغو دبشپړولو هڅه
- ځان له پرمختللیو او ښو موډلونو سره سیال ګڼل او دخپلو نیمګړتیا وو دبشپړولو هڅه
- په ماهیت ټاکنه کې ارادي ټاکنې ( انتخاب ) ته ارزښت ورکول.

- خپله او دبله نیمګړتیا ،که کوشنۍ وي که لویه ، نیمګړتیا ګڼل او دهغې پر له منځه وړلو ریښتینې ټینګار.
- دګټورتیا او نیمګړتیا ( ښه اوبد ) دارزولو پر مهال دتاریخ ددروازو تړل او پر نن وسبا تکیه کول ( مانا داچې دا مه ارزوئ ، چې ستاسو کړنې تر پخوانیو کړنو ښې دي که بدې ، بلکې پر دې فکر وکړئ ، چې ستاسو کړنو ته به دنن او سبا خلک په کومه سترګه ګوري؟ )

دناولې سیالۍ پر مهال له ګناه څخه دځان ځنډلو لپاره دنورود ګناهونو یادول او دنورو د ناولیو اعمالو تر شا ځان پټول به داسې دلایل رامنځته کړای شي ،چې پخپله ګناه کوونکي ته قناعت ورکړای شي ،خودلوی خدای (ج ) محاسبه بېله ده او خلک ، تاریخ او عامه ذهنیت مجبور ندي ، چې ددوی پردلایلو قناعت وکړي ، بلکې دا ټول پر ریښتینو دلایلو حکم کوي.

دامشهوره خبره خو به مو اوریدلې وي ، چې ((تاریخ پر نیتونو نه ، بلکې پر اعمالو قضاوت کوي. )) ددې خبرې تفسیر همدا دی ،چې که په ارادي توګه بدي وکړئ، نو ستاسو دروغجن دلایل دتاریخ لپاره هېڅ ارزښت نلري ، بلکې محاسبه پر دې ده ، چې تاسو څه کړي دي. تاریخ او خلک نه شو مجبورولای چې فکر وکړي: ددې لپاره چې

( الف ) سل وژلي وو ، نو پروا نکوي که (ب ) هم شل ووژل.

ناولې سیالي زموږ پر راپېنځېدونکي نسل ډېره بده اغیزه کړې ده ، ماشومان هم په همدې روحیه ځوانیږي ، دبدو او ترخو اعمالو په دې مسابقه کې دوی هم ورګډیږي ، ددوی په وړاندې دترخو کړنو دتوجیه کولو یو معیار همدغه په ناولې سیالۍ کې دنورو پرتلیزه جاج اخیستنه ده.

دوهم لوی تاوان یې دادی ، چې په ټولنه کې دناولې سیالۍ منطق ورو ورو په عادت او بالاخره یوه کلتوري سنت بدلیدای شي ، که خدای مکړه تر نورو ډېرو وژنو ، ظلم کولو

، چور او تالان سیالي ته عذرونه و تراشل شول او خپلې ګناوې د نورو د لویو ګناهونو تر شا پټول د بېګناهۍ دلیل وبلل شو ، دا پخپله په یوه ټولنیز معافیت بدلیدای شي او هغه وخت به دداسې یوه ریښه لرونکي سرچپه عادت راسته کول ډیر سخت بلکې ناشونی وي .

وړاندیځ:

روښانتیایي غورځنګ باید دا منطق عام کړي ، چې هیڅوک نه شي کولای جنایت دد ې لپاره وکړي ، چې ترده وړاندې خلکو هم کړی دی ، هیڅوک دبل دګناه ترشا خپله ګناه نشي پټولی او هیڅوک باید خپلو ګناهونو ته دپرون په هینداره کې ونه ګوري ، بلکې هر څوک باید دنن او سبا قضاوت دخپلو اعمالو دتللو تله وګرځوي. په عامه ذهنیت کې باید دا باور عام شي ، چې په بدیو او جنایتونو کې هرڅوک له خپل ځان سره پرتله کیږي، نه له نورو سره ، دا یوازې ښه ، ګټور او مثبت کارونه دي ، چې ګټه او اغیزمنتیا یې له نورو سره پرتله کېدای شي. دویښتیا او روښانتیا ملي غورځنګ او ټول روښانفکره ځواکونه ، مدني ټولنې او روزنیز بنسټونه باید دناولې سیالۍ دغه بهیر ته دپای ټکی کیږدي.

# موږ او ځوا ړخیز یرغلونه

څو ورځې مخکې یوې رسنۍ وربللی وم، چې له یو شمېر نورو کارپوهانو سره یو ځای پر دې خبرې وکړو ، چې فرهنګي یرغل څه دی او څنګه یې مخه نیولای شو ؟ بحث په زړه پورې و ، خو پایله یې یوڅه د تم کېدو وړ ده ، غواړم همدلته یې پر پایله تم شم ، چې فایده یې عامه شي. افغانستان همدااوس تر هر ډول یرغلونو لاندې دی ، سیاسي ، اقتصادي، فرهنګي او آن تر اخلاقي یرغل لاندې دی. د سیاسي یرغل پایله یې روانې جګړې دي ، د اقتصادي یرغل نښې یې زموږ ستاسو هر یوه په کور کې وینو ، چې د خپل بربنډ ځان له غوښو او هډوکو پرته مو هېڅ افغاني تولید شوي توکي په کور کې نشته ، جامې ، لوښي ، فرشونه ، خواړه ... هر څه پردي دي ، فرهنګي یرغل خو موږ ته مخامخ له تلویزیون او یا بلې رسنۍ څخه رااوري یو ښاغلی دیوه ګاونډي په لهجه خبرې کوي او بله رسنۍ له ورایه په یو بل ګاونډي خرڅه شوې وي ،تلویزیونونه مو د نورو په ډرامو ، سیاسي شعارونو او دایډیولوژیو په تبلیغ ستړي شول او راډیو ګانې مو د پردیو په سندرو او ملي ارزښتونو ضد بحثونو باندې پړسېدلې دي.

اخلاقي یرغل هم تر دې کم ندی ، زما یادېږي ، چې دوه درې لسیزې پخوا په افغانستان کې چا د مخدره موادو اعتیاد نه پېژانده ، دایډز بلا بیخي وه نه ، او ټګي ، تقلب ، رشوت هم داسې نه وو لکه اوس ، په افغانستان کې د جنسي تیري خبر هیچا نشو منلای ، د ځمکې یا بل ملکیت غصبېدل افسانه ښکارېده او هیچا دا په خوب نشو لیدای چې څوک زورور سړی دې له هلک سره واده وکړي او یا دې کوم بل قوماندان ، په لویه لاره ،خلک په دوپایه سپي ( سپي ډوله بنیادم ) باندې وداړي.... داناولي او اخلاق ورانوونکي عادتونه هم د پردیو دا خلاقي یرغلونو په زور راننوتل.

زموږ په بحث کې یوه پایله داوه ،چې دا ټول یرغلونه ځکه پرموږ کیږي ، چې موږ احتیاج یو او خپل څه نلرو ، که موږ خپلې ( افغاني ) سیاسي موسسې درلودلای ، نورو به ولې خپلې جګړې زموږ کور ته راوړلې ؟که موږ خپل تولیدات درلودلای نو نن به مو په کور کې یو څه افغاني تولیدات هم وو او له هرراز لارې بندیدو سره به د شلغمو بیه هواته نه ختله ، که مو خپله ډرامه ، سندره او فکر درلودلای له فرهنګي یرغله به مو سر نه ټکاوه او که مو خپل اخلاق ساتلي ، پاللي او پیاوړي کړي وای ، دوپایه سپو به نه داړلو او له هر پله او کنډوالې لاندې به مو زرګونه روږدي انسانانو مرګ ته شیبې نه شمارلې....

افغانیزم ته اړتیاده:

دافغانیزم ملي غورځنګ دټولو تشو دډکولو لپاره باید داسې فکري بنسټونه رامنځته کړي ، چې دژر تر ژره عملي کیدو وړتیا ولري.

افغانستان ته ټول یرغلونه داحتیاج په دروازو راننوځي ، دنورو منفي او ناوړه مصنوعات ځکه راننوځي ، چې دلته دافغاني ارزښتونو تشه پرې ډکه شي. که موږ ( دکونډې زوی ) غوندې سل نورې ډرامې او فلمونه درلودلای نو پر تلویزیونونو به مو دهندي او ایراني فلمونو او ډرامو داسې انډوخر نه وجوړ...

موږ خپل ډیر اصیل اخلاقي ارزښتونه د نړیوال کیدو یا مدني کیدو دفیشن په نامه بایلودل او پر ځای مو هیڅ مثبت ارزښت تر لاسه نه شو کړای.

افغانیزم هیڅکله دیوې تړلې ټولنې درامنځته کیدو په مانا نده ،چې له نورو به دمثبتو ښکارندو له راخپلولو سره هم نه جوړیږي ،بلکې دمثبتو ارزښتونو دراخپلولو او دمنفي مصنوعاتو دبې ارزښته کولو شعور، پریکړې او عمل ته دافغانیزم کرښه ویلی شو.

خبر او سئ ! چې پر نړیوال بهیر ورګډ بدل هغه مهال شوني ده چې تاسو له ځانه سره یو ارزښت ولرئ او نړۍ ته یې ورکړای شئ ، که همدا سې تش لاس او احتیاج و محتاج د چټکې نړۍ په وړاندې ودریږئ ،نو بیا به دا نړۍ هرڅه درکوي او تاسو به یې داخیستلو یا نه اخیستلو د پریکړې مرجع ، اراده او فکر وعمل ونلرئ ، همدا مهربانه نړۍ تاسو ته د کمپیوټر ترڅنګه لوځ او بربنډه فلمونه هم رالیږي ،د غنمو تر څنګ ایډز هم درکوي او د بوټونو تر څنګ ټوپک او راکټونه هم رالیږي ، همدا نړۍ ده چې موږ ته درمل راکوي خو تر پلو لاندې یې پټه چاړه هم راته نیولې ده چې خپل ورور پرې ووهو ، همدا نړۍ ده چې:

هم مې ووژنې پخپله هم په ما باندې ژړا کا

څه ښه یاردی ښه یې مینه وژل هسې شیون هسې

افغانیزم د چاڼ ملي ځواک دی او موږ هو ښیاروي ، چې څه واخلو او څه وانه خلو ، افغانیزم موږ ته ښيي ، چې د څه اخیستلو په وړاندې باید یو څه ورهم کړو او دیوه ژوندي ملت په توګه پر نړیوال بهیر ورګډ شو. که هایکو اخلو نو لنډۍ باید ورکړو او که (رپ) راخپلوو نو باید قرصک او اتڼ هم وروپیژنو . افغانیزم حکم کوي ، چې څنګه د نورو د نباتي غوړیو په بدل کې د کندهار انار او د پروان انګور بهر ته دلیږلو وړ کړو او خپلې غالۍ د نورو د ماڼیو ښکلا وګرځوو...

تاسو یو ازې هغه مهال کولای شئ ځان د نورو له هراړخیز یرغله وژغورئ ، چې له احتیاجه د ځان خلاصولو اراده وکړئ او همداراز د یرغلونو په وړاندې په ملي سطحه د چاڼولو ځواک رامنځته کړئ ، موږ کمپیوټر غواړو خو د ځان جوړولو لپاره ، نه له سمې لارې څخه د وتلو لپاره ....

پایله :

- ټول ولس دې خبر وي چې موږ تر ټو اړخیزه یرغلونو لاندې یو
- له هر ډول یرغل څخه د ځان ساتلو لپاره ښایي پر ځان بسیا شو
- د دې ملي اراده باید رامنځته کړو ، چې له نړیوال پرمختیایي بهیر سره څه کوو ؟ څه ترې اخلو ، څه نه غواړو او څه ورکوو ؟ او په کوم زور یې ورکولای شو ؟
- خپل اقتصاد خپل سیاست رامنځته کوي او خپل سیاست خپل فرهنګ پیاوړی کوي ، خپل فرهنګ خپل اخلاق ژغوري او خپل اخلاق د نورو د بداخلاقیو مخه نیسي.

# دسولې ګدايي

تر ديرشو کلو ډيره موده کيږي ، چې د سولې ګدايي کوو ، کله يې له ختيز زبر ځواکه غواړو ، کله له لويديزه، کله يوه ګاونډي ته لاس نيسو او کله بل ته پلو غوړوو ، موږ لکه ډوډۍ ، جامې او څوکۍ ، چې له نورو غواړو ، د سولې په ګدايي مو هم خولې ستومانه شوې ،خو څوک يې نه راکوي داولې ؟ سوله چېرته ده ؟ او څوک يې موږ ته خيرات راکولای شي؟ دا پوښتنې مهمې دي، دومره مهمې چې زموږ هريوه ژوند ورپورې تړلی دی.

سوله نه له شوروي سره ده، نه له امريکا سره، بلکې سوله زموږ د ميندو په دعا کې ده او زموږه د پلرونو په فکرونو کې ده.

ګران لوستونکي به وخاندي ، زما خبره به ديوه ساده خبرې ورته وبريښي ، لوستونکی به دا هم وايي ، چې جګړه خو همدغو ځواکونو او ګاونډيو راوستې ده نو څنګه به سوله زموږ ميندې او پلرونه راولي ؟

خو ګرانه لوستونکيه ! که لږ ځير شو ، زموږ سوله همدغو پرديو له موږ څخه غلا کړې ده ، جګړه ددوی ده ، خو اسباب يې موږ يو ، ټوپک ددوی ده خو اوږه زموږ ده ، وژل کيږو موږ ، ګټې دوی کوي... ښه دا شکايت مو هم ډير تکرار کړی دی ، خو زه دلته هغه لومړنۍ خبره کوم ، چې سوله زموږ په کورونو کې ورکه ده او د سولې دګدايي لپاره ښايي خپلې کورنۍ ته ورشو ، دپلار لاسونه ونيسو او دمور پښوته کوز شو. دا زما عاطفي او شاعرانه ولولې ندي ، زه دجنګ او سولې ذهنيت له کورنيو پيليدونکی ګڼم ، ځکه په افغانستان کې ټولنيز واحد کورنۍ ده او د شخصيت دروزلو او ټولنيز وضعيت دجوړيدلو لومړنۍ روزنځی هم کورنۍ ده. موږ ډير ځله د کورنۍ په درلودلو نازيږو ، دکورنيو ارزښتونو په خوندي ساتلو وياړ کوو او لويديځوال راته بې کورنۍ ښکاري او ورپورې خاندو .
لويديځوالو د وګړي د رالوييدو ، ځوانيدو ، زړيدو او آن دمرګ لپاره ديوه مناسب بستر او چاپيريال په اړه فکر کړی دی ، خو موږ داسې نه کوو ، په موږ کې دا متل عام دی ،چې

ویې زیږوه روزي خدای ورکوي ا و زور یې زمکه اخلي... ښشکه چې روزي خدای ورکوي ، خو دی ( وګړی ) هم باید یو څه خواري وکړي ، او زور یې هم هر کله زمکه نه اخلي ، بلکې ډیره څله د داسې وګړي زور ، چې سم نه وي روزل شوی ، پر بل وګړي رائحي. هغه وګړی ، چې ټوپک یې رااخیستی وي او خلک وژني ، له یوه اړخه یې کورنۍ په دې جنایت کې ورسره شریکې دي ، هغه وګړي ، چې پر بل مسلمان ظلم کوي ، کورنۍ یې په ټولنه کې کوزګوري او شرمنده وي او هغه وګړی ، چې بل وګړی ور څخه ځوریږي ، خلک یې پر پلار او مور لعنت وایي ؛ دا زموږ د ټولنې عادت دی.

جګړه له همدې ځایه پیلیږي ، ټول هغه وګړي ، چې افغانان وژني ، د افغانانو ملي ارزښتونه لوټي ، هېواد ته تاوان رسوي ، پلار او مور لري او د غه میندې او پلرونه په مسئولیت کې شریک ګڼل کیږي. د جګړې او تاو تریخوالي ډک چلند باید د مور له خوا و مینځل شي او د سولې او په یوه ګټور انسان د بدلیدو شعور باید د پلار له خوا ورکړل شي ، په جګړو کې ډیر ماشومان بې پلاره او بې موره شول د دوی د سوله ییزې روزنې مسئولیت هر هغه څوک لري ، چې رالویوي یې او یا هم حکومت ښایي د هغوی لپاره ګټور پروګرامونه ولري.

د افغانیزم اړتیا :

د سولې ګدایي باید له کورنیو پیل کړو ، دا د افغانیزم غوښتنه ده ، د سولې لپاره یو ملي جهاد باید په هره کورنۍ کې را پیل شي ، یوازې دوه نسله که سوله ییز وروزل شي ، نو موږ له دې تاریخي ګدایي څخه د تل لپاره خلاصیږو ، ښایي هغه شمېر خلک ، چې د جګړې پر مشروعیت ټینګار کوي دا خبره ونه مني ، مګر د هغوی لپاره هم تر ټولو ښه جګړه همدا ده ، همدغه مشروع جګړه دوی هم خپلې موخې ته رسوي ، څنګه ؟ داسې:

تاسو دوه نسله په سوله ییزه روحیه وروزئ ، دوی په مثبتو او پیاوړو ، ګټورو وګړیو بدل کړئ ، چې هېواد پر خپلو پښو ودروي ، افغانستان پیاوړی کړي ، بیا نو داشته بهرنیان هم

په سیاست او منطقي زور ایستلی شي او په راتلونکي کې هم دتل لپاره افغانستان له هر ډول یرغل څخه ژغورلی شي ، د ماشوم په سوله ییزه روزنه کې د افغانستان دپیاوړتیا راز پروت دی ، چې بیا به هیڅ کافر یا مسلمان پر افغانستان دتیري زړه نه نه کړي ، موږ شخړه ییزې او ناسمې روزنې له پښو غورځولي یو ، خپلمنځي تاوتریخوالي دې برید ته رارسولي یو چې نن یو کافر رانتوځي او سبا بل ، زموږ کمزوري او له منطقي چلنده لرېوالی دی ، چې موږ په کرار نه پرېږدي . د سولې په راوستلو کې تر امریکا او پاکستانه دافغانې مور ونډه ډېره ده ، راځئ چې محاسبه یې کړو ، ټولو میندو ته سوال وکړو ، چې خپل بچیان له سنګرونو څخه کور ته راوګرځوي ، ټوپک ورڅخه واخلي او په یوې مړۍ ډوډۍ پسې یې واستوي ، زه قسم خورم ، چې په دوه ورځو کې سوله راځي ، که دغه جګړه مارنسل مو اوس له لاسه وتلی وي ، راځئ پند تري واخلو او درارونو نسلونو په سوله ییزه او عاطفي روزنه پیل وکړو ، بس د خپل ټول راتلونکي لپاره به مو جګړه نابوده کړې وي او داسې یو هوښیار ، کاري او معقول نسل به موروزلی وي ، چې هیچاته دافغانستان په چارو کې د مداخلې حق ورنه کړي او چې ددوی پر مټ افغانستان ودان ، ځواکمن ، پرمختللی او د سیالانو سیال وي ، نوبیا به نه پردي راځي او نه به موږ ته اړتیا وي چې خپل ټول عمرونه په سنګرونو کې تېر کړو .

حکومت ، رسنۍ ، اغیزمن شخصیتونه ، دیني علما ، دکورنیو انجمنونه ، د پوهنې وزارت ، دښځو دچارو وزارت او نور بنسټونه ښایي په کورنیو کې د سوله ییزې روزنې لپاره متې رابډوهي ،میندې باید خپلو زامنو ته دنویو اتلانو کیسې وکړي ، هغه اتلان چې ځوک نه وژني ، خو خپل هېواد ودانوي ، پلرونه ښايي دخپلو زامنو لپاره د سولې او ودانۍ موډلونه شي ، سوله پخپله راځي . پردي موږ ته سوله په خیرات کې نه راکوي ، د سولې خیرات له خپلو وغواړئ .

# ټولیز تلقین

اروا پوهانو دوګړنیز( فردي ) تلقین په اړه ډېر بحثونه کړي دي ، خو دټولیز تلقین اغیز هم ، دیوې ټولنې پر ژوند هماغومره دی ، لکه دوګړنیز هغه چې پر وګړي دی. راځئ ،د یوه وګړنیز تلقین کیسه درته وکړم ، وایي یوکس په خوب کې خپسکې ونیوه ، ګومان یې وکړ ، چې کوټه دومره راوړه شوې ،چې نور نو ده ته د سارا کښلو لپاره هوا نده پاتې ، دسړي ساه بنده بنده کېده او نږدې و خپک شي ، خولې پرې راماتې وې ، ناڅاپه یې په فکر کې وکړ چې کړکۍ پرانیزي ، نو هوابه راشي ، ورپاڅېده ، تیاره وه ، دکړکۍ لاستی یې ونه مونده ، ساه یې نوره هم بنده شوه ،وارخطا شو او ښیښه یې ماته کړه ، هوا یې کش کړه ،سږي یې ډک شول او بیرته څملاست آرام ویده شو... سهار چې راکښناست ، لمر راختلی و ، چې ګوري په کوټه کې دهنداري ټوټې پرتې دي ، دشپې کیسه ورپه یاد شوه، خو څه ګوري ، چې په دیوال کې یې دمخ کتلو هینداره ماته کړې ده ، کړکۍ جوړه روغه ده او دکوټې هوا هماغه دماښام هواده. اروا پوهان وایي ، چې سړی په خوب کې تلقین شوی و ، چې هوا خلاصه شوې ده او کله یې چې هینداره ماته کړه بېرته تلقین شو ، چې هوا راغله ،دده دارګانیزم دواړه غوښتنې رواني وې نه جسمي ، هوا ته اړتیا او دهغې پوره کېدل دسږو اړتیا نه ، بلکې دلاشعوري اختلال له امله وه. ټولیز تلقین هم ټولنه همداسې بحراني کولای شي ، زه له همداسې یوه حقیقت سره څو شپې مخکې په یوه مېلمستیا کې مخ شوم ، دکلیوالو یوه مېلمستیا وه، په هغې کې د سپینږیرو او مشرانو تر څنګ څو پاخه ځوانان هم و ، یو یې سلیم نومیده ، دخبرو پرمهال پوه شوم ،چې دسوداګرۍ او تولید یو وړوکی کاروبارلري ، کومه تولیدي کارخانه یې جوړه کړې او ژوند یې هم بد ندی ، داسړی له څو اړخونو په زړه پورې و ؛ ځواکمنه اراده یې درلوده ، لوړې زدکړې یې نه وې کړې ، خو په ولسي ژبه ډېر فصیح او بلیغ غږېده ، په خبرو کې یې ځواکمن منطق لیدل کیده او ډېر ژر یې دټول مجلس روان باور په بل مخ واړاوه او ټول یې دې ته اړ کړل ، چې خبرې یې ورسره ومني ، خبره په دې

کې وه چې ټولو شکایت کاوه: بهرنیان به ووځي ، ګاونډیان به بیا دلته اندېوخر جوړ کړي ،بس داد افغانستان قسمت دی ، داوطن والله که جوړ شي ، ټول خلک بهر ته روان دي ، زمکې او کورونه بېرته ارزانه شول ، کاروبار ولاړدی او......

سلیم دا هر څه اوریدل ، خو په یوه مناسبه موقع کې یې په خبرو پیل وکړ:

وه وروره کله چې موږ پخپله وایو چې نه جوړیږي ، نو داوطن به څنګه جوړ شي ؟ راځئ یوځل ټول ووایو ، چې نه داوطن جوړیږي ،نو په خدای ، چې جوړیږي. زه خو وایم ،چې ګاونډیان پخپله دورانۍ خواته روان دي ، بس تاسو بېغمه اوسئ وطن به داسې جوړ شي ، چې پوښتنه یې مکوه یوازې تاسو خپل فکر بدل کړئ او سر له همدې نن څخه هر یو بل ته وایاست ،چې انشاالله وطن جوړیږي...

سلیم دخپلو خبرو لپاره بېشمېره دلایل راوړل ، خپل ځان یې وښود ،چې څنګه یې له هیڅ څخه پیل وکړ او اوس په یوه سوداګر بدل شوی دی ، ده ویل بېشمېره ستونځې یې لیدلې دي ، له فاسدو مامورینو سره مخامخ شوی دی، دیوه لاسلیک لپاره یې اونۍ اونۍ منډې کړې دي ، خو ناهیلی شوی ندی او بالاخره یې کارخونه جوړه کړې ده او اوس سل کسه افغانان پکې بوخت دي ، سلیم وویل: له ما سره پوښتنه همدا وه ،چې ولې یې پاکستانی او ایرانی کولای شي او زه یې نشم کولای؟ ده وویل ما چې له هرچا سره خبرې کړې دي ،چې ولې افغانستان نشي جوړیدای ؟ دلیل یې نه درلوده.

د سلیم خبرې اورېدې وې ، خو ماور څخه همدومره زده کړل ، چې دافغانیزم یو اصل دادی ، چې ټولیز ذهنیت باید په مثبت او رغنده تلقین سره ترمیم کړو ، منفي ټولیزو تلقینونو سره مو دټولنې بیخ ورایستلی دی ، ټول مو بې ارادې کړي دي ، منفي تلقین ټولنه له دننه څخه لکه موریانه خوري او موږ پخپلو لاسونو ځانونو ته قبرونه باسو. که اته ویشت

میلیونه وګړي ددوه ورځو لپاره فکر وکړي ، چې هېواد یې جوړېږي او د همدوی په لاس جوړېږي ، نو دغه باور به یو ملي فکري بدلون ته لاره هواره کړي داسې باور ، چې اوس مو په لوی لاس شړلی او تبعید کړی دی. داسې باور که سل په سلو کې ریښتینی هم نه وي ، کولای شي موږ له مرګه وژغوري ، که کړکۍ نه شو خلاصولی نو راځئ د دیوال هینداره ماته کړو او ساه راوکاږو ، هوا به رانشي ، خو موږ به له مرګه ځان ژغورلی وي ، داځکه چې د افغانستان د نه جوړېدو فکر هماغو مره دروغجن دی ، لکه د هغه سړي خوب چې دروغجن و ، هغه فکر کاوه ، چې په کوټه کې دده د ساه کښلو لپاره هوا نشته ، حال دا چې هوا وه ، خو دی ناسم تلقین شوی و. موږ له همداسې خپسکې سره مخامخ یو ، افغانستان د جوړېدو لپاره هرڅه لري ، خو موږ د دښمنانو رواني جنګ داسې تلقین کړي یو ، چې ګواکې دا وطن نه جوړېږي راځئ هینداره ماته کړو او ووایو ، چې نه !! جوړېږي ، په خدای قسم ، چې جوړېږي.

دا تبلیغات ، چې نه جوړېږي ، د ښکېلاکګرو رواني جګړې یوه برخه ده ، د دښمنو ګاونډیو د استخباراتو د سیسه ده ، حقیقت نده.

ستونځې شته ، خنډونه هم ډېر دي ، خو د دې ستونځو او خنډونو له منځه وړلو لارې هم ډېرې دي ، هغه سړی که له بستره نه وای پاڅېدلی او هینداره یې نه وای ماته کړې نو مړ به و.

راځئ د دې ناسم باور هینداره ماته کړو. یوه موده د شکایتونو د پرسولو پر ځای ولس ته د باور ورکولو هڅه وکړو ، ولس تلقین کړو ، چې دوی هرڅه کولای شي او دا هېواد تر بل هر هېواده ښه جوړېدلای شي ، یوازې د سلیم په څېر اراده غواړي او د سلیم باور ته اړتیا شته ، په منطق او عقل د سلیم په څېر د اکثریت منفي باور په وړاندې یو معقول مقاومت په کار دی او ټول په دې قانع کول پکار دي ، چې د دروغجن باور هینداره باید ماته کړو.

رسنۍ ، په رسنیو کې ناست کارپوهان ، ښوونکي ، ديني علما ، میندې او پلرونه ، هنرمندان او لیکوالان ښايي دیوه ملي کمپاین په بهیر کې دغه باور رامنځته کړي ، چې: که افغانان وغواړي او کار وکړي ، نو افغانستان جوړیږي. همدغه اغیزمن لوري لږترلږه موجود دروغجن باور له منځه وړلای شي ، چې د پردیو دسیسه ده او خلک يې پر ځان بېباوره کړي؛ ګواکې د اوطن ازلي بدمرغه دی او د جوړېدو وړتیا نلري ، هغوی چې د اسې باور خپروي ، په وطن کې زهر شیندي ، راځئ اته ویشت میلیونه دروغجنې هینداري ماتې کړو ، ژوره ساه وباسو او کارپیل کړو ، یوه یوه مثبته هڅه وکړو ، یوه اونۍ وروسته وګورئ ، چې افغانستان جوړیږي که نه ؟

# اشرونه

اشر دعربي ( حشر ) مفغن دی، چې دراټولیدو په لغوي او دګډ کار په اصطلاحي مانا دلالت کوي. اشرونه دانساني ټولنو په تېره بیا دافغاني ټولنې یو لرغونی دود دی، ډیرځله په کلیو کې پلونه ، ویالې ، لویې لارې،جوماتونه ، درمندځي ، کاریزونه او نورټولګټې بنسټونه په اشرونو جوړیدل ، اشرونو به خپل ډول درلوده او داشرونو لپاره ځانګړي سیمه ییز قوانین رامنځته کېدل ،چې خلکو به دهغو په مرسته داشرونو نظم او پرمختګ ثاره ، اشرونه یوازې دکار دپرمختګ لپاره نه، بلکې دولسونو دیووالي ، همغږۍ او ګډو هڅو لپاره هم ګټور وو ،هر ه هغه شتمنۍ به چې په اشر جوړه شوه ، ټولو به یې په ساتلو او پاللو کې ونډه اخیسته او هرچا به په کې دخپل ځان یا کوم خپلوان دزیار نښې لیدلې. له انقلابونو سره داشرونو جوش او خروش کمرنګه شو او دډولونو غږیې خپکۍ ونیوه ، اوس به هم هلته او دلته اشرونه کیږي ، خو ډېر ځله یې ځای دموسسو ، حکومت یا خصوصي سکتور ناکامه هڅو نیولی دی ، چې دسیاستلوبو بوی لري او دپردیو له پیسو څخه خړوبیږي ، دغه هڅې د وهنو ، غلاوو ، فساد او شوکو نښې ګڼل کیږي ، چې خلک یې خپلې نه ګڼي ( هېره دې نه وي ، چې دوطن دودانۍ هره هڅه د لمانځنې وړ ده او په هره داسې هڅه بنایي له منفي لیدلوري او نیوکو ډډې ونه شي ، او بنایي دهغو پاکو او ګټورو پروژو قدر وشي ،چې دخلکو ستونځې یې وراسانه کړې وي. )

له دې ټولو سره ، بیا هم داشرونو بیا راژوندي کول اړین دي ، زما په نظردافغانیزم یو اساسي بنسټ داشرونو دود راژوندي کول دي ، په رغونه ، بیارغونه ، سیاست او ان په پریکړو کې.

ولې اشرونه مهم دي ؟

- لوی کارونه لوی بشري ځواک ته اړتيا لري ، او اشرونه داسې لوی بشري ځواک رامنځته کوي.
- موږ يوه جګړه ځپلی هېواديو او هر جګړه ځپلي هېواد دلويو اشرونو زمانې تيرې کړې دي.
- اشرونه ، خلک پر خپل متې ډاډمن کوي او نورو ته له تمې څخه يې ژړه صبريږي ، موږ يا حکومت ته په تمه يو ، يا موسسو ته يا بهرنيانو ته ، حال دا چې:

کس نخارد پشت من            جز ناخن انگشت من

- هره هغه شتمني ، چې د خلکو په زيار او خولو جوړه شوې وي ، همدوی يې ساتنه کوي او دبيا ورانۍ مخه يې نيسي.
- اشرونه خلک له کاهلۍ او سستۍ څخه ژغوري، دا شعور عاموي ، چې دژوند دشرايطو دښه والي لپاره بايد کاروشي.
- دخلکو دکار مهارتونه پياوړي کوي ، په تيره بيا دځوان ځواک لپاره دزدکړې او روزنې تر ټولو ګټور روزنځای دی.
- حکومت تنګوي ، چې له خلکو سره په راپيل کړي کارکې مرسته وکړي.
- حکومت پوهېدای شي ، چې دخلکو لومړيتوبونه څه دي او ، څه ته اړتيا لومړنۍ ده؟
- دخلکو تر منځ مينه ، باور، صميميت زياتوي او دګډ کار روحيه پياوړې کوي.
- ټولګټې بنسټونه او دټولګټو ځايونو په رامنځته کېدلو سره ريښتيني توليد او په پايله کې د اقتصادي څرخ تاويدو ته لاره هواريږي.
- له خلکو سره دسيمې او هېواد دمالکيت فکر پيدا کيږي او دحب وطن غريزه ځواکمنوي.

- دپردیو له پېغوره مو خلاصوي ، چې افغانان کار نکوي او له جګړې پرته يې بل څه نه زده.

خو دا اشرونه به څنګه پیلوو او په کومو شرایطو به یې پر مخ بیایو ؟

- تر هر څه مخکې د اشرونو دګټو په اړه عامه پوهاوي ته اړتیا ده ، چې کلتوري بنسټونه ، مدني ټولنې ، مخور ، دیني علما ، قومي مشران او کورنۍ یې ښایي تر سره کړي.
- حکومت هم دخلکو په هڅولو او له هغوی سره اوږه په اوږه کارکولو سره کولای شي په دې بهیر کې ونډه واخلي.
- دحکومت لویه ونډه به داوي ،چې دملي پلانونو په رڼا کې دا تشخیص کړي ، چې چېرته ، او څنګه ښایي اشرو شي ، هیڅ بنسټیز کار ښایي دملي ماستر پلان په لاره کې خنډ نشي ، حکومت چیرته او ولې پول جوړول غوره ګڼي ، دجومات او لارې ځای چېرته دی؟او داوبو ویالې له کومه ځایه تیریږي ، داوبو وار څنګه دی او دهر کار رسمي او حقوقي وضعیت څه دی ؟ په دې برخه کې باید حکومت له خلکو سره مرسته وکړي.
- داشر دودیز لوبې ،لکه: ډول ، نغاره ، غړونه ، اتڼ ، ویش ،چار یک ، ده یک ، یک برسه ، بېکسي ، ناغه ، رسۍ ، وجهه او نور راژوندي شي.
- داشر موسسې دې دایمي شي او یوازې په فزیکي نه، بلکې په معنوي او سیاسي بیارغونې کې دې هم کار ورڅخه واخیستل شي.
- داشر دود دې له کلیو څخه ښارونو ته راوغځیږي او ښاري ټولنې دې هم له همدې لارې ټولرغاونه پیل کړي.

دافغانیزم په لړۍ کې دملي ، سیمه ییزو او کلیوالو اشرونو په اړه د پراخ بحث لپاره ستاسو نظرونو ته هم سترګې پر لار یو.